# د ګل پاچا الفت خبري

د الفت خبری



Ketabton.com

**مهتمم: دوکتور عبدالرحمن الفت**

غربی آلمان

لیکونکی: دوکتور میر ابرار کمال

د زمری میاشت ۱۳۶۷ هجری شمسی کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست


د ٍالفتٍ خبرې........ 1
د حــق رڼـــا ........ 1
پروردګاره! ........ 3
خیرالبشره!........ 5
رحمة اللعلمین........ 9
د حج الهام ........ 10
دزړه مضمون........ 14
د کربلاالهام........ 15
سترګه دسبا یمه........ 23
قهرمانه پیغله ........ 24
پـــیــر ........ 25
مـلی حــمـــاسه........ 26
وطـــنه........ 27
ګل پرسته ........ 32
تــــلـــوسه........ 33
مړی ژوندی........ 35
د مور مینه........ 36
مورې!........ 37
قدراومقدار ........ 40
صاحب ........ 42
سبک نظر ........ 43
مساوات........ 44
مانیجن........ 46
نن او پرون ........ 48
د زړه دنیا........ 48
څه کیږو؟ ........ 49
سیاست........ 50
سرنوشت........ 51

(c) ketabton.com: The Digital Library




بی جلبه زور ........................................................................ 52
ملی شوری ۱۳دوره ........................................................................ 53
د خان مهربانی........................................................................ 54
پالیسي ........................................................................ 56
زه او دي........................................................................ 58
ترقي او تمدن........................................................................ 59
څه جوړیږي؟ ........................................................................ 61
بي چله اوناچله........................................................................ 63
رنا........................................................................ 63
قبیله پرستی........................................................................ 64
د شوری فضا ۱۳دوره........................................................................ 66
په چاپسي ځی؟........................................................................ 68
نه گورم ........................................................................ 69
دروغ او رښتیا........................................................................ 70
د درگاه سپي........................................................................ 71
زندان ........................................................................ 74
د محیط تاثیر ........................................................................ 77
د دهقان درس ........................................................................ 78
چا څه راوړه او چا څه........................................................................ 80
په ښکلا مین........................................................................ 82
څلوریځی........................................................................ 83
څلوریځی........................................................................ 84
لغمانی ........................................................................ 114
که پیداشي........................................................................ 129
په داسي حال کښی ........................................................................ 130
ښځه........................................................................ 131
دلبر او ستمگر ........................................................................ 134
په غلا غلا کتل ........................................................................ 135
د میني او ښکلا نجوی........................................................................ 136
د ژوند مرثیه ........................................................................ 137
زړه او ضمیر ........................................................................ 138

(c) ketabton.com: The Digital Library



زر.......... 138
د ژوند د ستور .......... 139
د عشق جنون.......... 140
حسن او نظر .......... 142
اولواالابصار.......... 143
خبرنه و .......... 148
اقتدار.......... 149
مزدوری سترگی.......... 151
ملی قدرت.......... 152
محّمد(ص).......... 153
پا که مینه .......... 157
رسم رواج .......... 158
بابا.......... 161
ښامار .......... 161
د غریب گیلی.......... 163
حاضر جوابي.......... 165
ځوک څه پوهیږی؟ .......... 166
د محمد(ص) تعلیم.......... 167
د محمد(ص)عرفان .......... 168
د اسلام آغازاوانجام.......... 170
په ځان مینه!.......... 173
محیط اوانسان.......... 175
عمل اوعکس العمل.......... 176
سوټي .......... 177
خپل او پردي.......... 178
د شاعرترنم.......... 180
امیدونه راژوندی کړه.......... 181
د عصر دلبره! .......... 182
جوی انقلاب.......... 182
نوی گل.......... 184
آزادي .......... 185

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلواکي ........................................................................................................................186
زما وصيت ......................................................................................................................188

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

## د ٍالفتٍ خبرې

د زړه خبرې د الفت خبـرې
د عقل اوفکرد حــــیرت خبـرې

د محبــت له حـرارت نه پیدا
د ویېښ احـساس دبصیرت خبرې

دحـق رڼـا د روح نجــوالـري
دعـشق نغمه د معرفــت خـــبرې

راغلی دنیا ته دالهام لـه لاری
دلوړاوښکلی حقـــیقت خــــبرې

د کارخبری د اِلفتٍ کــــاردي
هـروخت په کاردی دالفت خـبرې

## د حـــق رڼـــا

له وهم وخـــــــــــیاله! اودعقل تصورنه بهر

چـــــــــیرته چه نه رسیږی هیڅکله د علم نظر

لـــــــــه دې عالمه ماوراء زمان مکان نه جلا

تـــــــــولو رنګونوصورتونوکم و کیف نه سوا

د حـــــــــق رڼا کړی تجلی چه ئې ایمان وینې

عـــقل پوه نه دي چه یې څنګه په څه شان وینې

خدایه! تانشي پیــــــــــــژندي زمونږ قلیل علم

داپه علت ،معلول ولاړ زمونږعـلیــــــل علم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ړانده پوهيږی چه لــمر شته دي مګر لمرنه ويني

سحرله خوبه راپاڅـــــــــيږی خوسحرنه ويني

ګونګ شونډی ويني چه خوځيږی خوخبره ناوری

کاڼه ته يو څه ووايو اوهغه بل څــــــــه اوري

دغســــــــــي مونږهم د ړندوکښو په لاريو روان

مـــــــــــونږ له مکانه وتي نشو اوته يې لامکان

ښاپيرک کله دغه د لمر خـــــپله رڼا کښي ويني

د لمر رڼا بس د ســــــپوږمۍ په تجلا کښی ويني

مونږبه لاڅه يو زمونږ عـــــلم اويقين به څه وي

يوه مــــاشوم نه د بلوغ په باب تخمين په څه وي

نوروکښی وينو هغه څه چـــه ئې په ځان کښی وينو

د خپل غلط قياس عــکسونه پـــــه جهان کښی وينو

په آئينه کښی ماشـــــومان تــــصوير دځان ګوری

کوي باورچه واقعي نــــــورمــــــــاشومان ګوري

ډير مجهولات شته چـــــه انسان لاپيـــژندلی نه دي

د غيب پردو کښی ډير څـــــه پټ دي چا ليدلی دي

ډير څه موومنل هـــــــــغه وروسته غـــلط وختل

ډير څه مورد کړه چه نن عـــلم او حکمت ومـــنل

زمونږ مننه زمونږ رد زمـــــونږانکارغــــــــلط

څه اعــــــــــــتبار لری زمـــونږه اعتبار غلط

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا معـــــــــــرفت ته د بـــشر عقل رسیږی کله
دانســــــــــــانی فکر لباس په تاجـــوریږی کله
اهل عـــــــــــرفان په تضرع(( ماعرفناک)) وائی
مونږ هغه حـــــمد کله ویلی شو چه تاته ښـــائی

## پروردګاره!

پیدا دې کړه پـــــــــسونه هم لیـــــوان پروردګاره
د ښوبدو خـــــــــــــالقه!هـــــم رحیم اوقهارره
پسونه شکرکاږی چــــه ګیاه دې کــــــړه زرغونه
لیوان دې ثنا وائی چــــــه پیدا دې کـــــړه پسونه
خیالی زرکه دې ستائی چـــه احـــــسن الخالقین ئې
صیاد،بازاوبابښه وائی چـــــه خــــیرالرازقین ئې
یزید شکر ګـــــــزاردي چــــــــه فاتح د کربلادي
حسین کوي ډیــــرفخر چـــــــــه سیدالشهدأ دي
شاهان دې کړه سرلــــــوړی د دولـــت په تخت وتاج
شاهي تاج نه دې تـیـــښته کـــړه ادهم لره معراج
ګوډوائی شکر خـــــدایه چــــه دوه سترګی غړومه
ړوند وائی ډیره ښه ده چـــــــــه نـــادودې نه وینمه
ګونګی د حال په ژبــــــه شکر شکر کــــښی دا وائی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګونګ ښه يم چه دروغ نه وايم غيبت نه راته ښـــائيی

په هرحال دې راضي ی‍ـــــــــــــولروصبر د ايــوب

قصه موهيره نه ده د يـــــــــــوسف اوديعقوب

يومياشې بل هاتی کړی ځـــينی لوی ځينی واړه

لويان دې کړه خوړونـــــکی او واړه ورته خواړه

په نس کښی د ماهی ژونـــــدی ساتلي شی انسان

چه ته ئې ساتې ربه! نه غــــــرقيږی په طوفان

د تيغ خوله دې کړه بنـــــــده په مرئ د اسمعيل

په سره اور د نمرود کـــښی دې ساتلی دی خليل

هاتی په زمکه پريــــــــووت ابابيل چه په هواشو

مشکله نه ده تاته د شــــــــــداد وژل په مياشو

قادره! ذوالجلاله !ئـــــــــــــــی فعال مايريد

که ستا اراده نه وای څـــــــــــه کولی شو يزيد

بې ستاله ارادې نه هيـــــــــــڅوک نشی کولای

نه څوک شی ښه کيدلی اونه څوک بد شی بديدلی

بلبل دې نغمه خـــــوان ګل وګلزارباندی شيدا کړ

کارغه دې د بدبــــــــــوی مردارخوړلوته پيداکړ

د شاتو په مچيو جـــــــــــــوړوې خواږه عسل

د مارلړم په نيش کښی لــــــــــری زهر د اجل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دردونه ستا له خـــــــوادې دواګانې ستاله خوا

شیطان دې پـــــــــــیداکړی د آدم ته لاپخوا

څوک نشی پوهیــــــــدلی ستا کړوپه حکمتونو

موسی لا خبرنه و ستـــــــا د خضرپه کارونو

قاصراومقصر دی خـــــــــــدایه علم د بشر

دغیب پردوکښی پـــــــټ کله لیدلی شی نظر

ترڅـــــو علم محدود وي په زمان اوپه مکان

بعید به وي امکان پیــــــــــژندل دلامکان

## خيرالبشره!

رحمة اللعلـــــــــــــمین خیرالبشره!

دکامل انسانـــــــــــیت اصلی مظهره

ته نه وی پـــــه جهان کښی رڼا نه وه

دادراک اوشعـــــور سترګوبینا نه وه

تاکړه ورکـــــــــه هغه توره ترږمۍ

چه نه لمر شوه ورکـــولی نه سپوږمۍ

سرېتوب ورساوه تـــــــــــا ترمعراجه

فرعون دې کړه راکــوزه له تخت وتاجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



فقیران اوحــقیران دې عـــــــزیزان کړه

سرکشان دې پخپل ځـــان پورې حیرام کړه

انسانی کرامت تـــــــــاراوړانـــسان ته

بشري وروري دې راوړلـــــه جهـــان ته

په عالم کښــــــی دې پیدا نوی نــــظرکړ

چه قادردې په لیـــــــدو د خـــیر وشرکړ

جوړدې کـړله ملتــــــــــونو یـــو ملت

د توحـــــــــــید د کلیمی په بــــرکت

د خدای کور کـــښی دې پرینشودل بـــتان
مشرکان دې کـړه د یو خــــداي بندګان

د سړیو جــــــــوړول دې لـــوی هنر و

که نه ! یونـــــــوم د بـــوجهل او عمر و

ډیر بې لاری دې روان په ســـمه لارکړه

ناپوهان دې پوه په حق دمور اوپـــلارکړه

د یتیم د اوښکوقـــــــــــدردرســـره و

د پیرزونظر دې تـــــــــل په بیـــچاره و

انساني حقــــــوق دې ښځو لره ورکـــړه

د عزت ټیکری دې کونډو ته په سر کـړه

عـدالــت دې د تـقـــواجزٔ وبـــــــــالـه

مساوات دې پــــــــه عمل کښی وپالــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



که مسجد دي جـــــــوړاوه که خندوقونه

کړه دي نوروســــــره سم مشکل کارونـه

غزاګانو کښی له هـــــــرچانه صابر وي

په جهاد کښی په شخصاً خپله حاضــروي

مشکلاتوکـــــــــــښی له هر چا مستقـیم

خدای درکړی لــــوی دولت خلق عــظیم

مړوی که څـــــوک یوازی تش نــــسونه

تامړی کړي وړی سترګی وړی زړونه

موالی دي کـــــــړه سرلوړی په ایمان

د خپل کـــــــورسړی دي وباله سلمان

زید غلام و په قـــــــریشودي افسر کړ

د ده ځوی دي اســـــــامه لامتعبر کړ

په هغه لښکـــــــر دي کړلو قوماندان

چه عمر او ابــــــوبکر ئی وسپاهیان

نه پیدا په اسامه کـــــــښی شو غرور

نه اخلاص کښی د عمر راغی قصور

ابــــــــــوبکر خلیفه د خپل زمان

په جلب داسامه کښی شــــــــوروان

دینه لـــــــــویه معجزه نشته ده بلـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوده پته لـــــــــــه نظره د غافله

تابدل كـــــــــړه معيارونه هدفونه

لوړدې كړه له ټيټي سطحى نظرونه

ډير و خلكو تــــــــه ببنلې تا غنا ده

لوى بخشش دې لــــه غنا ن استغنا ده

دا دنيا وه ستـــــــا اصحابو ته حقيره

پادشاهى به ځـــــاريده ســتا له فقيره

تا دواكـــــــــــړه د بــشر زاړه دردونه

وردې كړه د خير احسان عفوى درسونه

پوه دى كړلو په خـــــــوړلو د خپل قهر

په ظاهره كبنى كــــه تريخ دى لكه زهر

قهرمونږخوري كــه ئې مونږنشوخوړلى

عفوه هغه كـــــــړى چه قهرشي زغملى

احسان نشي كړى چه قهرپرى غالب وى

قهرجن سړى د ځـــــان كله صاحب وي

تا صاحب كـــــــړمسلمان د ښه تهذيب

مؤاب دي كـــــــــړ په احسن التاديب

جوړ دې نكــــــــړله مسلمه تش عابد

ورنه جـــــــــوړ دى كړ قايد او مجاهد

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواب ـــ حیوانات

ځوک دی نکـــړه استعمال لکه دواب
پیروان دی خـــپل بللی دی اصحاب
له صاحبه نه ښـه خطاب نشته هرګوره
راشه! پـیر مرید ددې زمـــانی ګوره
مسلمان اوس د پــــیرانو بندګی کړی
لا یونیم ځانته نسبت د پیر د سپي کړې
ډیرافسوس دی نن په حـــال د مسلمان
څومره ټیټه مرتـــــبه شوه د ایمان
چیرته هغه مسلـمان او چــــیرته دا
چه یزید ئی شـــــو امام او مقتدأ

## رحمة اللعلمین

رب العلمین دې رحمـــــــــــة اللعلمین ګڼي
نلری ثانی چه دې خــــــــــاتم النبین ګڼي
ډیر خلک دې وایستل تـــــــیارونه درڼا لورته
ستا لاس کښی رڼا مسلمانان نـــــور الیقین ګڼي
ته په مومنانو مهربانه له هــــــــرچانه وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه دې رؤوف رحيم ارحـــــــــــــم الراحمين ګڼي
ستا خلق عظيم خوپه قران کښی خدای ستايلی دی

نورخلک لاڅه چـــــــه مشرکان دې هم امين ګڼي

ډير دې له دوزخه ګـــــــــرزولی د جنت لورته

ښائيی درسره چـــــــــــــه دې شفع المذبين ګڼي

تا مسلمه پـــــــــه بعث بعدالموت باندی مومن کړلو

نه مــــــــــــري مومنان آب حيات د اسلام دی ګڼي

غيب تـــــــــــــــه دې نظر متوجه د مومنانو کړ

ځکه حيـــــــــوانی نظر سطحی اوظاهربين ګڼي

دې دنيا نـــــــــه ښه د بله دنيا ځان ته مومن لری

هلته مومن هرڅـــــــــه لري کله ځان مسکين ګڼي

بارد دنيا هرڅومره کـــــــــه سپک وي څه پروالري

تله د عمل يی کـــــــــــه درنه وی ځان سنګين ګڼي

ستا منيه مې بس ده چه له ځان سره يې خدای ته وړم

ستا رضاً الفـــــــــــــته رضأ د رب العلمين ګڼي

دواب -- حيوان

عما مه -- لنګوټی

## د حج الهام

مختلف او مخالـــــــــف بيل بيل قومونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه تړی د حـــــــج د پاره احرامونه

له قومی لباسه هــــــــر سړی بهرشي

د هرچا په تن یــــــولنګ اویوښادرشي

کلتوري اخـــــتلاف لاړ شی له نظره

شاهي تاج شاهي خــولۍ لویږی له سره

نه چلتارد چـــــا په سر نه عمامه وي

د افغان عــــرب اوتــرک یوه جامه وي

تورسپین عــــرب عجم سره یوشان شی

د واحـــــد ملت مفهوم ډیر ښه عیان شي

ځی طواف ته ټول په ګډه د خدای کورته

بیا په ګډه شـــــــي روان د صفا لورته

ګډه سعیه کـــــــوي هغه او کــه داوي

په یـــــــوه لاره روان شاه و ګداوي

د هرچا ځـــــــاي شي مقام د ابراهیم

دهرځــــــــــاي مسلمانان پکښی سهیم

په یوه ژبه هـــــــــــریووائیی لبیک

هریوبل ته وائیی الـــــــــسلام علیک

واړه وائیـــــــــی لاِالـــــــــــهٔ الاالله

واړه بولـــــــی محمد رســــــــولاالله

(c) ketabton.com: The Digital Library



واړه یوپـــــــــــه کلمه دي د توحید

په وحدت کښی ئی نه شک شته نه تردید

هدف یود مسلـــــــــــمینو د جهان دي

چه په کانو ئی هرڅوک ولي شیطان دي

په رښتیا چه یـــــوامت او یو ملت دی

محمد او ابراهیم تـــــــــه ئی بیعت دي

ټول والاړ یـــــــوي قبلي یوه محبوب ته

که ئې مخ وی شرق وغرب شمال جنوب ته

یوجهت دي څــــــــــــلورواړه جهتونه

په هر لوري یـــــــــو شی وینی نظرونه

د شرقي او غـــــــــــربي قبله یوه ده

پتنګان له هـــــــــري خواډیوه یوه ده

نه شقاق شــــــــته نه نفاق نه اختلاف

معصوم دي د نـــــــراو ښځی ائتلاف

لا رفث لا فـــــــــــــسوق لا جدال

د حاجي او حـــــاجې دي وصف الحال

هیڅوک نه دی بــې احرامه ټول محرم

مخ دي لوځ ځـــــکه چه نشته نا محرم

ډیرلوی درس دي د اسلام حج او عمره

(c) ketabton.com: The Digital Library



که شعورفکـــــــــرونظروی چا سره

سم شعورپیـــــــداکړه مشعرالحرام ته

د زړه سترګی غـــــړوه باب السلام ته

زمزم رازد یـــــومشرب دی د اسلام

د خلیل او محمد خیـــــــــــرالانام

په حجراســــــود ږده د سترګوتور

په سواد دمعــــــرفت د خدای د کور

خاوندان د جواهــــــــرواو الماس

کړی دي کانی ته ســـرټیټ په التماس

خاتمه د حج ایــــــثار او قربانی ده

مال ښندل نفس خـــوارول مسلمانی ده

صفا رمز د شعـــــــائرودی هرګوره

په ظاهر نظر مـــــروه منا مه ګوره

حرکت سعیه د حج صحیح دستور دي

معرفت د عرفـــات اصلی منظور دي

هلته هرژوی لـــــه زیانه په امان دي

کان امنــــــــا د دي مقام احسان دي

لاضررلا اضـــــــــرار فی الاسلام

د اسلام تعـــــلیم د ی دا نه تش سلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاجي مه وړه جای نماز تسبې سوغات

دی د ورلــــــــــو الهامونه حسنات

پس له حجه دې که ښه شوه کړه اوره

په رښتیا د ې بیـــت الله نه څه ودوړه

## دزړه مضمون

اندیښنی می چه په زړه کی لکه لال په جګر خون شی

پس له ډیرو زړه چا ودونو د رنګین شعرمضمون شی

زړه ته نورڅه پاتــی نه دی تول په شــعر اوبه شوی

دشاعرزړګی چه شین شی د ادب ګلان زرغون شی

هنرغواړی زړه چا ودونه او د زړه په ویــنو پـــا ئی

دغوټۍ د زړه مضمون خود لوستو په زړه چاودون شی

طوفــــانوتـــه دی پــټ شوی د قلــم هره قطره کی

د اشـعا رو بــحر ګوره سترګو رو د ته جیحون شی

شخصیت ورو ورو لوییږی خلک ډیروروسته پوهیږی

دا د نن ورځی شاعر به پس له مرګه افلا طون شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کربلاالهام

کله کله تــــوره شپه کی فـــــــضا ډیره ظـلمانی  شی

بحرانی مهـــــــــیب حالت وی هوا ډیره طـوفا نی شی

توری وریځی راخپری شـــی پکی ورک شـــی اسمانونه

آپتونه راوریږی خطرنــــــــــــــــــــاک شی بارانونه

سیلابونه راروان شی ســـــــــــراومال وي په خطرکښی

اضطراب وحشت اوډاروی زړه کی سترګوکی په سرکی

سیاسی  فضا   شـــی خـــړه تنـــدریزه او مهــــیـــــبه

ډارحاکم فـکرمحکوم وی ژوند بی خونده بد نصـــــیبه

ابوالهول یزید پـیدا شی  چه د خلـکو باســــــــی زړونه

ورســره   په کربـــــــــلا کی یـو بــــــلا مصیـــبتونه

هیبتونه دهــــــــــشـــتونه مسلــــط  وی پــــه هر چا

هرسړی وی ورخــــــطا چـــــــــــه مهـــیبه وی بلا

هره خواوی تورتـــــمونه عــقل فـــــــــــکروی حیران

چاره ورکه وی هـــــــــــرچاته بیچاره ښکاره شی ځان

نشاط نه وی په حیات کی دخنداقحـــــــــطی ګرانی وی

عــــــــــذابونه عتـــــابونه فـشارونه مــــــجانی وی

مایوسی پریشانی وی خـــــــــــوښی نـه وی په عالم کی

بلبلان باغ کی کـــــــــــړیږی وی اورونه په شـبنم  کی

دغضب حکمرانی وی خـــــــــوله خندا ته نه جوړیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرساعت ئې قيامت وی هـــــــــريوزړه کی پټ ژړيږی
هيڅوک هيڅ نشی ويلی جـــــــــرئت سلب شی له هرچانه
جهان هرچاباندی تنګ شـــــــــی له هرلوری هری خوانه
داسی ډيربد بد حالـــــــــــــتونه په انسان باندی راغلی
زلزلی اوطـــــوفانونه پـــــــــــه جهان باندی راغلی
په همداسی سخت ساعت کی پيـــــــداشوی لوی کسان دی
چه ځان نه سپاری طوفانوته اوســــــــپريږی په طـــوفان
د طوفان په سر نوح کـــــــينبود د بشر د بـــقا پنډ
د تدبير عزم په مخکی طـــــــوفان کله ګرزی خنډ
که هرڅومره لوی طوفان وی عــــمرئې لنډ لکه ظالم وی
د نوح عمرئې نصيب شی چه طـــوفان باندی حاکم وی
خاوندان د ارادو تــــل په جرءت مومی نجا ت
له خطر سره جنګونه حقـــيقت دي د حيا ت
نمرودان سوزوی اور کی که د عصر ابراهيم
حق پا لونکو ته نه ښـــائی چه با طل ته شی تســليم
که يزد نوم په کربلا کی ظالم کړی له حده تـــــير
شهامت به د حـــسين څوک ترقيـامـته نکړی هـــير
يزيد نوم د ايستبداد دی د سمبول په حيث جهان ته
حســـــــين ډ يراعلی مثال دی د ايــمان اهل ايمان ته
ظالمـــــان د يوی کور دی که عــرب وی که عـــجم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وی ابولؤلؤ که شمر که رحمان ابن ملجم

یــوظـــالم دی چه یونوم او بل نوم مسمی شی

سکندروی بیا چنگیز شی بیا تیمور یا ایتلا شی

په یزید بـــانـدی وریږی تر قیـــامتـــه نفر تونه

د حــــسین په غـــــم کی ژاړی جـــهانونه عالمونه

که جابرچنګیز هرمره په قدرت دی مشهور شــــوی

خوبیا هم جلال الدین ته په ستا ینه مجـــبور شــــوی

هلاکوبد ګڼی هــــــرڅوک چه قاصـــد ود هـــلاک

هټلران هرچـــاګڼی د ښمنان د ژوند و ژواک

د دجلی رود ظالمـــانو د انسان په وینو سور کړ

په وحشت بربریت ئی جـــهان خلکو ته تنور کړ

هغه څوک و چه ئی جوړی د سرونو مناری کړی

جاویدان ښارونه وران کړه ترینه جوړی ئی میری کړې

چا د ی سوی په اورونو بــشری تمـــــدنونه

چا وژلی دی فکرونه چا تباه کړه هنرونه

څوک د قهر قهرمان و په بامیـــانو څه تیر شوی

غلغله کی چه چه څه شوی دجهان نه دی هیر شوی

څنـــــګه راغــــی څنــــګه لاړه له جـهانه سکــــندر

څه ئی وکړه دلـته هــلــته ورشه وپوښــته خــیــبر

عجـیبه غـوندی جـــهان دی عجــیبه یی دی کــارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـــله وران کـــله ودان کړی قدرتــونه هــیوادونه
ســـقراط فخر د یونان و د یونان قدرت محکوم کړ
په زندان کی ئی د زهر و په پـــیاله باندی مسموم کړ
اصـــلی کور دفـــلـــسفو شو فـــیلسوف لـــره زندان
یونان ولی سقراط وژنی سقراط ژوند د ی د یونا ن
په فرمان دروم ئی مثل دی په سولی خیـــژول شوی
اوس مرکز د مسیحی دین دلوی پاپ دی ګـــڼل شوی
دغه کارونه اوس هم په بل رنګ او بل عنوان شته
په بل نوم بله څیره کی جهانسوز جهانګیران شته
په دی زمکـــه نه مړیږی د دی عـــصر نا پلیون
لاس یی واچاوه اسمان ته اوس سپوږمی ته لری یون
ســـل چنګیزه دی پـــټ شوی د اتوم هره ذره کی
د جم ډیر جامونه ګوره د رادار په آیینه کیی
ورانولو ته جـــوړیـــږی د دنیا عــــمارتونه
تباهی ته خـــدمت کـــاندی د دی عصر تخنیکونه
استـــعمار کله ورکیږی جـــامـــه شـــکل یی بـــدلیږی
استـــبداد په نـــوی بڼـــه سیاست لـــره ځوم کـــیږی
په دڅه کــــه د ظالم نوم پلار ایښی وی رحیم خان
په ښه نوم کـــله ښه کـــیږی چه یی خوی وی د حیوان

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقیقت خـــــــــونه بدلیږی که ظلمت وبولو نور

دهلک په جامـــــــــــه کله هلک کیږی دچا لور

له تیاروسره رڼا وی همیشه لاس وګـــــــــــــریوان

په هروخت کی په جګړه وی اهـــــــریمن سره یزدان

ظالمان په ایــماندارو نشی کــــــــړی حکـمرانی

د ظالم ظلم تـــــــه غـــاړه کـله ږدي مسـلماني

غرقیدونکی دی غرقیږی کـــــــه فرعون دی که قـــارون

که پیدا شی په ولس کی یــــــــوموسی او بل هارون

دنمرود امر ته غـــــاړه نـــــــه ده ایښې ابـــــراهیم

د فرعون قدرت تـــــــه کله تابع شــــویدی کـــــلیم

اســـلام نه منی هـــــــیڅکه د یزید مـــــتابعت

حسین سرشی ورکـــــــولی نــه لاسونه دبیـــعت

محـمد او مومنـــانو کـــــــــــــول ځکه جهادونه

چه د خدای په لاره سم کـــــــــړی دابی لاری قـدرتونه

د اسلام روح دی جهـــــــاد ناروا سره عناد

حمایـت د مظلومانو ورکـول دهر فــــــساد

هغه کله مسلمان دی چه خـــــــر کیږی د دجال

وظـیفه د مسلمان ده لـــــــــه دجـــال سره جـــدال

چاچه یوقـــــــــدرت منلی په جــهان کی د الـــلــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلی کارئی دی جهان کـــی جهاد فی سبیل الله

مومن کـــله شی مـــنلی یـــومـــطلق آمـریت

اولواالامر د اســلام دی مقـید پـــه شــریعت

مکلف پــــه مـــشوره دی اولواالامر د اسلام

بی نیـــــازه مشوری نه کـــله وخـــیرال انام

په هغـو تل مسلـــــط وی جـــبرقــــهر زجـــر

چه په ظلم کوي صبراولــــــه خدایه غواړی اجر

حقیقی مسلمان نه دی دا ایمان څـــه ایمان نه دی

چه حسین غـــوندی یزید ته ټینګ ولاړپه میدان نه دی

اسلام نردی اونرتـــــوب دی شهامت د زړورتوب

نه ژړانه انګولاده نــــه د ظلم مرئتوب دی

په یوازی ژړاباندی حـــســـین کله خوشحالیږی

پیروی د حسین وکړه که حســـــین دی ډیرخوښیږی

یزیدان څومره ډیرشوی یـــــوحسین نشته جهان کی

دجهاد درس چاوانخـست مهجورپاتی شوقرآن کښی

ومـــنل مسلـــــمانانو د اســـلام اســــــان امرونه

سرسایه ورکوی خدایه! نه د حق لارکی سـرونه

نوافل ئي دی ټینګ کړی واجبات ئي دي هـیرکړی

نورئي هرڅه دی ترک کړی اورادونه ئي ډیرکړی

داسي خـــواره زاره نه وه حـقیــقی مسلـــــماني

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه شوه چيرته لاړه هغه د ايـــمان قــهرمــانـــي
مسلـــمانه! با ايمــانه داغـريب ديـن معــتبر کړه
په دين سرورکړه اودين بيا ديخوا په شان سرورکړه
انتـــــقام د حسين واخــله دخـــيل عصر له يزيده
ورک د زمکې خدايان کړه الـهام واخـــله له توحيده
حسين توئـې کـــړلی وينی ته پری اوښکي تويوی
ځای دوينو اوښکو وينو څـه ئي وکـــړه څــــه کوی؟
راشــــه بــــــس کړه ژړاګــــانی ظالمان وژړ وه
حسين ظلم قبول نکـــړ تری مظـــلوم مه جوړ وه
دهغه سر،سرلوړی ده د دنـيا چـــت نه اوچـــته
چه په مرګ يی ځان خلاص کړی د ذليل ژوند له ذلته
په حســـين باندی مه ژاړه په هـغه مظـــلوم وژاړه
چــــه ظـــالم ته ټيـټوی سرمظـــلومو ته ږدی غاړه
دا ژړا دا واويلا دی د کـوفی مسلمــــانان
جلادان د اهل بيتو د يزيد خاص بــندګان
د مسلم په حال به ژاړو څنګه وو څنګه شو خـدايـــه
د بوم سوری ته پناه وړی ښه ئي بــولی له هـــما يه
د يزيد فرمان منی او نه منی د خـــدای قرآن
د اسلام منـــبر ته وخـــوت خجالت د مسلــمان
مدينه کی خونريزی کړی په مکــــه وړی يرغــلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د علی اوامامانو کنـځـل ځای شــوه منبرونه

قرآن منــع مسلمان کـــړ د کـــفارو له کنـځـلو

خطیبان یزید مجبور کـــړه علی ته په پوچ ویلـــو

ژاړه ژاړه مسلمانـــــه د مسلم په داســـی حـال

د صــدیق ،عـــمر مقـــام کړیزیدانو چه پایـمال

دعمروینو تـــــه تـــړی چـــه وه فـتـــنة الـــکبری

کربلا کی شوه هـــرګـــــــوره لــکه طامة الکـــبری

په ویینــــته د محُمــــد یی ورکــــول چه خپل سرونه

د حسین ســـروړی یزید تـــه نن د هغو او لا د ونه

څومره فرق څومره ژر راغـــی مسلمانه ستا په حال کی

چه هیڅکله ګرزیده نـــه د چا فــــکر د چا خـــیال کی

نن اسلام خدایرو شـــرمـــــــیری په عمــل د مسلمان

په تش نوم باندی مــومــــنه! داسی کـــله وایــمان

ســـیاست اســلامي نـــــه وی که اســـلام وی ســـیاسي

سیاست د دین خدمت کی سیـــاست دی اســـلامي

د قسم دیاره ساتی قــــــــــــــــرآن کورکښی قرآن خور

ادیروکښی کی لوستل کیږي قبربـــــــــــــاندی د سود خور

په ژوند هیڅ کار ترینه ناخلی خویه شقاط کښی ویشل کیږی

درنګ ساعت ته چــه مری کیږی نو ئیسین یری لوستل کیږی

داد خدای کتاب چـــــــــــــه کړه ئی راژوندی مسلمانان

جنازوســـــــــــــــــــــره ئی وړی اوس هدیرو ته بډیان

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسلام ډیوه چـــــــــــــــه مړه شي د زیارت ډیوه بلیږی
د بی روحه اسلام قـــــــــــدر ځکه ورځ په ورځ زیاتــیږی
په ژوندی حســین ځـــــــــــه وشوه؟ د مزارقدرئې ګوره
په هدغه ځـــایٍ الفـــــــــــــته! دا خبره پریږده نوره

## سترګه دسبا یمه

نه یمه خـبرچه څه وایـمه اوچـــاته وایمه
زړه کی می څه دی ورسره زه هم نا اشنا یمه
غواړم هغه څه چه هیڅ اثـرئې لا پیدا نه دی
نه ئې پریږدمـه د مجـــهول په تمنا یمه
تول راته ودیده ښکاری یونیم چیرته ویښ وینمه
داسی معلو میږی چه زه ســترګه د ســـبا یمه
ډیرفــکرکوم د زړه په ویـــنو څه لیــــکم درته
مه کوه ګـمان چه تـش په ژبه ګـویا یـمه
ډیررازونه پټ زما ســـاده غوندی انشا کی دی
ګوره په یوه مـعنا کی بیـــا بـــله معنا یمه
اوښکی می له سترګو رابهیږی په خنداکی تل
ژړام په خندا کی که ژړاکی په خـــــندا یمه
توری تربږمی نه تکه سپیـــنه معنا با سمه
ځکه توروزلفو او سپین مخ باندی شیدا یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوارغریب ماشوم یم هیچا نه یم پیژندلی لا
هیڅوک نه پوهیږی چه فرعون لره موسی یمه
ما د شعرتوروکی د ژوند اوبه مــوندلی دی
کله مـری اشعار زما د شــعر مسـیحا یمه
نه دخان نوکر یم نه مرید دکوم صاحب یمه
یم وکیل د خلکو شاعر هم په دی معنا یمه
لوړځای راته ښه دی له لوړی هواتــښتمه
لویه ننګرهاره ! زه ژوندی ستا په هوا یمه

## قهرمانه پیغله

په ښایست کی درخانی سره وه سیاله
قهرمانه د مــیوند پیغـله مــــلاله
ښکلیتوب یی نارینتوب کی وپټ شوی
څوک یی هیڅ نشو خبرله خط و خا له
د جــلال قصی ئی هرچـــیرته کیدلی
چایی لری پـــلونـــکړله جـــــماله
ګلالی پیـــغله ویــــنا چه وی نقاده
مبـارزه مـــجاهده زمـــــریـــــاله
دښکلا شـــهی وی پــــته شهامت کی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمری جوړشی دغزلی له غــــزاله
څوک ئې نه وینی ښایست شجاعت وینی
که هر څو وی په ښایست کی بیمثا له
د درخودعشق سندری تری مه غواړه
د،،الــفــت،، طبع هر ګوره ده ملاله

## پــــیــر

که حرام خوری که روژه خوری که ریا کړی
مه وایه! چه پــــیر ګناه کړی یا خطا کړی
اســــلام ځی مګر پـــیری نه ځی له پیره
که هرڅو دنــیا ته مخه دیــن ته شا کړی
عـــقـــیده د چـــاَپه پـــیر نه خرابــیږی
کــه خراب خرا ب کارو نه بر ملا کړی
خلـــک به وایئـی تـلاوت او تــهـجــد کا
تــوله شــــپه که فاحشو سره سبا کړی
له نیـــکو نونه نمـــــــسو ته پاتی کیږی
د درګاه له سپی سره پیر ی وفا کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملی حـمــاسه

پخوا به په وطـــــــــن خلکو سرونه ورکول
سرتیروته یی زړونو کی ځـــــــایونه ورکول
میرانه سربښـــــــــندنه وه هنر د افـــــغانانو
بـــــی نـــــنګوته به هر چا پیغورونه ورکول
دننګ غـــیرت خـــــبرو به پیدا کړه طوفانونه
سرو سرو جـــذبو ته ئی تاوونه ور کول
مــــــلی حـــــماسه نه وه بی اثره بی تا ثیره
مــلالی چه میوند کی شعارونه ور کول
مؤمن ته د خدای نوم اسم اعظم وپه ربښـــــتیا
یو الله اکبر څه جرآتونه ور کول
مرګ نه و افتخار ود حـــق لار کی شهادت
شهید ته ښایسته حورو ډک جامونه ورکول
نن هغه قوت څه شوچـــــیرته لاړه څنګه لاړه
فرنګ ته ئی چه بیا بیا شکستونه ورکول

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس مونږ.کی بدلون راغی اوحلاتوکړوبدل مونږ.

حـــالاتو ته به مونږ چه بدلونونه ورکول

مضمون د آزادئ زمونږ.په سروونو رنګین وو

زموږ وینو تاریـــــخ ته عنواونونه ورکول

په تورو،نه په تورو مونږ تعلیم نوروته ورکړ

بی زړو ته مو دځان په شانی زړونه ورکړل

مونږ.هغه وخت مات کړی استـــعماردیرنګیانو

چه نورو په دوه لاسونه خــــراجونه ور کول

راځی چه خلک جوړکړو خلک جوړکاندی کارونه

په کار نه دی نا جـــوړوته کارونه ور کول

څه خلکوکی پیداکړئ چه پــخپله څه پیدا کړی

ترڅو خوار و غریب ته خــراتونه ور کول

اساس د ترقئ او مهــــــم اصل یی بــــوله

اشـــخاصو ته اصلی شخصــــیتونه ورکول

## وطـــنه

وطنه! ښــــه دی آب و هـــــــوا ده

ځومره دی زیاته طبعیی ښکلا ده

لمر دی اسمان کی څه ښه ځــلیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډيوی د ســتورو د شـــــپی بلیږی

بهیږی هرلورمست مست سیـــندونه

په غورځنګو نو دی ابـــــــشارونه

وږمی د ګــــلو ځـــپې ځـــپې دی

بلبلان مست دی مستی نـــغمی دی

ځولۍ دی ډکه له نعـــــــــمتو نو

سیــــنه دی ډکـــــه ده له ګنجو نو

میوی دی ځومره خوږې خوږې دی

په شنو باغو کی مز ې مزې دی

خـــــاوره دی ډیره ده حـــاصلخیزه

نه ده لـــــویدلی له زور او خیزه

غروته دی ګـــــــورم رمې رمې دی

کروندی ویـــــــنم غلې غلې دی

هـــــرڅه دی ښـــه دی خوبده داده

کورکی دی غله دې هرڅه کی غلاده

ته ډیرغنی یُی مونږ فـــــقیران یو

ستا دومره شتو کی ولی خواران یو

که ته زمونږیُی او مــونږ ســـتا یو

ولـــی بې بــــرخې او بیـــنوا یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـــرڅـــه په لاس کی د یوڅـــو تنو
د بـــډایانو د غـــــلو رهـــــزنو
مونږ په خـــــواریو په زحمتو کی
څوصاحبان دی مست په نشو کی
ورتـــــــه غـــږیږی تل سرودونه
دوی دی او ښـــکلی تل وصا لونه
نورڅه نه کاندی بی عیـــش ونوشه
کله بیـــــــهوشـــــه کله مد هوشه
کـــه دی نـــــــــاولی دی ناز ولی
هر څه چه کاندی خو دی ښاغلی
مونږ به تر څو یو تحت الثری کی
څـــــو نـــــــازولی په ثریا کی
ترڅوبه مونږخوري هغه څـــــوتنه
چه په درد نخوري د تا وطـــــــنه
ترڅو به مـــــونږیو په هیڅ راضی
د حــــــق غاصب به ګڼو قا ضی
یو به بی آبـــه هــــــم بی خوړو
ستړی خـــــدمت کی د څـــــو مړو
راځئ ملګرو ټینګ عـــدالت کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وضع بـــــدله بـــدل حـــالت كړو

هييخ شی ورنكړو چـــــاته بيكاره

ژوندون روان كړو په نـــوی لاره

ديوه ګـــــټـــــه بـــــل ته ورنكړو

يو انـسان بل ته لكه خر نكړو

شخصيت وركړوخواراوحــقير ته

ډوډۍ پـــيـــــداكړونا دار فقير ته

انسان ازاد كړو د بل له قـــيد ه

د ظالــــــمانو له مكر و كيده

آزادی وركړو فـــكر او خيال ته

نه بـــاداری ته جاه و جلال ته

راځۍ چه حـــــق دانسان ادا كړو

نه ئې غلام كړو نه يی آغـــا كړو

نه ئې ګــدا كړو بل ته محتا ج

نه يی راجا كړو چه ا خــلی با ج

نه ئې ظــــــالم كړو او مـــظلوم

نه ډير بی قيد ه نه ډير محكوم

دومره ئې موړكړوچه روغ وجوړوی

نه چه په ډيرو خوړو نا جوړ وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیرزیات مړښت دی ژوندون ته زهر
ډیره غـــــنا ده د ګناه مهر
بډایی څه ده جوع الـــــبقر دی
حرص دغــنا خواصلی سقر دی
غـــــنا فــــاحشه ده فــــاحشه
عـــــفت وژونکی شهوت پیشه
بندیز په کار دی په غـــنا باندی
نه د فکرونو په دنــــــیا باندی
هیـــــڅوک دې نه وی دلــــته قارون
وی دی په فـــکر کی افـــلاطون
دانسان فـــــــکراصلی انسان دی
که فکر نه وی خوشی حــیوان دی
که لاس پـــښی وی په ځنځیرو کی
فـــکر دی نه وی په زولــــنو کی
چــــا چه وژلی آزاد فـــــکرونه
جهان پرې وائی اوس لعــــــنتو نه
د سقراط مرګ دی پیغور جــهان ته
فــکر وژونــــکو د زوړ یونان ته
مســــــح وژلی دروم قـــدرت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدرت ته څومره لوی خجالت دی

د ښمن د فــــکر هر ابو جهل

زندان د فــــــــکر د خلکو جهل

ډیـــــرو پوهـــانو ور کړه سر ونه

چه ازاد کاندی اسیر فــــــکرون

## ګل پرسته

تا ته وایم تا ته وایم ګل پــــــرسته

د نارنج د ګل په مست بوی باندی مسته

دا هوا او فــــــــــــضا چا کړه معطره

چا دا خاوره له عنبرو کړه بــهتره

چاسمسورکړه دغه سره او شـنه باغونه

چاکړه جوړدرته دنیا کی جنــــــتونه

ځان خبرکړه چه د چـــــا په کاراو زیار

سینګارشویده وادی د نـــــــنګرهار

ګوره ! څه جوړشوه دکار له برکـــــته

دانسان د کاراو زیارله مشــــقـــــته

دلـــــته هـلته کی چه څه کی ښئي ځان

بل شی نه دی کار او زیار دی د انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ښایسته ګلان چه ویـــنی په باغو کی

څه اوری د بـــلبــــــلو په  نغمو کی

د   دهقان او  د باغوان دلاس  اثر  دی

ګل پرست  بــلبل له حاله  څه خبر دی

داسری چه په دی سرو ګلو کی ویـــنی

فکر وکړه دی د    چا  د ځیګر ویـــنی

که عرق د ګل عـــــطار پلوری  په  تا

دی خـــولی د    کار  یګرنه د بل چا

راشئ !ونمانځو دګل په  ځای مالــــیار

د کار خلک  کاریګر  ســـتائی او کار

دمالـــیارقدر که نه وی تش د ګل  وی

فرق به څه د بنـــیادم  او  د بلــبل وی

لږڅه پوه شه! دچاسیوری لاندی ژوند کړی

چادګلو په وږمو باندی خورسند  کړی

## تــــلـــوسه

بیا ناخاپه زړه تــــه راغــــــله تلـوسه دشـعر ویلو

د  ښایست انځورولــــــو  د معنا  سینــګارولـــــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذوق وشوق ،میل ورغبت بـــیا زړه هرشیبه وائی

دګلزارلورته د تللو پـــــه یو چا د زړه بـــایللو

چه می چـــرته نیوی نشو نه په منډو یو چرګوړی

اوس می خیال په زړه کی ګـــرزی دعنقا د رانولو

پس له ډیری د لسردۍ نـــــه تقاضاده پیـــدا شوی

سرولمبو ته د لویـــــدلـــــو د بـــتا نو ماتـــولو

په رنځوراوضعیف زړه کی بیـاجذبه شوه رااوچته

د جرءت پیدا کولـــــــــــو د بیرغ اوچتولو

بیا مستی ده راروانـــه د خراب زړګی کاله ته

لکه ورانو کنډوالو ته ماشـــــــومان په ځـــغلـــیدلو

دهوس کوردی ودان وی چـــــه ساړه زړونه تاوده کا

دا سرو او نـــــو هـــیلو د ډیوو په لګولو

عقله! ته اوس ځان راټول کړه چه په زړه کی ځای پیداشی

د هـــــوس نـــــنوتلو د امـــید د غـــځـــید لو

دزړه کور کی چه د عقل دروند او غلی بوډا نا ست وی

ماشـــــــومان د هو سونو رغـــبت نه د ورتــــــللو

غوغاخیر زړګی په کار دی شاعرانو ته هر ګوره

دسکوت طلسم مـــات کړه د شپیلۍ په غـــــــرولو

دا رڼا که د سبا وی که د چرګ اذان په رښتیا وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه وخت دی د جـذباتو او احساس د وینسولو

مرورزړگی می غواړی بیا له ژونده سره جوړه

د وطن د عشق او مینی د غوغا په جـــــــوړولو

هنگامه دژوند انه دی خدای هیڅکله غلی نکړی

د جذباتو په وژلو او د ژبو په تــــــړلو

بی غوغا نه وی تولنه مـــه ویریږه له شــــــــــورونو

فسادونه ولاړیږی له ډک زړو په خوله غلو

کینه نه ساتم پـه زړه کی څه وی هغه به وایم

خدای دی نه کا ځوک خــوابدی په رښتیا رښتیا ویلو

## مړی ژوندی

*ډیر ژوندی دی شـــی هغه مړی نه ځار*

*چه په مرگ ئی شـــی ډیرخلک ناقرار*

معنوی ژوندئی لــه خضرنــه کم نه دی

چه په چـا انسانیت کـړی افـــــتخار

مړهفه دی چه ژوندی په مړه حساب وی

نه مری هغه چـــه ژوندی ئی وی یادگار

ډیرژوندی مړه دی اوډیـــرمړی ژونــدی دی

*مړه وی هیر ژوندی پـــه یـــــاد وی دروزگار*

*هرافغان ته اِلفت ډومـــــره پوهه غواړی*

*چه دمرگ وژوند تشخیص ته ده په کار*

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مور مینه

ښوچه زمکه ، اسمان او دنیا شته
د مورزړه کی د مینی رڼا شته
که هیچا سره هیڅ ځای کی نه وی
مور سره محـــبت بـی ریا شته
د مور مینه د مینو مور بوله
که دی په خور یا لالا شـــته
د لــــیـــــلی محبت کی هرگوره
د مـــورمینه د مـــینی تر شا شته
ټول عـــالم ئی که بد گـنی موری
په اولاد پـــــیرزوینه د تا شته
ستا په مینه کی نقص نه پـیښیږی
تاسره سرما یه د بــــقا شــتـه
تاته وی لکه تـــورد دوه ستـــرگو
که دی غیږ کی اولاد نـابینا شــــته

---

ژوند ون تارابـــښلی دی موری
له ژوندونه نور څه شی اعلی شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما    اول دی وتـــا ته  ژ ړلـــــی

بل ځای کله  د چا  د ژړا  شـــــته

جـــــنت ستا قدم لاندی دی موری

تردی لوړ  مــــقام کـــله د چا شته

که زما په ســـروی داستا سیوری

نه  حاجت دطوبی یا هــــما  شته

## مورې!

مورې چه خدای له تا پیــــداکړمه

ګران ئی له هرچانه په تا کـــړمه

له خـــــپله ځانه لا خبرنه ومه

چه تا له ځانه سره اشنا   کــړمه

په مینه مینه به دی ما ته  کـتل

د مینی  کیف  ته دی بیـــنا کړمه

په ژبه پوه نه وم مینه پوه  شـوم

پوه دی بی لفظه په  معنا  کــړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروروديِ راوستـــم خبروبانــــدى

راغلى ګونګ وم تا ګـــويا  کړمه

پاک به دى کړمه چه خيرن به شوم

لکه شيښه به دى  صــــفا   کړمه

خوب به دى نه و ترسحره پــورى

چه لړخه درد به په ژړا  کـــړمه

که وطن چاڼ کړمه په مينى پـــسى

که لټ په لټ دغه   دنــيا  کړمه

بى رياخاصه پاکه مينه به ســـتا

کله په بل زړه کى پيدا  کـــړمه

دمحبــــــت غيرکى دى وروزلـــم

په عواطـــــفودى  دانــا کـړمـه

اشنادى کړم له خوشحاليوســــــره

تا په مسکا تا په خـــندا  کـړمه

که وايم ستاغيرکى جنت وزمــــا

پوه  شوى نه يم اشــتبا  کـړمه

جنت خوټيــټ  ستا له قدم لاندى دى

(c) ketabton.com: The Digital Library



رب می دی خدای اومــربی می ته ئِی

پیدا کړم خدای تا تو انا کــړمه

ودرولــــم تا پخــپلو پــښو

بیا دی بلد په ګر زیدا کــړمه

څومره وړوکــی ومه لـوی دی کړم

یوه قطــره وم تا دریـا کـړمـه

دوروروڵی پــه رابطه بانـدی تـا

د چا روکــی د چـــا لالاکــړمه

درس ته لیــږم تا په څه زاریـوه

په څه خــــواریو دی مـــلاکړمه

چه زلمی شــومه هم دی پری نښودم

د بـــــل دپـــاره دی داداکړمه

تاسړی کړی یمـــــه ګرانی مــوری

د کار سړی که کړمه تا کــړمه

ستا احـسانونه بی حســابه دی

ستا کوم یوحــق به زه ادا کړمه

نوروته لــوی تا ته وړوکــی یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان به وړوکی درته بــیا کړمه

## قدراومقدار

دچا فخرد سیسۍ ،زرکی په ښــــــکار

د بــل فـــخر په وژلو د ښا مار

دوړکی کــار وړوکی د لوي لـــــوي

د هرچا قدر دخپل کار په مـــقدار

دعقاب پروازته ګوره چرګ ته ګـوره

چرچرک چیرته او چیــرته موســـیقار

چاسره نقـشه وړه چـــاسره لـــویه

یوبه خـونه جـوړوی بل به لوی ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک سینګارکوی څوک کارکوی څوک لوبی

مــلتــونه جــوړوی ملی مــعمار

عــادی خلک به کوی عــادی کارونه

نوابغل لـــری په کـار کی ابتکار

دتاریخ جبرکوی لوی لوی حکمونـــه

څه راوزی جــریده کی د روزګـــار

ډیره لویه غیږ په کارده مستقبل ته

لوی جریان کی ئی چه ښکاری څه آثار

زړونه داسی ګواهی کوی چه هرګـوره

نوی نوی څه راوړی لیــل و نهـار

لوی بدلون دی راروان په دغه لوری

وځاری دشــپو او ورځو لـویه لار

ډیر وړی ډیر څه راوړی انـقلابو نه

نه پریږدی یو سړی خورد او بل خروار

ولـــــــسی نظام هرڅه خلکوته سپاري

هــــم د کار مســوءلیت هم اقتدار

مساوات نشی راتلی څــو چه هیواد نه

بـــاداری آغایی کـــــډه نکړی بار

چه پیداشی اطمینان خـوشی په زړه کی

نیسی ځـــای دخلکو زړونو کی سر کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدبـــــینی بدګـمـــانی غلـط فهـمی

نه وی خلکوکښـی چه خـــلک وی امـیدوار

ژوندی کـیږی امـیدونه اسری هــیلی

په افسون د مـحبت په ښـه کـردار

عـلاقه نظرهـغسی نه جلـبـیـږی

لکه څـوک چه جلبوی علاقدار

نه په چـل باند ی کـیدی شی نه په جـبر

څه چه کانـدی شخـصـیت د یو کاردار

زړه چه ښـه شی په ښه زړه بیاهرڅه کیږی

هـغه کیږی چـه نه کیـــــږی په اجبار

## صاحب

خپل تورمخ نه وی خـــود بیـن نه دي
خـپـــل بدلــــــیدی نشی بدبین نه

که هرڅومـــــره وی ظـــاهراو با هر

ورته ګوری ظـــــــاهـــربیـن نه دي

دعــــدالت تــــــلی ته ګـــوری کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



دچه په شا نی پـــــله بیـــن نه دي
هغه دی مخـــی لـــره نه ورځی هیڅ
چا ډیــــــرپیمخــــــی ماه جبین نه دي
ورتـــــه وایه !دنـــــــیازمنوبد حال
صاحب نازنین دی نیاز بین نــــه دي

## سبک نظر

درانه پـــــیټی په مایه اوښانو بارو
یو په بل پـوری تړلی لوی کتارو
غړغړې وې بادیده له خولی زګونه
غړمبیده اوښان له څــــرمی ډیرپه قارو
یولوربل لورئې غــــــاړې غړولې
سم په لاره باندی نه تــله نا قرارو
د کتارمخکی ساروان وپه خره سور
اوپه خره پسی مربوط داوښ مهارو
مشکل نه و تحــــمل ددرنوپــیـــټو
لوی مشکل په یوه خــــره پسی رفتارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ذلـــت داوښ همـــت نشو زغملی

ورسره ځکه احســــاس د ننګ وعارو

اوښ ویل ما د انـــسان بـــارونه وړي

په دی کار کښی کـــړی ما کله انکارو

سرکشي مې کـــړې نه ده له انـــسانه

زمامدارمی کـــه ناپوه که هـــوښیار و

په هرلوری ورپـــسی یم روان شـــوي

که په لاس کښـــی د ماشوم زما مهارو

مګرخـره پسـی د ځان تړل نه غواړم

ماته د مره سیـــک نظر کله په کار و

انسان څه چـه اوښ ئې هم تحمل نه کا

**شیک نظر ګوره له هر باره دروند بارو**

## مساوات

حـیوانات د غـــرورغـــــــو او د ځـنـګلونو

په جرګه سره راټول شـــــــــوه په ســوونو

ویلې مونږ به ترخــــــــوګرزوبی نــظامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشئ!جوړکړولـــــــــوی مجلس داولـسونو

دوي به جـــــــوړکاندی قانون دمونږدپاره

د انصاف د عـــــــــدالت په اساســا تو

د ځنګله قـــــــانون اوس بد ښکاری هرچاته

مونږ یادیـــــــــږو د وحشیانو په نومونو

دنــــیا ډیره ترقی کـــــــــړی هرګــــــوره

ډیر تــــغیر کــــــــــړی حالاتو او فکرونو

مونږ لا پاتې پـــــــــه زاړه حال یوتراوسه

ځئ چه تیرشولـــــــــــه زړوزړو خــیالونو

جرګه جوړه شـــــــــوه مجلس هم افـتاح شو

وکیلانو شروع وکـــــــــــړه په نـــــطقو نو

سوی ویل چه مساوات ډیر ښه اساس دی

ټیټ و پاس دې منځ کښی نه وی د حقوقو

دې پوه شئ چــــــه مونږ واړه برابر یو

وباسئ ! د تـــــــــفوق خیال له سرونو

ټول به حق د ژوندلری په دې وطن کښی

برتری به نه وی هیـــــــــــځ د نژادونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغـــــــــه رازخبرې نه وې  لا تمامی

قطـــــــــــع نه وه سلسله  د تقریرونو

چه مجلس کښی سراوچت غــیظ وغضب کړ

حالــــت بــــل شو تبل وخـــــــوړقوتونو

لــــیوه وغړمبېد په    قهر ئی سوی ته ووې

راته     وښیه! منـــــګولې د لاســــــونو

نه دې داړې زما په څـــیر نه دې نوکان دی

بـرابـــربه څــــنګه شو  په تش حرفونو

په دا     دمره  وړه  خـــوله لوئې  خبرې

حـــماقت دی تجاوز دی  لـــــه  حـــدونو

دی    وینا   سره   بیا  سوی په وینو سورو

لیـــوان ګـــــــډ  و په رمو  کی د پسونو

مجلـــــس شو ختم هـیـبت په ټولو راغی

لـــنډ و عـــمر  د دارنګه صحــــــبتونو

## مانېجن

سرکښی د لښکر خــــــوروان یم مګر افسرنه یم

لکه په کلام کــــــــــښی مبتدأ یمه خبرنه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



یم بنیادي کاڼی د دی لـــــــــــوی ودانۍ ځکه
خاورولاندی یمه څـــــوک می نه وینی بهرنه یم
ستا د مخې سپـــــــــر او د تورو ګذارونه خورم
جنګ جګړه چـــــه نه وي بیا لایق ستا نظر نه یم
هرڅه زما په ســـردي په وطن باندی می سر ایښی
نه وایم سردار یمه خــــــــووایمه بی سر نه یم
وینم ګورم اورم چه نورڅــــه کوي مونږ څه کوو
ستانوکر که یمه مګر ګـــــــوره کورو کر نه یم
یم لکه زیتون په تـــــــــــــورو غرونو کښی
لوی بې تربیته شوم خـــــــوبیا هم بې ثمر نه یم
دا زما نصیب دی زه همـــــــــدغسی راغلی یم
زړه بایلم په هـــــــر چا زه د هیڅ یوه دلبر نه یم
زه به غریبی کړم تـــــــه زما په سر خاني کوه
تابه معتبر کړم کـــــــــه زه خپله معتبر نه یم
څوچه یو لر نشی بل یو کله بـــــــر کیدالی شی
ځکه ما نه بر ئې چـــــــه زه بشکته یم بر نه یم
ته له مانه مخکی پـــــه دې راز بنه پوهیدلي ئی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د سر دعا کومـــــــــه ځکه چه زه سر نه یم

## نن او پرون

دنن فخردپرون ورځی پــیغوردی . دپخوا وختو بینا اوس کر و کور دی

دپرون میرمن وه سل پردوکی پــــــته .اوس سرئې نیمه تنه لوڅه سر؛سرتـوردی

تقاضا د زمانې ګـــــوره بد لیړی . کله یخ سیوری په کارکـله سور اور دی

کله وچ زورحکومت کا په جهان کښی . کله تندر د باران په ځاځــــکو سپور دی

چاوې زوړحاکم په نوی بدل شــــوی. که ربښتیا وی زوړحاکم خو ظلم زور دی

وائی چوپ ښه !غلی اوسه هیڅ مه وایه. له منطق نه دناطق حیوان زړه تور دی

چه بې تورو دې په تورو سپین خبر کا . جهان ځکه سبا سپین بیګا ته تـــور دی

## د زړه دنیا

لاس به هیچاته کله اوږد نکړی . که دې تر لاسه د زړه دنیا کړې

ډیرسوغـــــاتونه ډیر دو لتونه . له تاسره شته که ئې پیـــدا کړې

دزړه په کور کښی شته جهانونه . که دزړه خونه لږ څه رڼا کړې

که پخپل زړه کښې رڼا نه وینی . ړوند ! وایه ! خدایه ! سبا کړ ی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څه کیږو؟

مونږ هم زړه لرو ښه ژوندته هوسیږو . چه دنورو ترقی وینو پخـــسیږو
اسرې هیلې امیدونه لروزړه کښی . خوهیڅ نکړو تشه طمع کی اوسیږو
ډیرمین په آزادئ دموکراسئ یو. چه ډیر لږ ورته نږدې شو تری ویریږو
نورڅه نه وینو بس وینو ښه خوبونه . په واده د خوب خونه پلرونه کیږو
داچه مونږ هرڅه کووزمونږ کارنه دی. خدای خبردی چه دچالاس کی لوبیږو
ډیرساړه اوډیر تاوده شویوه آن کښې . په یوه پوکي تودیږو اوســـړیږو
ته خپل کار په بې غمئ کوه رقیبه ! .مونږپخپلوکښې ډیروران یونه جــوړیږو
فریبونه راکوه نورڅه رانکړې . که سل ځـــله وغولیږو بیا غولــیږو
زوروره !ستاچاره زمونږه غاړه . د قانون په حکو مت مونږ نه پوهیږو
دوه قدمه که په مخ ځودرې په شا ځو. په دارنګه تـګ کوم ځای ته نه رسیږو
ماشومان دي چه لوړیږی کال په کال
مونږ زاړه ؛هر کال له بله کاله ټیټیږو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سیاست

سیاست د عقل ؛فکر زرنګی ده . خوکه ځان څوک زرنګ ښئ لودګی ده

چل؛فریت؛ټګی ئې وه توښه دلاری . چه راغـــــــــــــلی له کاله د فرنګی ده

په زړه یوراز په خوله بل راز عمل بل راز . دظاهر باطن خلاف فر زانګی ده

سیاست او اخلاق نه سره جوړیږی . د یزید او د حــــــــــــــسین بیګا نګی ده

په مطلب یی هرڅوک نشی پوهیدالی . اشـــــارونه جوړه ژبه د ګونګی ده

اتفاق کښي یې نفاق پټ دی هر ګوره. آزدی یې په بل ډول بنــــــدګی ده

منګی ډک وی له اوبونه خوله یې وچه . سیاست سره همدغه شان ټګی ده

ټګی مه کوه دبل په ټګی پوه شه! . په ټګئ نه پوهــــــیدل خو سادګي ده

دشپوورځوله رنګونومعلومیږی . زمــــــانې بده ګڼــــلی یکـــرنګی ده

چه هروخت کښی ډیره ښه ښکاریږی هرچاته .دسپین مخ اوتوروزلفودورنګی ده

دژوندون تابلوته ښائی ډیررنګونه . څه بیــــخونده په یوه رنګ زندګی ده

چه مدام په یوه رنګ باندی لیده شی. تــوره ورځ د غریب ښــه درنګی ده

ټول عالم که مددګاردبیچاره شی . بیا هم ګـــوره داچاره بیـــچارګی ده

چه ژوندي غواړی له مړونه مرادونه. دغه رنګه زندګی خـود مردګی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سرنوشت

سرنوشـت ګوره چه څـــــــــوک څنګه شان ور کوی
زاړه مړ ژوندی پرېږدی پـــــــــیغلی ځوانان ورکوی
دورکـــــــــــــولو کار کـــــــــــــښی مهارتونه لری
څوک عیاشئ کښی ورک کړی څوک په ارمان ورکوی
کله مغرور کړی ســــــــــــــړی ښوښوچانسونوباندی
دومره ئې کړی معــــــــــتبرچه بیا خپل ځان ور کوی
ته چه هرفکرکـــــــــــــــوی زه درته دومره وایم
که ئې وزرونه ورکـــــــــړه پوه شه! میړیان ور کوی
داسیاست زوړشوی چـــــــه لور پرېږده ځوی وژنه
اوس د نرتوب پــــــــــــه وژله ابن عمران ورکوی
یوسړی خور سیاست خـــــــــوری شخصیت دسړی
دسرسړی نه پریـــــــــــــــږدی قهرمان ورکوی
د بد بینی تیاره ئې دومـــــــــــره کړه زیاته چه اوس
داجل وهلی خلک آب حیـــــــــــــــوان ورکوی
بد ګمانیو هریوبل ته تک تـــــــــــــورو ښوده
خلک دغلو ډله کښی زړونه خـــــپل اطمنان ورکوی
یوبل پسې لاڅه ؛ یوبل ســــــــــــــره هم نه ځی
په داسې حال کښی زړونـــــــه خپل اطمنان ورکوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیرو خپل پل غلط کـــــــــــــړاو په غلط لاړل
ملامت نه دی خلک کـــــــــــه رهبران ورکوی
چه غریبی کړی ورکه لــــــــــه کورو کلی خنی
دغریبانو دښمن غــــــــــــــریبا نان ورکوی
چه خاین ورک شی بیخی او څــوک یې نوم وانخلی
دارالامان کښې یی هـــــــــم دفتر؛ دیوان ورکوی
که نا مطلوب شی وزیـــــــرنو سفارت ته ئی لیږی
ګوره هیـــــــــــــواد څنګه بد بد کسان ور کوی
خدای دې خیرونه ورکـــړی چه څه ړانده خوپالی
چه له نظره نـــــــــــــشی نظر بازان ورکوی

(۱)ددارالامان حریق ته اشاره ده چه د خاینو ټیکه دارانو د خیانت دوسیې پکښې وسوې

## بی جلبه زور

چه بی قیده بی جلبه زوردهـــــــــــــرچالاس ته ورشی
عـــقل ئې کوچ وکړی له سره رحم ئې زړه نه رابهرشی
مـجاهد د آزادئ چه اقـــــــــــــــــتدار ته ورسیږی
د قدرت هضمول ګـــــــران دي داد هرسړی کار نه دی
خیال ئې بل فکرئی شی چـــــه ئی لاس په نوروسر شی
بیا هماغه سړی فکرئې بل شی چه ئې لاس په نوروبرشی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهاتیانو وخـــــــــت تیرشوی اوی قوی ماشین په کاردی

چه پخپل ســـــــــرباندی نه وی او په سمو چاروسرشی

تحمل دانــــــــــــــــــــتقاد خوضعیفان نشی کولی

ډیرقوی سړی په کـــــــــاردی چه داپیتی ور په سرشي

شجاعت اوشـــــــــهامت دی که څوک حق شی اوریدلی

په دې رازباندې هرګوره د یموکــــــــــرات باید خبرشی

## ملی شوری ۱۳دوره

نه پوهیږم چیرته بــــه داسې شوری وي

چه د ږیری واک اخـــــتیار ئې د ملاوي

کله اورکله اوبـــــــــــه وی کله هیڅ نه

ګاه دوسپنو نـــــــینی ګاهـــــی حلو اوي

څه چه نن کاندې تصویب سبائې ردکړی

په هر آن کښی په غضب هرآن پخلا وي

تصمیم نیسی دې ماتــــــــولوته هرګوره

ماتول دخپل تصویب ئـــــــې مشغولا وي

یووخت سپینه رڼا ورځ توره شپه کاندی

بله ورځ ورته تــــــورتم سپـــینه رڼا وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خان مهربانی

خان ته سربښکته کول ســـرګردانی ده
د پـــــــــښو نه ده زړونــوستومانی ده
دا دروندپیتی چه په ســــرئې ګرزومه
سردوخوري دچنګیز د وخت خانی ده
خبربشوی چه ورته وائې پری اخترشی
په نوکر د خان هـــــــمدا مهربانی ده
غـلول چـــل او فریب هوښیاری بولی
هـوښــیاری کښی پټه شوی شیطانی ده
وایم زه له ولــــوړې مرم ته له مړښته
وائې چوپ ښه! دغه برخه اسمانی  ده
داسلام په نامه څـــــــه ظلمونه کیږی
مالـیدلی خـــانه !  ســـــــتا مسلمانی ده
چه دخواروغـریب خد مت ته ئې رابولم
وائې کله زمـــا کـــــــــــارپادوانی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـــم زمونږه خـــد متګارهم مو باداردی

دا یوه عـــــــملی بـــــــــله زبـــانی ده

ښه پوهـــــــیږم له بــــله ځایه الهام اخلی

کـــه څـــــه وایم وائیـــــې دا بد ګمانی ده

نه ئې فکـــــر د دې ملک نه ئې لباس دی

په کــــــالـــــــه کښی ئې قالینه ایرانی ده

چه هر څومره څه لری ټول خارجی دی

بس یوازې تـــــــــــذکره یې افغانی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پالیسي

د غـــــــــــــناد تن جامه کی مفلسی ده
د تـــــــــــــقوی لباس کښی پټــه ابلییسی ده
دنیا دار که کله اغـــــــــــــوندی خــمتا
د روپـــــــــــــیو امیانی هم ګــرباسی ده
په ظاهره که قاتل په مقــتول ویـــــــــرکا
مرثیه نه ده سنـــــــــــــدره حــماسی ده
څـــه چی وائی ښه وائـــی واوره باورکړه
ته پوه نه ئی د ده ژبـــه ســــــــیاسی ده
نن په سرځای درکــــــوی سبا خــپولاندی
دغه ټیټ وپاس کیــدل دیـــــــپلاماسی ده
تملق په اخــــــــــــلاقی بڼه کښی وینم
اوس ئی نوم قـــــــــدردانی حق شناسی ده
ډیرکارونه په هغه خـــــــوله اجراآ کیږی
چه ئې کارقـــــــــد مبوسی کاسه لیسی ده
چه په ژبه څــــــــتی هغه ئې خوښ وي
پالــــــــــیسی ئی په رښتیا چه پالیسی ده
داخــــــــــلی سیاست ډیردی راتیټ شوی
زیربنا د لـــــــــــــوړمقام قد مبوسی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایئـــــــی وجه یی وجهه کښی ده هرګوره
مؤثره علاقه خــــــــــــــدایږو جنسی ده
مینوژب کښی چه بازارته لـــــــوڅه اوزی
مه وایه چه یارانه ئی لـــــــــــباسی ده
نامردان وایی مـــــــــــردۍ کښی مزه نشته
خوندوره غوښه ګـــــــــــوره د خسي ده
په آغاز ئې مه غولـــــــــیږه انجام ګوره
مالیدلی شهنامه د فـــــــــــــردوسی ده
له بل ځـــــــــــایه ده راغلی دلته نه وه
د څوورځو مــــــــــیلمنه دیموکراسی ده
حاکمان ولــــــسولان شوه نور څه غواړی
مونږ ته بس د موکراسی نیمه سی سی ده
ولسواله! ستا په خــــــوله به تول عمل کا
اولسی جرګه بیـــــــــــشکه اولسی ده
که ((الفت)) ولاړ یــوازی په مــیدان دي
بیکسی ده هسې نه چــه ناکــــــــسی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زه او دي

ماوې په زړه کښې به ځای درکړم ده وې برښه دي

ماوې قـــــــــدم دې په ليمو، ده وې په سر ښه دي

ماوې ملـــــــــګرى به دې يم په يوه لاره به ځو

ده وې چه پيټی زما يــــوسي ما ته خر ښه د ي

ماوې د خرو دوران تيرشوی خــر کاري ښه نه ده

ده وې ته پوه نــــــــشوې ملګرى نه نوکر ښه دي

ماوې هغه د سرســـــــــــړی دي په ښه نوم ياديږی

ده وې د ټول ولس د پاره بس يو ســـــر ښه دی

ماوې په يوســـــــــــر باندی کله ټول کارونه کيږی

ده وې له سـل سرونو يو سر ښکرو ر ښه دی

ماوې ولس به شي بې سره که ســــرونه نه وي

ده وې زما د سر دعا کړی دی بــی سر ښه دي

ماوې چه بې ستـــــــا له يارانو دانورهم حق لری

ده وې ها ها په پاده خــــــــپل مال ته نظر ښه دی

ماوې خـــــــــــــدمت په صداقت قام او ملت خوښوی

ده وې تر څو چه چلـــــــــيږی چل او هنر ښه دي

ما وې ملت کښې ډير صادق خدمتګاران شوه پـــيدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده وي له داسې مـــــــــــــــفسدانونه  حذر  ښه دي

ما وی هغه د خلکو خوښ دي پری ټولیږی خلک

ده وې زه نه غواړم  لیډر مــــــــــا ته بې لیډرښه دي

ماوې چه پس له دي کوتـــــک کوتکماری ښه نه ده

ده وې رښتیا د فریب  دام   د خولي  منتر ښه  دي

ماوې نورخلک اوس روان پاس سپوږمۍ ته خیژی

ده وې سپوږمۍ نه خوزما څنـــــګ کی دلبر ښه دي

ماوې چه خپل خیر نورد خلکوشرکی مه لــــــــتوه

ده وې جاهل دي اوجاهل تردی بــــــــتر ښه دی

ماورته وکړی ځوخبری د حـــــساب و کــــــتاب

قیامت یې جوړ کړ چه سل ځله تری محشر ښه دی

## ترقي او تمدن

په دی لاره غوائې هم اوس په موټرو کی تیریږی

خو موټرته په خـــــــــــتلوغوائی کله  سړی کیږی

که سپوږمۍ ته سپی اوچت شی د تخنیک له برکته

په د لوړومـــــقامونو له سپــــــیتوبه نه خلاصیږی

چه وطن ترقی وکړی دڅارویوژوند هم ښـــــه شی

سویه د ژوند جګیږی ماهیــــــــت یې نه بد لیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس چه ډیربازارته لاړشی تمــدن سره آشنا شی

د مره فرق په کی پیــداشی چه موټرنه نه ویریږی

په سپیتانه که هرڅومره ترقی د چا نـــصیب شی

ځای ئې برمقام برشی شخـــصیت یی نه لوړیږی

لیاقت چه ښه تحلیل شی بل شی نه دی تصادف دی

احمقان په ښو چانسونو پخپل ځان باندی غولیږی

څوک چه ډیرله حده لوړشی وجود شی بی تناسبه

هرڅوک ګوته ورته نیسی له هرچاڅخه شرمیږی

که ډیر غـــــټ نه ئی سرپه پام کوه چه خپه نشی

هغه څومره په غذاب شی چه له حده ډیر غټیږی

ابتداء انتها دواړه مساوی دي که څوک پوه شی

وګوره !شیخ فانی نه بیا ماشـــوم طفل جوړیږی

دناپوه مقام ته رسي چه ښــــه پوه په ناپوهی شی

لوی پوهان اخرکی وائی چه په هیڅ شی نه پوهیږی

ډیر بینا چه شی نه وینی خوشحالی بیا په حیات کی

ښه لیدی نـــــــــشی دانا چه بد بینی ته ورسیږی

رڼا ورځ ورته تورتم وی سپین هم توروورته ښکاریږی

بیا په دغه لمر هیـــــــڅکه دده شپه نه ســــبا کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څه جوړېږی؟

چه لوی کاردار ځان نته مکان جــوړوي

وایی لوی کور افغانــــــــستان جوړوي

خوشی ناست نه دی ورته ښه وګــوریٔ

د حــــــــرم باغ لکه رضـــوان جوړوي

جنـــت ئِی جوړ کړ خـو هغه به ورځي

چه ځان نه حـــوری اوغلمان جوړوي

وایی اصلاح مې کړه شـروع له ځانه

ځکه اول ځان بیا جهان جـــــــوړوي

خرب ئِی که جوړنکړ زیارت ئِې جوړکړ

لیډر که نه جــــــوړوی ځان جوړوي

دلــــته چــــــه هریو پس له بله راځي

ځان نــــــه ولي بل نه شیطان جوړوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مــــــــــــــدرسه کښې د اغيارو کله

څوک د افغان ځوی نه افـغان جوړوي

پــــــردي کلتورپردي لمسون له سرې

حـــــــــــلقه بګوش د اين آن جوړوي

سرکې څه نه پرېږدي ماغزه ئې مينځي

د سرو ييښته ئــــــې په ښه شان جوړوي

مود پرســـــتې دومره غالبه شوه اوس

ځان خـــــرڅوی او چا ته ځان جوړوي

غلط علاج نه بي عـــــــــــلاجه ښه دي

ناجوړه ښه دی که ئې وران جوړوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بې چله اوناچله

دلــــــــته کله څوک چلیږي بې څه چله — دې بازارکښی خوبې چله دی ناچله

داهم چل دی چه خرپلار کړه خپله چارکړه — پلارګلوی مې د دي خلکو ولـــــیدله

سیـــــــــاست په دي چل ډیرښه پوهیدلی — چه خـــــــپل ظلم عـدل وښئ هر کله

چل دانه دی چه هر چاته چل ښـکاره شی — چل هغه دی چه چل نه ښکاری هیڅ کله

چل ئې نزده چه یه چل دي مشهور شوی — لغمانی دی څه چل زده کړی له کوم بله

هغه څه کاچال چلند د دنـــــــــیا والو — مامله ئی د دنیا چـــــــــه پر ییښود له

دا ښایسته دعاج ږمنځ یې په کار نه دی — چه ئې سر اوږیره پا که وخــــریله

څــــــــه په کار زری پېڼه ده هغه چا ته — چه پـــــښه ئې له زنګونه غوڅه کړله

په زینو د زړه رنځور ته ختل ګران دی — ماته لاندې خـــــــونه ښه ده له برجله

چه ولس له هرې خوانه پریـــــشان وي — ته هم ښه ئې پریشان خـــیالی اوربله

## رښا

د هــــغو له مــــخې هـرکله رښا وې — چه په مخکښی یې د حسن تـــجلا وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسپین مخ په رڼا زړونه ژوندی کیږی — د بلبل ژوندن د ګل په تمـــــاشا وي
چه ښایست د چاپه سترګوکی ځای وکا — یونظرئي هم اکسیروی هـــم کیمیا وي
د جمال رڼا ته مونږه خوشحالیږو — منـتظر د توري شـــــپي غله د دنیا وي
له ښه مخه څـــــوک مخ نشی اړولی — زهدان ورته کــتونکی په غلا غلا وي
عـــــــبادت نه ده ګناه ده ډیره لویه — که طاعت حقـــــیقی نه وي د ریا وي
چوکی نه ده شخصیت دی د ساتلو — که چا خپل ځان پیـــژندلی په رښتیا وي
لوی دښمن د شخصیت شخصی نظام دی — په نطفه کی یي لا وژني که د چا وي
چه رڼا وی د ایمان د چاپه زړه کښي — دخپل وخت فرعون لره لکه موسی وي
څوک چه لوی اخترکوی قربانی هم کا — سود زیان د دنیا هروخت خواپه خواوی
نه پـــــــــتیږی منورفکر مغزو کی — نه پـــــــــتیږی که د چا بدن کی سا وی
که رڼا ده د ښـــــــــکلا ده یا د علم — سخ د هغه چه دا نا وي یا لـــیـلئ وي

# قبیله پرستی

با داری دي خـــــوازاد نه دي قـــبیله کی دي اسیر
خــــــیل او زی نه وتی نشي که وکیل شی که وزیر
دلـته ژوند قبـــــیله ئی دي قبیله لکه قبله ده
تـــــوجه ورته لري ټول که صغیر دی که کــبیر
فکرخوی قــبیلوی دي تش لباس ئې مـــــدني دی
آغا نه دیموکرات کیږي که هـــــرڅومره شي تنویر
قبایل اوعــــشایر لاپه قـــــــــــوت اوزورچلیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



قـــبیلی تـــــقویه کیږی مـــــلیت خوارو حقیر

جنګ جـــګړې د قـــبایلو په قانون کله حل کیږی

تـــــش په ښار کی په څـــوکسو قوانین لرې تا ثیر

یو غلجی بل درانی دې څوک تاجک دې څوک ازبک

د افغان له کورو کلې خدایه ورک کړی دا توپیر

شته په هر قام کی ګوندونه په یوه خیل کی خیلونه

شوه ټوټې ټوټې قومونه که مســــــعود دی که وزیر

فرقوی تعصبونه ګوره ورځ په ورځ زیاتــــیږی

یو هم نکړی په دې کار کی نه تاخیر اونه تقصیر

چه اساس قبـــــــــیلوې وې او احساس خاندانی وی

په ولـــــــس یی نظر نه وي په خپلوانو وی زهیر

د ملت په نامه باندی قـــبیلی ته خدمت کاندی

که احـــمد او که مـــحمود دی ګـــــنه یود بل نظیر

خیال اوفکریی لوی نه دی که ئې نوم هرڅومره لوی وی

نه پـــېژیږی پری پوهـــیږی که اعـــمی دی که بصیر

که تعبض اوامتیاز وی هرڅوغلی په پرده کښی

نه پېژیږی پری پوهیږی که اعمی دی که بصیر

فامیلی احساس غـــــالب دي خویشخوری کله پــــېژیږی

که هـــــرڅو ئی پټوی څـــــــوک په خبرو په تقریر

یوه کورکی اوســــیږی د یوه کـــوریی مه بولـــــه

حیـــثیت یی برابر نه دی د بــــا دار او د اجــــــیر

قبـــیلوکی صاحبان شــــــــته اغایان اوبادران شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



بی قانونه حکومـــــــت کا خان وبیګ ارباب او میر

نامرئی وزیران نوردي نه دا عین و جیم چه ګوری

مجبور وګڼه هر ګوره دارسمی مـــــــــریی وزیر

حقیقی فاعل یو بل دي دا چه ویني مـــــــنفل دی

دی څه نه کا په ده کیږی که تخریب دی که تعـــبیر

همنوعی که دلتــــــــه نه وي ده جنسی علاقه ډیره

چه ښه جنس ورته عرضه کا بیا د عرض ګوره تاثیر

که هرڅومـــــــره وی بد مخی مخور او معتبر شی

چه سره ســـــپین لری په کورکی یا ښه مخ درمنیر

مه غولیږه عالیجاهه که په خوله درته دعا کړی

جــــوړه نه راځی په زړه کی د بدای او د فقیر

خوله په سوک شی ماتولی د سر سترګی ړندولی

خوتړلی نشی ســـــــترګی د وجدان او دضمیر

د لـــــیکوالو وظیفه ده چه ازاد قضاوت وکا

ازادی اصلی معـــــــــنی ده محرر! د تحریر

عدالت دیموکراسی هم دلـــــــته شوه قبیلوی

او که دغه شـــانته نه وي څوک یې کله قبلوی

## د شوری فضا ۱۳دوره

څـــــــه طوفانونه د شوری خړه فضا کی وینم

(c) ketabton.com: The Digital Library



تندرږلی ســــیلاب سیلی رعد بریښنا کی وینم

څه پیښیږی څه به کیږی ټول حیران غوندی دي

هر یوپه وهم په تشویش او په سودا کی وینم

مترقی او مرتجع یوهم خـــــــوشحاله نه دي

نه په بډای کښی خوشبینی نه بینوا کی وینم

د ولایـــــــــــاتو قـــــبیلو د مذهـــــبو د ژبو

اخـــــــــــتلافونه تفرقي نشو ونما کښی و ینم

د نوی فکر او زاړه فـــــــــــــکر د قهر ټکر

دلوی بـــــــد لون د پاره یسفک الدما کښی و ینم

چه خوری سرونه او په ویـــــــــنو مړیده نلری

قهر آمــــیز جنګونه ډیر په اشتها کښی وینم

چه مونږ یي غوښه اوچاړه کړو د قصاب لپاره

نشم ویلی چه دا لوی فساد په چا کی وینم

له ناپوهی سره ګډ ژړند دی سیاسی مصلحت

پوهي سره مجادله په لوی لالا کښی وینم

څومره فاسد اغراض په څومره لفافو کی دی پټ

څومره فـــــتني پټي په رمز او ایما کښی وینم

بیا به تازه شي هغه تیر او زاړه زخمونه

د غږ وهــــــــلو بد اثر په غـــږیدا کښی وینم

د افغانی وحدت په حـــــال می زړه رپیږی مدام

بله نقشه د سیاست پـــــــــــه دورنما کښی وینم

د اتفاق ناري وهـــــــــــــــي د نفاق اور بلوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وستې پټ کښې پټه دښمني زهر دوا کښې وینم
کومې جګړې چه قبایل ئـــي غرو رغو کې کوي
اثر ئې دلـــته د شورې شورو غوغا کښې وینم
که جنګ د اور شیبر کې بل کړې هزاره اوپښتون
د لمـــبو تاوئي د وکیل صاحب وینا کې وینـــم
ښې او چـــپ یو هم اعــــتماد په حکومت نلري
له خــــــلکو لرې حکومت بله هوا کښې و ینم
په ســـیاسي نظام کښې څــــومره خلاګانې لرو
دا بې اساسه حکومت بیت الخلا کښې ویـــــنم
پریږده چه ډک زړونه کړې تش د اعتماد د پاره
پریږده چه ډیر څه ووائي خیر دې په دا کښې وینم
قهر که هر څومره زیات ډیرې ویـــــنا سره ځي
ډیر لوی خطر د قهر جنو په چپتیا کښې و ینم
د اعتـــماد جـــلـــسو ډیره آتــشیـــنه ویـــــنا
آخر سرېږي د دې اور ایرې هوا کښې وینم

## په چاپسې ځي؟

نن په یوه پسې روان سبـــــــــــــــــــــا په بل پسې ځي
کله په بریږې پسې ځـــــــــــــــــــــې کله اوربل پسې ځي
د اقتدار خولۍ چـــــــــــــــــــه اینبې په هر سر باندې دي
سرته ئې نه ګورې خــــــــــــــــــــولۍ د قره قل پسې ځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرق د شپانـــــــــــــــــــه او د قصاب پسونه کله کوی

چه شنه گیاه ئی لاس کښی ووینی قـــــــــــــاتل پسی ځی

رنګ یی کړه ورک چه په خــام رنګ محض جلبل غولیږی

نه ماهیت نـــــــــــــــه ئی هیت وینی محل پسی ځی

لکه سرسام بـــــــــــــــی فکره هری خواته لاس اچوی

د تحول په نـــــــــــــــــــــامه محض تجمل پسی ځی

ځان غورځوی لــــــــــــــــــه ګړنګونو په یوه اشارت

مندِه وراخلی هسی نـــــــــــــــــــه چه تامل پسی ځی

افتخارات اولـــــــــــــــــــــوئې ګټې مشکلاتو کښی دې

د لوړ همت خـــــــــــــــاوندان ځکه په مشکل پسی ځی

## نه ګورم

چه کـــــــــــــرلی اســـــتعمار وي هغو ګلو ته نه ګورم

پردی ساز ته چه ګډیږی هغو ښـــــــــــــکلوته نه ګورم

له هغو ســــــــــــترګو ځاریږم چه پکښی شرم و حیاوی

خدای دې عشق بې پردی نه کا پرتوګ ښکلوته نه ګورم

که د فکر ښـــــکارولو یا د حـــــــــــــق ویلو ځای وي

د چا سترګو رډولو غاښ چــــیچلو تـــــــــــــه نه ګورم

په توده مینه چه نکړی دا ســـــــــاړه زړونه تاوده څوک

په تودو تود و خـــــــــــبرو تودولو ته نه ګـــــــــورم

چه هــــــــــــر څـــــــه وران ویجاړ وینم کار خراب دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خبرو یې چه جـــــوړ کړی هغو ځلو ته نه ګورم

## دروغ او رښتیا

په رښـــــــــــتیا ویلو ډیر زړونه بدیږی

آزادی د فــــکر ګـــــــــرانه تمـامیږی

سیاست له حـــقــــیقت سره جوړنه دي

چه دا یوخوشحالوم بل خـــــــــپه کیږی

ښه پوهیږم دروغ خواږه رښتیا ترخه دی

دې خوږوته زما خوله کله جــــوړیږي

دامونږ تول ورته وړانده ښکاروکه څنګه

چه د شــــرم کار کوی او نه شرمیږي

په رښتـــــیا چه زورورنلری سترګی

په رښتیا چه سترګی سترګونه شرمیږی

د هغه قاضي به څه راز قـضاوت وي

چه قضائي خپل حاجت ته منسوبیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا رښتیا ده چه د دروغو مزل لـنډوي

یعنی دا چه سړی ژرځای ته رسیږی

چه د چا په نوکری سرلوړي کاندې

سرله دیــنه زیات هیڅکله نه ټیټیږی

## د درګاه سپې

د صاحب د درګاه ســـپې

د غـــریب کاله سړی

په نظر کښی یو شان نه دي

یو ئې خـپل دی بل پر دی

د جـــناب په نامه یادیږی

د لـیـلی د کوڅی ســـپی

جـنـاب نه دی هـــر سړی

که مزدورشی د صاحبت څوک

له هر چا نه وی بی قـــدره

که څوک ځان ورته سپی کاندی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د صاحب پری خاص نظروی
سړیــــتوب ساتل گـــــــناه ده
په حــضور کښی د بـــادار
په نظر کښی د اســتــثمار
هغه سپی چه صاحب کور کښی
په نــعمت او ناز ســــــــاتلی
یو سړی د ســـــــپی خدمت ته
بودجه کښی منـــــظور شوی
نورو ســپــیو غـــوندی نه دی
له مـــــــــزدوره معـتـبر دی
د صاحب چه پری نظر دی
صاحب وائیې زما سپی ته
د ســـړی په نــظر گورئ
په ادب کښی یی هـــیڅکله
له انــسان نه کــم مه بولـئ
اودس نه ماتوی کـور کښی
ځــــــې د باندی چیرته لرې
چه ئـــې نکړئ چغه کــورې
له دهــقانه ئی ژوند ښه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په صابون مینځلی کـــیږي
ډیر خواران او غـــریبان یې
ژونـــدانه ته هـــوســـــیږي
لکه ســــپی د یـــورپیانو
نازوی ئې بي بي جـــــانه
چه په ســـپی ده مهربانه
د ســــپی دا قـــدر چه ولـید
بې هـــمته انــــــــسانانو
ډیرو ومـــانه سپـــیـــتوب
د دنــــــیا د صــــاحـــبانو
سړی سپی شوه سپی سړی شوه
د صـــــــاحب له برکـــته
او زمونږ له دون هـــــــمته
که انسان اســـتخدامیږې
عملاً د سپی خدمت تـه
د قانون نظر خو ښه دی
د انسان لوړ کرامت ته
حقوق واړه مساوی دي
د بـــداي او د فـــقـیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



د صاحب او د حــــقـیر

# زندان

لاړم دارالـــــمجانــــــین ته

هلـــتـــه و څو لــــیــــونی

ډیـــر بی قـــیده غـــږیدل

ژبـــې نه وی په فـــرمان

ازادی وه د بـــــــــیان

په خـــبرو بنـدیز نه و

نه و ډار د څـــــــارنوال

د خطر احساس هیڅ نه و

بی پروا و ناطـــــقان

نا خـــبر له این و آن

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیدې رنګ په رنګ خبری
بی ادابو بې ترتـــــــیبه
د هر چـا کلام مصؤن و
لکه ځـــــوی د پارلمان
لـــــه قـــانونه په امان
دروازې که وې ترلی
ځنځیر پـیـچ و لـیوني
په نامه شــــــفاخانه وه
هــــــیچا نه باله زندان
بـدل شـــوی و عنوان

له هــغه ځـــایه چه لاړم
د محـــــبس تورو کو ټو ته
هوښـــیاران لا په عذاب و
تــــــرینه ښه و لـــیوانیان
دا د عقل دښــــــــمنان
په پښو کی زولـــنی وې
په لاسو کښی اتـــــکړی
هــــــوا حبسه رڼا نه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندون ډیر و هر اسان

په بد حـــال کښی و بندیان

مــــګر ژبې بندې نه وی

ویــــــــنا وه ډیـره ازاده

نه له بند څخه بـــــندیان

نه له اوره پتـــــــنګان

چــــــــه راووتم له بنده

تګ راتګ هر لور ازاد و

هر څوک و پخپله خوښه

غـــــــلامۍ ته و روان

د یوه د بل بـــــــندګان

آزادی د فـــــکـــــرنه وه

ژبې بــــــندی وی له ډاره

په احتیاط احتیاط مجلس کښی

غـــــــــږیدل به وزیران

وایه! چــــــیرته و زندان

په کوم ځای کښی و بندیان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د محیط تاثیر

سوزوي مو اوبه  هم چه په جوش راشی

اوبه اورشی که محیط ئې وي سـوراور

په اوار  بستر  کښی سیند  درمی ارامه

خوپه چړ کښی یې بیا ګوره شر و شور

په هر څه کښی د محیط  تاثیر ته ګوره

وی بې زهره وچه اوبو کښی وي منګور

لوګی اورنه دي پیداخوڅوک نه سوزی

د محـــیط اغـــــــــیزه کله لری مور

(c) ketabton.com: The Digital Library



له یوه پــښته رڼا او لوګــی دواړه
د یوه مخ مـــــنور او د بل تــــــــور
د مظلوم د زړه تاو ساړه آهــــــونه
ســــــــــوزوی دظالمانو کلی کور
د ظالم عاقبت خـــواري له هر چانه
ما ډیـــر خوار و زار لیدلی ظلم زور
ډیر سپاره مستو آسونو غـــــورځولی
یزید هم د اقـــتدار په آس و سپور

## د دهقان درس

وائې چیرته په کوم ځای کښی یوه د هقان و
چه رستم د زمانی ورته حــــــــیران و
ډیر غـــــــویان یې سترې کړی وجغ لاندی
په قلبه کی ئې اوبه کړې ډیری سپاری
نری شوي ئې په لاس کښی ډیر یومان و
کار او زیار ته ئې ورکـــړی امتحان و
د خپل مــــــټ او بـــــــازو له بـرکـــته

(c) ketabton.com: The Digital Library



له هر چانه  ئې ژوند ښه کــور ئې ودان و
له نســـتۍ  نه راوتلی و  هــــــــستۍ  ته
له وچ ډاګه  ئې جوړ کړی  ګلـــــستان و
رســــــیدلی ئې باغــــــونه  و ثمر  ته
د انګورو  ورې  څوړند  شان  په  شان و
چه   ناڅاپه   دا  د کار  سړی رنځور شو
بیاپکښی نه هــــغه زورنه نه هغه توان و
چــــــه د  باغ  د  ونـــو ونکړه  پالـــنه
د زامنو  په هــمت کـــښی ئې  نقصان و
باغ له دربو له کـــبلو څخه ډک شـــــو
د وحشی بوټو له لاسه هــر څه وران شو
نیستي  بـــــیرته راروانه شـــوه کاله ته
چه د کار ســــړي  رنځور او پریشان و
د دهـــــــقان ووې ای زما خوارو زامنو
له یو تاک لاندی ما ایښی ډیر شـــیان و
اوس ئې ځای  ښودلی نشم  دومره  وایم
چه وړیائې مـــه ګڼئ  په قیـمت ګران و
که په لاس درشي نیستی به موشی غوڅه
له روستۍ  سلګۍ سره   یې دا بیان  و

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دهقان زامن د پلار له مرګه وروسته
شپه اوورځ په باغ کښې سترې اوستومان و
د هرتاک بیخ ئې ســـپېره چه څه پیداکړی
پـــه تلاش کښې د موند لو سر ګردان و
دباغ خاورى لاندې باندې شوې څـــوواره
هیڅ پـــــــیدا نه شوه د ورکی په ارمان و
پـــــــس له ډیرو زحمتو ډیر و خـــواریو
تفاوت د باغ حاصل کښې صد چـــندان و
د دهـــــــــقان عملی درس د رمز په ژبه
کړه ثابته چه د تاک لانـــــدی ډیر شیان و
چه د کار سړی جوړ کاندی لـــــه بیکاره
دغـــــــه پـــــوه او هنر کار د دهـقان و

## چا څه راوړه او چا څه

چا جهان ته تش کـدو غــوندی سر راوړ
چا په سر کښې فکر لوی لکه غــر راوړ
چا د شمع په شان خپل کور رڼا کړی
چا سحرغوندی له ځانه سره لمر راوړ
چاته تـندر ځان سره دی مرګ راوړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د باران څــاڅکو صدف ته ګوهر راوړ

راووړ اِنجې ډیر ناوړه بوی جهان ته

ګل دنـــــیا ته خپل وجود معطر راوړ

یو ښاخ ګوره تش کوتک شو د وهـــلو

بل ښاخ ګوره چه ئې سیوری ثمرراوړ

له یوه لرګی نه دارجوړشوبل یوټّل شو

چا له ځان سره خیرونه چا شر راوړ

چاکړه زیاته دښمنی په دی عالم کښی

چا پیغام د محبت د بــــــــــشر راوړ

د چا لاس کښی تیره توره ده ګوابنیړی

چا د پـــــوهې او د فکر هـــــــنر راوړ

چاد خلکو د امید سترګی ړندی کړی

چا د زړه سترګو ته نوی نظر راوړ

انسانی فکر ئې جګ کړ تر افلاکو

د بشر پـــــوهی لره ئې وزر راوړ

هغه مه هــیروئ هــیڅکله عـــــالمه

چــه عــــالم ته ئې د مــینې اثر راوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په ښکلا مین

ځوک مین په ښکلا ځوک مین په ښـــــــکلو
یو په خوله  ترې اخلې خوند بل په کــــــتلو
د  چا برخه د ښکلا  درک  و احـــــــساس
د بل برخه  وی  جنسې د لک و تـــــــماس
یولیوال وي چه ترې واخلی خوندخلوت کی
بل وی محوه په جـــــمال  د طبیعت کښې
محــبوبه  د هنر مند ښــــــــــــکلی معنا ده
معشوقه  د بـــــوالهوس  پادر  هـــــــوا ده
د چا ســــترګی ځاری ستوری او سپوږمۍ
د چا برخه  هــــــــــــــوسونه  خر مستۍ
د یـــــــوه نظر  په شکل  او صورت وې
او د بل محـــــــــبوب  خــپله محــبت وې
ظاهر بین په سپین پوستکی میــنـــــــیږی
سطحی  مینه  ځی پوستکی  ژر توریږی
شکلی وی فـــــــانی ښکلا ده بی زواله
بـــی نیازه له ګانو له  خــــــــــط و خاله
د ((الفت)) محبوب عرض نه دی جوهردی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نظر کښی ئې چه ښکلی دی هنردی

## څلوریځی

فکر کښی خیال په خیال کښی فکرنیول
معنی ته رنګ ،رنګ ته معنی ورکول
د شاعـــــر کار دي شاعـــــــری وګڼه
د زړه په سترګو خوب په ویښه لیدل

د معنا د زړه په راز ورمز خبریم
دژوندون ښکلا ته سترګی اونظریم
دادلاسه او پښو کار له مامه غواړی
خیال او فکر ته پیدا په شان د سریم

هغه وینم چه یې نورنشي لــــــــیدلی
هغه وایم چه یې نورنشي ویـــــــلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته څوک د حال په ژبه نه پوهيږي

زه په ژبه د مآل يم غـــــــــږيدلی

څلوريځی

که رښتــــــــــيا نشي ويلی اوسه غلی

دروغ خومه وايه که ځان ګڼې ښاغلی

آس ئي مه بوله براق ورته مه وايه

بې لکۍ خره ته که خر نشي ويلی

پخواکور کښې بي بي ناسته وه مستوره

تــــــله بازار ته په سودا پسې مزدوره

اوس بي بي سر توره ووته بازار ته

ده مزدوره د کور ناستي ته مجبوره

## څلوريځی


غــلام عقل غــــــــلامی لــره پــيدا وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره پوه په خوی اوبوی دخــپل آغاوي
چه په خیال کښی ئې سباکه یوڅه ګرزي
ده ئې وچولی کښی لوستي ډیر پخــواوي

د آغا ګناه بي بي غـــــــوندی مستوره
د مزدورګناه هم وی لکه مــــــــزدوره
بي بي نشی لیدی څوک مزدوره وینی
څه به وایم د دی خـــــــلکو له شعوره




لـــــه توټکو غــــــواړی اثر  د مسیحا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـــــــتوري غـــــــواړی له زانو د هوا
احمق سپي ته وابنه ږدی اوبن ته هډوکی
کـــوي ړوند ته اشارت ګونګ ته وینا

حکومت که قانونی نه وي شخصی وي
دآغا ،آغازاده او د بـــي بــــــــي وي
کورنۍ او خیلخانه پکښی خاني کا
قندي ګل شاګل ماګل پکښی خوندي وی

ځان د چا غلام کړه که په نورو باداري کـــوي
سر تیټول زده کړه که کارونه سر کاري کـــوی
هـــلته زوروړته په ګــــــونډو لاس په نامه اوسه
دلته که فرعون غوندي په مونږ کلانکاری کوی


ته ئې چه بد ګــــــڼې هغه خلکو ته ښه ښـــــــکاریږی
تا ته خواږه خلکو ته زهر ونه وترخه ښـــــــکاریږی
چه په مجلس کښی یی ساتې د سترګوتورشی د قام

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په قصرونو کی ځای ورکړې هغه غله ښکاريږی

معکوس شوې اساسونه د هـــــستۍ
ځکه لوړ مقام ته رسي په پـــــستۍ
ډیرخه مومي چه له ډیروشیوتیرشي
غلامان يې کړه خانان خان پر ستۍ




هم شعرونه هم کارونه کــــــړه جوړ
دلیک لاولوست مي کتابونه کړه جوړ
دوه پښـــتانه مي نکړه هیـــڅکله
که مي هر څومره مجلسونه کړه جوړ

قهرمان د ســــــیاست دي هر یزید
ولایـــــت لره په کار دي بایــــزید
شاهان فخرد دنیا په تخت وتاج کا
ادهم تـــــاج نه بهتر وګڼه تبعید

(c) ketabton.com: The Digital Library



قـــــانون وی اول نظر کښی ډیرښاغلی
چـــــــه لانه وی د عمل کـــورته راغلی
نقص اوعیب ئې په عمل کښی معلومیږی
خصوصاً که چلوونکی وی نـــاولی

چه دویـــــنې درجه دې نـــــــشي دنګه
نـــورڅه مکړه زندګی دې کړه بلمنګه
ژوندون هـــله شی بې مالګی چه سړی
سترګی پټې غوږکړی بنداو ژبه ګونګه

مخالف وي یوله بله حال او قال
په وینا کښی ګوره عکس د مقال
د پښتودا حماسي عالی شعرونه
درته ښیٔ د پښتون پریوتی حال

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښـــــــــــتون ډیر دي تیرایستلی شاعرانو
مغرورکړی په ستایـــــــنو ادیـــــــــــــبانو
که اوس سل ګزه کوهي کښې ښکته پروت دی
ورتـــــــه ځان ښکاری اوچت له کهکشانو

څلوریځی

لاپې شاپې ځان ستایل غټې خبرې
که هر څووی زړورې زورورې
قوت نه دي کمزوري او بیوسی ده
شاعرانووراغوستی خول اوزغرې

ښځه حق لري د ژوند او کار کـــــــولو
لکه نرد لـــــــــیاقـــــت خـــــــرګندو لو
په دي شرط چه اهلیت وښئ په کارکی
نه چه ځان ښئ په ځان سینــــــګارولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماموریت که په ښه وجه ښه صورت وي
لبسرین پوډر ته به څه ضرورت وي
کار ورانیږی نه وایمه چه څه کیږی
که معیار د لیاقـــــت زیب و زینت وي

د ځان ساتلو پوهه عامه ده هر چاسره ده
هم له انسان هم ځناورو د صحراسره ده
د حـــق ساتلو او د ځان قــــربانولو پوهه
لــــه اولوالعزمو لویوخلکو د دنیا سره ده

د کار خلک نه کـــوي ډیری خـــبری
د خولې شور کله کوی د جنګ لښکری
چه ســــــندری جوړوي هغه وي غلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سندرغاړې  وایي شیه او ورځ سندرې

فــــکرمه بیایه  یوی خواته  مدام
چه محدود نشي هرلورته کوه پام
مقید ئې د ګاډیَ آس غوندی نکړی
له او هـــــــا موئې ساته په اهتمام

څه په کار به د چا هغـــــسې شوری وي
چه د ږیرې واک ئې لاس کښی د ملاوي
کله اور کله اوبـــــــــه وي  کله  هیڅ نه
ګاه د وســپنو نــینې ګاهی  حــلــوا وي

ځــینې ځیــنې تــشوي  پکـــښی ډک زړونه
ځینې نور  غـــــواړي چه ډک کړي تش جبونه
په وینا کښی چپ په رایه کښی چه راست وي
مخــــــالـــــــفـــه ئې ده ژبه نه لاســــــــونه

څلوریځی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هــرچا هــر څــه په  یو رازنه دي لـیدلی
څوک یوراز اوڅـــوک بل رازدي پوهیدلی
د ګـــــــــمان که نه وي حــقیـقـت کښی
چـــا چه نوري دي غـــولولي غـــولیدلي

په جهان کښی چه مردوده باداري شوه
روحاني رنګ کښی راووته پیری شوه
د پیری او مریدۍ  بازار چه سوړ شوه
سیاسي رنګ  ئې  پـیدا کړ لیډری شوه


په ورانکارو چه کارونه جوړوي
حقیقت کښی جوړکارونه ورانوی
یاتګی یاډیـــــره زیاته سادګي ده
که بتان په بت پرســـــتو ماتوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدبینی نه ځی که دید هم لاړ شی له لیمونه د چا
په  تن مینځلو خیری نه اوزي له زړو نه د چا
یقین راځي راځي د یو د بل په خــــبرو باندی
بد ګماني نه ځی هیـــــښکله  له مغزونه د چا

په تعلیم به یوڅوک پوه په زیرو زورکړی
بی هنره به صـــــاحب د کوم هنر  کړي
ورپه سربه کړي خــولیٰ  د  پوهــنـــتون
باورنکړم چـــــه بدل  ماغزه د سر کړي




له ځـــانه لري شه چه ځان ویني
جهان نه اوزه چـــه جهان ویني
نه ډیر نږدې لیدی شي نه ډیرلري
نه به تورتم نه ډیر روښان ویني

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو بيكاره اوناكاره به كاردار كــړې
يوبى واكه اوبيوسه به واكداركــړې
د يابو زين افساربه كــړې د زرو
ګمان نكړم چه بدل به ئې رفتاركړې

داعادي كـــــــــــتابي پوهه چه يادېږي
په ليک لوست باندې هرچاته حاصلېږى
دماغي انـــقلابي نـــايابه پــــــــوهه
كله كله كـــــوم شاعر كښى پيدا كيږي

وژله يـــــــوازې د تيغ كار نه دي
مارهم قاتل دي خوخونخوارنه دي
چه بشرى كـــــــــرامتونه وژني
هغه ګڼلى چا خـــــونكار نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



که انسان د خيټې نوم وي نور څـــه نه وي
پروا نشـــــته که پراته ورته واښـــه وي
که دماغ سترګی غوړونه زړه او روح وی
بی هـــــــــنره ژوند به بلمنګه سابه وي

څلوريځې

که هرڅومره غوليدلی عام نـــظروې
ظاهربين ساده سطحی اوکـــورکروې
که هرڅومره ښه منقوراوبد منظورکا
بـــيا ئې هم قـــضاوتونه معـــتبر وې

چه شوتله په آخــــورکښی وي واښه وي
چه په مالګه په کاسه کښی شي سابه وي
د انسان د ژوندون مالګه کيـفـــيت دی
فـــرق ئې نه وي له حيــوانه که دانه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاعربوسه غـــــواړی کنځلو سره
نه غواړی قـند مخلوط له ګلوسره
کابـینه غـواړی اعتماد له شورائ
له سـپکو سـپـــورو بد ویلو سره

د ظالم د زړه چول کار د موسی و
پکښی رحم اچــــول کارد عسی و
ورکــــــاوه یوه ظالم بل بنه کاوه
یو د عـدل بل د مـــــیني رهنماو

پیرکه خس دی بیاهم خپل مرید ته بس دی
مریدان دي ډیرکــــسان که پـیرناکس دی
له مریده بندګی د خــــــــدای مه غواړه
که له خدایه ورته ګران پیر یو په لـس دی

عقل هروخت د ضعیف دلاسه امسا ده
له قوي سره کـه نه وی ښـــه پروا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوډ اوړوند بــې امسا نشي ګــرزیدلی
تفنن د پـــاره لاس کښی د بـــــینا ده

په ضعـــیفه اراده عـقـــــــــــل حاکم وي
کـــــه قـــوي وه اراده نوبیا خـــــادم وي
د بـــشر خـــد مت ته عـقـــــــل پیداشوي
په دی شرط چــه روغ وجوړصحیح سالم وي

څلوریځې

عـقــــــل ګوري ارادي ته د انسان
چه تیری کوي که چا سره احــسان
اراده چه هر څه غواړی اوکوی ئې
دي پیدا ورته دلیل کړی اوبـــرهان

غلامي د ذهن نه ځي له انـــــسانه
د ماغ کله ازادیږی په اســـــــــانه
نه ورکیږی غلامي رنګ ئې بدلیږی
ځي بدن نه مګر نه ځي له وجــدانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاست که په اسلام هم مـــتکی وي
که هرڅومره پرهیزګاراومتقی وي
باهم هیڅ صرفه په قتل وقتال نه کا
مقابل کښی که امام د دین علی وي

شمر نوم دهرظالم د اقـــــــتدار دی
چه لوی شــــوی په کاله د سرکاردی
په حسین کله لاس نـــــیسي یزیدان
اقتدارکه مسلمان وي هم خونخواردی

یوغلام دي داوهاموخـــــــــــرافاتو
بـــــــل درسم او د رواج اوعنعناتو
په دنیا کښی خوسل رنګه غلامي شته
د شهرت غـــــــلام بنده د مخلوقاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلوریځۍ

مجلسونوکښی ښه کیږی تــقریرونه
تنهایې کښې پیداکیږی لـــوړفکرونه
چه هم فکر هم وینا دواړه عالی شی
اجتماع او انــــزوا دي دوه وزرونه

که په چاباندې غـــــــــــالبه تنهائې شي
ژوند بیخونده شي چه محض دانائې شي
که بخیی په جمعیت کښی شي څوک محوه
خوښي زیاته شي خــــــو کمه بینائې شي

یوه ښکلی ښایـــــــــــسته پری پیکره
بله توره ناشولته بد مــــــــــــنظره
کمیت کښی یی فرق نشته کیفیت دی
چه یوه ئې کړه بلا بله دلــــــــــبره

ګونګ مې خیره ړوند مې اوازپیژني
کله مې دوست غـــوندې غمازپیژني
چا په یوراز چا په بل راز ولیـــــدم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زما اصلي رازاهل رازپـــــــيژني

چه د چا فکر منفي نظرمــنفي شي
عملی جنبه شي ورکه فــلسفی شي
د شبنم طوفان ئِي مخه د کارنيسي
د  لمدو ختوخو لږ اوبه کافی شي

ذره بين عقل ته هـــــــرڅه ډير غټيږی
وړه پچه ورته لوی پيچومي کـــــــيږی
ټيټ وپاس ورته مهيب کاندی خپل وهـم
د مږک سوري ګړنګ ورته ښــکاريږی

څلوريځی

بتان چه مات کړی بت د ځان جوړوی
ځان نه  ولي  بل نه شيطان جوړوی
مريدان نيــــــــــــــسی د الله په نامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا ترینه ځاـــــــنته بندګان جوړوي

په احسان غلاموي چه بل احـــــسان
بیا دعوه کوي د خیر او داحــــــسان
دا که ستا بشر دوستي وي بشردوسته
لا به څکړي که لیوه شي یا شــیطان

خوښ مې دی لوی مجلسونه شورائیي
یا د فـــــــــــکر په عالم کښی تنهائیي
د ملګروخاص مجلس ته خوشحا لیږم
خوښ مې نه ده مجلسونه هـــــرجائیي

ظالم خـــــــوب کښي ډیر په زوره خریده
دي ویده و خو را ویښ ئی کــــــړه ویده
دایې خوب دي چه نورخوب ته نه پریږدی
لابه څه کړی که له خــــــــــوبه ویښیده

په یــــــــوه ډوډئ مړیږی قــلـــنــــدر
په ملکــــــونونه مړیږی سکـــــــــندر

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څوک پوه شي بډای وږی فقیرموړدی

له بـــډای سره تل جوع الـــــــــــبقر

یووکیل ته ځـــوی ویل چه ولی پلاره

کارته نــــه ځي تنخا اخلی له سرکاره

هغه ووې چه په کار او په خد مت خو

تنخا ګانی مـــــــزدوراخلی  له باداره

مونځونه کړی خـــــو یوهم نکړی داسـلام دپاره

حج ته د خـــــدای دپاره نه ځی ، ځی د قام د پاره

هرڅه چه کـــړی د قام لیډر اصلی منظورئې داوی

چه په ولس کښی شي مقبول د خاص  وعام د پاره

چه وکیل تش کاندې زړه جب ئې ډکیږی

چه وزیر تـیـــــتوی سرځای ئې لوړیږی

څلوريځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وزیرلمـــنی لاندی مــــــــــــــرداری
چه وکیل کاندی خوله وازه مــــعلومیږی

خوار غریب خوپه خیرات کله مړیږي
د بډای لـــــــــوړه هیڅکله نه کمیږی
د شهرت داقـــــــــتدارد عزت وږی
ګڼه سترګی چه غـــــرونه نه ډکیږی

راته ووېل د نـــــــــسوارو ټیکه دار
نسوار خوله کښی مانع کیږی د ګفتار
سرکاري ټیکه دار پوه په رمازه کړم
چه سرکار ورکوی خلکو ته نــسوار

د جـــلال ښایست په ډېرساز و سـامان وي
زیبائي د فقربل رنګه بل شــــــــــان وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



صبر ښه ښکاري چه ليس وي پورته شـوي
ګل بيد ښه وی چه سر ښکته پريــشان وي

د انسان جـــــوهر دژبې ګويائې ده
هـــــمدغه ئې زيبائی او دارائی ده
بی له ژبې هيڅوک هيڅ نشی موندلی
دانائی دلـــــــــربائی که بډائی ده

په خوراک کښی وي د خولی برخه خوندونه
ساز سرود او ښه نـــــغمه اوري غوږونه
د ښـــــــايست په ننداړو سترګی خوږيږی
د معنی په خـــــوند پوهيږی د ماغونه

چه جهاد سياسي نه وی مسلکی وي
سياسي مراعاتو نه لايـــــعنی وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلوریځی

انحراف چه له مسلکه قـبول نه کا
ناکامی هـم ډیره لویه کامیابي وي

ډیر اثر شته د اور ژبو په تقریر کښی
سحر پټ دی د وینا طرز و تعبیرکښی
په اذهانو کوي لـــــــــــــــوبې خطیبان
وینا په مــــــد و جزر بم او زیر کښی

د هرچا چه حیوانی قوت زیاتیـــــــــــــــږي
نفس شیطان لره هغو مره مغلوبـــــــــیږی
که څوک غواړي چه غالب شي په شهواتو
په مړښت نشی دا کار په لوړه کـــــــیږي

کموي روژه غـــــــــوښتنې شهواني
مضمحل کړی هـــــــوسونه نفساني

(c) ketabton.com: The Digital Library



د روژې غايه همدغه شي دي ځکه

روژه نه نـــــيسی صغير شيخ فاني

چه محروم نشم د ښه ژوندون له خـــــــونده

خلاص می کړه خدايه! د حرص حسد له بنده

له دوستانـــــــــــــــــــوسره زه ښه يم پخپله

لــــــــــه دښمن سره مې ته ښه کړه خاونده

خلک ودونه کوی په ډول په نغاره

فحاشی کړی ډيره پټه کــــــــناره

د زاهد پټی ګناه لری ټـــينګ ستر

عبادت زهد و تقوائې وی ښکاره

ځوک خپل فکر ته ملګری لټوي

ځوک ملکروته خپل فکر بدلوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلوریځی

چه خاوند د عقیدې وي په رښتیا
عقیده له چا نه نه قـــــــربانوي

په دوستۍ کښې دښمني خـــــوغداري ده
که ښه نوم وربانديږدې نوهوښياري ده
بد ښه کيږي ښه بد يږی په خـــــــــبرو
په وينا کښې خو همدغه ساحــــــــری ده

داسطحي خـــــبرې باد وړي برباديږی
چه خبره وي عـــــميقه پاتی کـــــــيږی
سطحي مه اوسه ډير زيات که عميق شې
په خـــــــــبرو دې بيا خلک نه پوهيږی

په منطق او استدلال حق باطـــــليږي
ياباطل د حق په ځای باندې دريږی
فلسفه عـقـــــــل او پوهه هغه وائې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## چه انسان ئې په ويلو خــوشحاليږی

راغـــونډيږی ډيـــر عالم په مــــــــداري
ياچه غم وي يا ښـــــادي او سيالــــــداري
که ځوک خلک راټول په يو ملی هدف کړی
ديته وايــئـې قـــيـــادت او لـــــــــيډري

ځوک په کارکښی لاس پښی کاندي ستومانه
د چا زړه ،روح او دماغ وي سرګـــــردانه
دا د تـــن نارامي ډيــــــر درته ښــــــه ده
کـــــه دې ورکـــــه نارامي کړه له وجــدانه

ځوريځۍ

توره ئې اخيستی لاس کښی نه ده توريالی دی
خوب کښی ئې هم جنګيدلی نه دي بريالی دی
داسي تش نومونه دلته ډير مونږ اوريدلی دي
رنګ ئې د لـــيدونه دي هـو نوم يې ګلالی دی

چــــــه پـــــــــه ډيرمشکل پيدانوی معنا کړم
په ډير زيات کوښښ يې ښه طرزکښی اداکړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایم اوس ئې پوهیدو دپاره چـــــــــــــــیرته
خلیلی مجروح پژواک یا بل پیـــــــــــدا کړم

چه زورنه وي ضرورت پیښ شی دلیل ته
چـــــه دلیل ئی وی کمزوری ځي تاویل ته
زورورته څوک دلــــــــــــــیل نشي ویلی
دلیل وایه! مساوي یا کوردلــــــــــــیل ته

آزادي که خـــــیراتی وي یا د چـــا مهرباني وی
افتخاربه پري ونه کا که هــمت یـــــې افغانی وي
قرباني چه پکښي نه وي هغه کله لـــوی اختروي
آزادی سره تړلې ډیر ه لـــــــــویه قـــربانی وي

خوښنه دې چه غلاکړی که فحشا اوکه سودونه کړی
چا ته جاسوسي کړې که په چاباندی ظلمونه کړي
دلته د عمل آزادي هـــــــــــر چاته حاصله ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردې د وهـــودي که آزاد ازاد فکرونه کړېږي

نه يې زړه کښې صـداقت، مينه وفـــــــا شته
نه يې سـترګو کښي څه شرم او حـــــيا شـــته
سياست لري څـــــــــــومخه څـــــــــواړخونه
وخت په وخت يې خوله کښی سل ژبې ګوياشته

په سرکار قد رو قـيمت ګوره په کار دی
کـه کار نه وي محض سـرڅه په کاردی
د کار دار ټول اهـــميت ګڼه په کار کښي
بيکاره کار داربل شی نه محض دار دی

که وی شعر لکه درښکی آبـــداره
د صنعت هنراوفن عــــالي شهکار
ورته غوړمه نيسه هيڅ آزاد فطرته
که پکښی د غــــلامۍ وی څه اثار

بايد شعرشعورخلاص کړی له قيدونو
ترقی لـــــــــورته رهبرشي د فکرونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اوهاموخــــــرافاتو بتان مات کړی

وی منکر دزوراو زر د قـــــــدرتونو

که طاعت اوعبادت هرڅـــــــومره کم وي

خداي دې نه کا چه شریک پکښی صنم وي

پـــــــــــه ریا چه د مخلوق د پاره کیږی

که شــرک  نه وي له ګناه سره به سم وي

که بې رنګه بی ریا  زهد تقواوي

له تېکی برګۍ چل ول نه مبرا وي

ځوک ئې کله بازارونوته را باسي

سود سودا لره خوزهــد د ریا وي

که په پوهه مشهورشوي افــــــــــــلاطون

ترهغه شهرت کم نه دي د مـــــــــــجنون

شهرت نه غواړی عادی ژوند بلکه غواړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا په سر تاج یا سرایښی په زنـــــــــګون

داچه څـــــــــــــوک څه شی له چا غواړی ارزان
حقیقت کښی خـــــــــــــــــــــرڅوی ځان په احسان
ګران ارزان دی ارزان ګران دی که څوک پوه شی
په اصلی قـــــــــــــــدر و قمیت باندې د ځان

څـــــــوک چه له عشقه ناقـرارنه وي
پـــــــــــــوه په معنی د انتظار نه وي
غم راویښ کړی او پوه کـړی نه وی
عـقـل ئې بینا زړه یی بــیدار نه وي

خوندئی نه وی چه ژوند مــحض دانائی شی
بی معنی شی که یـــــــــــوازی عیاشی شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کم و کیف خوند او معنی جلال جـــــــــمال

چه په ژوند کښی شي پيدا ژوند انساني شی

که می ژوند وي د زندان تورو کوټو کښې

که تک تورشم د سکرو په معدونو کـــښی

که مې سترګې شي ړندې یم په تورتم کښې

بیاهم غواړم د حـــــــیات اوبه تیارو کښی

زړه شي خوښ چه سترګی وګوری ښکلاته

چه زړه ښه شي نوخوله جوړه شی خنداتـه

خوږ اواز د غـــوږ له لاری راځي زړه تـه

داحـــــــال مـه وایه کاڼه او نابـــــینا تـه

بی ستره شـــــــــــولي ښځي او جونه

هم رشـــــوتـــــــــونه هم شهوتونه

ښکلا بې ستره مینه بـــــــــــی ستره

محکوم په ستر نرنر فـــــــــکرونه

بزرګی خونیک عـمل زهــــــــــد تقواده

هسې نه چـــه پـــــــه نژاد  نسب بناده

څلوریځی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس چه چانسب نژاد پــــــــوری تړلی

نژادی تــوپیر ئې ښه ســــــــمه معناده

## لغمانی

نه دی بد تمام غـــــــلجي یا درانــــــي

یا ازبک یاهـــــــزاره یا تـرکمــــــــنی

نه ټول ښه دی نه ټول بــــــد دي ولسونه

دې قـــــانـــــون نه مستثنی دي لغماني

شخصي نظام چا ته ډیر ځـــــه ورکوی

چاته خپل حق هم پوره نــــــه ور کوی

کله د چا مخ ښکلـــــــوي پـــــه مینه

کله بیا ګوره سوک په خـــــوله ورکوي

هـــــرزرداركـــوره دزرومالک نه دي

لکه هرپه سلوک پوه چـــــه سالک نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دنیا طالب که هرڅـــــومره فــــــقیروي
فقیر نه دي د سرو سپـــــینو تارک نه دي

شخص که هرڅوک وي د ځوررځوحاکم وي
د ده ظلم وي ځــــــوورځــې که ظالم وي
خـــــدای دې نکړی جــامعه په ځان ظالمه
چـــــــــــه دا ظالم هم قــایم وي هم دایم وي

دي ملي فرهــــــــــــــنګ اساس د ملیت
هم ملي ثروت دی هم مـــــــــــــلی قدرت
شعری پانګې دی ((الفت))ډیرسهیم کړی
په دولـت کښې د کلتوراوثـــــــــــــقافت

د یوه خوله ســـــپی د بل سیـپی د درو
وی بیباکه خوله د ســـــــیکو زورورو
یوچه سیکه سیی خوله هیچا ماته نکړه
ماتوي خلک ډکي خولي له مرغــــلرو

تقاضا د جګ اوتیټ نه وی یـــوشان

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشه! وګـــــوره باغبان او پاليزوان
يـــو ټيټ بوټی ته ميوی پسې ټيټيږی
بل جګ ښاخ ته دميوی لوروی ځان

مچ کــــه پاس د چا په سر ځای ولري
که په لوی دسترخان خوری شکرتري
که دګل په پاڼه ناست وي ګلخانه کښی
بيا هم نشي پرېښودی مردارخـــوري

کــــــه ماشوم لاس کښی نانزکه ګــډ وي
لـــــــويان هم ماشوم په لاس کښی لوبوي
په ولس کړی حاکم لوبې په ده بل څوک
سيـــــــاست رانه نانزکی جــــــــوړوي

دکارپوهه خوهم ويښه هم بيناوي
شله نــه وي له عمل سره اشناوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړه نه وي جاذبه لــــري د مينی
ورسره اخلاقي تــومنه د تقواوي

څلوریځې

حب اوبغض دوه قوتونه دی انسان کښی
که يوه نه وي بل هم نه وي جهان کښی
هريوه نه پخپل ځــــــای کښی اخله کار
پام کوه! چه يوهم مړنکړی په ځان کښی

که په ظالم څوک بلوسيدلی نشی
د مظلومانودوست کــــــيدلی نشی
د خداي د پاره دښمني ده دوستي
خودا دوستی هر څوک کولی نشی

اي فـــــکرونو دماغونو کښی بنديانو
په عمری قيد مقيد و محکومــــــانو
رحم نه دی بې رحمی ده که بدل شی
د مرګ حکم په عمری قيد د قيديانو

د بلـــــــــبلو پـروازونه وی ګلزار ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دزاغـــــــــانو پروازونه وي مردار ته

زاغ مشهوريه هوښياري دي بلبل نه دي

پېڅ په غورکښې دا حال ووايه هوښيارته

عناد په زړه کښې تـوره لاس کښې کبر سرکښې لري

ډير عــــــــــذابونه ډير و خلکو ته نظر کښې لري

پټې عــــــقدې د ظالم تريوتندي کښي غوټه ښکارى

خوله ئې هم سپيۍ ده اوخروړى سپي په درکښې لرى

يو شـــــان نه دي نصيبونه قسمتونه

کاتبانو د ازل کړى فــــــــــرقونه

چــا بانکونه دي ډک کړى په ډالرو

چا يــــــخــيلوخـــدمتونو تاريخونه

د يوه آسـوده ژوند کښې شرم وعــاروي

د بل خواراو ساده ژوند کښې افتخاروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فضیلت اوتـقــوئ نه وي ډیر ثروت کښي

## ډیر مالـــدارسـړی به ډیر لږ ایمانداروي

یـــوظـریف نقل د هر مجلس و
په لـــــطیفوئیې خـوبش داولس و
غـلام نبي وځای یې چارباغ و
غني معنی کښی مادي مفلس و

څوریځی

غلام نبی د لغمان د چارباغ د قرغیو
د ماهیګیرانو د کلی د څخه وو او دا
یوه درباری ټوکی وو

د شاهی کورنی سردارهاشم خان او

اوس خـــاورو لاندی چه نه غږیږی
ټولـــــــــوهیرکړی هیڅ نه یادیږي
غا یب نظر نه غیب شی عالم کښی
خلک د خلکو ژرژرهـــــــیریږي

چا راوړې ځان سره ده بــــینائیې
چا پخپل مخکښی د حـسن رڼائیې
چا دښکلو ښـــایسته سترګو دپاره
رانجه راوړه چا د سترګو سلائیې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه به مـــــادي ژوند ډیر خواروزاروي

چــــــــــه یوازې له معنی سره ئې کاروي

د مــــــــــــــــادي اود معنی مــقابله ده

چه هریو شي ډیر غالب هغه بل خوارشي

هـــیواد ته مخه چه طوفان شي

ښارونه کلی کورونه وران شي

سره شی په ویــنو ډیر میدانونه

یوه سړی نه جوړ قهرمان شي

چـــه تیاره راشي ډیوه رڼا شـي

ډیوه مړه کـــیږی چه شپه سباشي

د ډیوې ژوند دی تورو تیاروکښی

مهرویان شپه کښی رعنازیـباشي

دلته هلته لفظ بدلیږی اوورکــــــیږی

معاني په هـــــیوادوکښی نه بدلیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



معنی روح ده لــفظ جسد دي د معنی
لفظ مړکیږی معنی بل لفظ ته نقلیږی

څلوریځې

که مادي ژوند چــــابدل کړ په مـعنا
پــــــــــــوهیدلی په معنی دي د بقا
خودارکار کله شي هغه څوک کولی
چـــــــــه راغلی وي مهمل اوبیمعنا

په احتیاط احتیاط په لاره نابـــــــیناځي
ړوند بي لاری نشي تلی که ځي بیناځي
پلي خلک ویني لـــــــــــوړې او ژورې
بډایان نه ویني زمکه په هـــــــوا ځي

څلوریځې

یوڅه اصول دي ژوندانـــه ته ضـــرور
خوچه ژوند نـشي داصـــــــولـومزدور
ایدیولوژی ښه ده د ژوند خد مت کښی
نه چه ژوندون ته شي بادار یا تربــور

عـــــــــــــقاید که مذهبي که سیاسي وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـــــــــه اساس يې محبت بشردوستی وي
په هرئېزم کښی چه وي ترې به ځارېږم
په دې شرط چه تش نوم نه وي حقيقی وي

سياست موچه سرونه لـــــــــــوړوي
منارې موله سرونو جـــــــــــوړوي
سربازي کړی مقدسه مرگ ژوندبولي
سروهي سرلـــــــوړوي سرته رسوي

د دين باب کښې روحانی نه دي مادي دي
سيـــــاست کـښی د ملي روح منادي دي
د ملی روحي ځـــومره کړی ســـــــتاينه
خــــــــود دين روحي ســـره عنادی دي

لـــــــــيونی يونس ځنځيرکښی وتړلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



موریه کور کښی زولنو کښی وساتلی

نن یه مرګ له زولـــــنوڅخه آزادشو


آزادئ ته خــــــوشي نه دي رسیدلی

ملاووي لیونی مرفوع قــــــــلم دي

ګنهګاراومسول نه دي څه یې غم دي

چا ونه وې چه په داسې بـــې ګناه نو

ولی شـــــوي دومره ظلم اوستم دي




احترام د سرتـــــــــــاج نه د مغزو

لوی توهین دي حقیقت کښی دسرو

قیمتي ګوهر په غوړ کښی د خوبانو

بهانه ده د دولــــــــــــت د اوریدلو

یــــــــــــــــــــــــــــوه چاغ رنځورته وویل ډاکتر

دومـــــــــــــــــره ډیره چاغي خوري د سرې سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورڅه مه خوره پس له دی غوښې دڅان خوره

چـــــــــــــــاغ بدن  دي قوی زره لره خنجر

کارله فـــــــــــکره کارنه شي پیدا

ګڼه چـــــــرګه اوهــګۍ هغه او د ا

فکرکاردي اوکار دې مجسم فــکر

یووبوله ابتداء بـــــــــــل  انــتها

سیـــاست جاه وجلال دي د روزګار

د ژوندو سابه په مالګه کړی سرکار

خوکه مالګه ډیره زیاته شی یاکمه

بیا ژوندون لره مرض شی د فشار

که مزدور خان شي او خان مزدور

مجبور جـــــابر شی جابر مجبور

ظالم بـــــــــــدلیری خونه ورکیری

نه حـــــــــــاصلیری اصلی منظور

په نامه باندي چنـــګیز وي که تـــــــــــیمور

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګ ئې سپین وي که تک توروي اوکه سور
رنګ دې ورک شي نوم دې ورک شي د ظالم
زمهــــــرير غــــــوندی وی يخ که سورتنور

څلوریځی

سړه وســــــــپنه په سره اورکښی پولاد شي
سره زر اور کښي شی زيورقدريې زياد شي
هـــــــــــــــرنيي دابراهيم مقام نه مومي
دنمرود اور کـښی حاصل ډير لوی مراد شی

حـــــسد زړه کښی دي حاسد لره سقر
جـــــنت دي مينه ناک زړه اوښه نظر
د هرچا جنت دوزخ د هغه زړه کښی
غـــــلمان حوری، مارلړم يې خير شر

ژوندئ کــــــــيري آزادي چه مړشی ډار
ډارزندان دآزادئ هم ئې مــــــــــــــزار

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سرډار چه  زړه کښي وي آزادی نه وی
نظر فـــــــــکر احساس هر څه وي مهار

وائي مـــــــــه کوه خبرې کوه کار
بی خـــــــبرو کار په کار دی د بادار
دخرکار اود خره فـرق به نوڅه وی
که خرکار لکه خر کار کـړی نه ګفتار

کړی قدرتونه حماقـــــــــتونه
عیبونه ئې بولی خلک هنرونه
چه قـــــدرتونه مخ په زوال شی
هـــــنر ئی هم بیا ګڼي عیبونه

ښکلیتوپ که  وي مینې بی معنا
د ویر ده د مینی نه ده مړه لیلی
مبتـــذله اوناپاکه ښکلا هیڅ ده
د لولۍ د  ښــــکلاشرم وي بها

وایــــــــــــــــــــــی:زینةالمکان بالمکین

(c) ketabton.com: The Digital Library



يـــــــــــــــه ویونکی ئې ووايه !آفرين

که تشناب هرڅومره ښکلې وې جوړشوی


مجبورت دې ورتــه بــــــــيايي نه تزئن

که خـــبرې وي د  دروغونغاره

لفاظی کښې ډيـــــره لوړه مناره

ترينه ښه ده يوپه سله يوپه زره

د صادق ګونګي د ګـوتې اشاره




په عادی حال کښی عـــادي غوندې انسان يم

د ژون د چـــــــاروکښی له ډيرونه نادان يم

په بل حال کښی څوک زما په خوله څه وائې

چــــــــــــه بيازه پخپله هم ورته حيران يم

دعــــشق تـــوردی د عاشق د سترګوتور

سربلند شي چه په عشق کښی شي سرتور

په مــذهــــــــــــب د سوولوو پتنګانو

د  طوبی سيوری نه ښه  دی د عشق اور

سياست زورته زيب  زينت ورکوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



قـــــــانونی رنګ د عدالت ورکوي
لــــــــــه شخصيت نه حيثيت اخلي
بــــــی شخصيت ته حيثيت ورکوي

بـــــــــی طلبه مطلب کله وي جالب
په طالب شې يو مطلوب اوبل طالب
دطلب هڅه کښی پټ دي د عشق راز
پـــــه هجران کښي پټوی ځان مطالب

ځلوريځی

ژبه په ويـــــــنا ژوندی ده سترګې په نظر
کارخانه په کاراو آژنـــــــــــسونه په خبر
زړه ژوندی په مينه سرژوندی په فکرباندی
ژوند د نظرفـــــــــــکر وينا مينې په هنر

وائې چه خبرې لـــــــــه خبرو پيدا کيږی
فکرپه وينا کښی زرغـــونيږی اوغوندېږی
څوک چه د خبرونسل قطع په سکون کړی
وژنی معنی فکر د فرهنګ کور خرابيږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي چه خـــــــــيری له خبروپيداکيږی
فکرپه خـــــــبروکښی کړی وده اولويږی
نه وای که خبری هيڅ به نه و په دنيا کښی
هـــــر څوک د خبروپه قيمت کله پوهيږی

## که پيداشي

که پـــــــــــيداشي محبوبه ښکلی طنازه
په احــــــسان اوحسن دواړو کښی ممتازه
ميــــــــــــــــــــنه ناکه حياناکه لمن پاکه
زړه ساتونکی عشق پالونکی ښه همرازه
نه مـــــــــــــغروره په جمال نه کبرجنه
نه د حــــــــــــــــسن سوداګرنه چلبازه
په عـــــــــــــرفان باندی مينه دل آګاهه
د نظرپه ژبه پــــــــــــــوهه بی آوازه
چــــــه می زړه په يونظر لمبه لمبه کړی
اوآګاه می کــــــړی د عشق له سوزوسازه
چه شـــــــــي ماته لکه شمع دل افروزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـــــــــــه دنیا اومافیها مې کړی بې نیازه

ښکلی شـــــعر کښې به ښکلی مقام ورکړم

ترې به جـــــــوړه موسیقې شي دلنوازه

د صــــــــورت ښکلابه شې معنوې حسن

حقـــــــــیقی عشق به پیــدا شی له مجازه

## په داسې حال کښې

چه زور حاکم وي ظالم وې مـــــــــشاور
وکیل جـــــــــابروی یا وکیل د جابر

حـــــــــقوق دانان وي نوکران دخان

قـــــــــــاضی فاسد مفتی فاسق او فاجر

جـــــــــــرګه د صلح وې خانان ملکان

هـــــــــــریو له بل نه غلطی کښې ماهر

شاهـــــــــد کذاب وې مصدق ئې خائن

د حـــــــــق لیدو ته ړوند ، قدرت ته ناظر

رشـــوت رائج وې واسطه نــــــــــافذه

کوې ډیر کار د چـــــــــا لحاظ او خاطر

مســـــــــــاوات نه وي،وي تبعض امتیاز

حـــــــــق ته نظر وې بیخی شاز او نادر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعوه وی مینځ کـــــــــښی د فقیر اوغنی

یو ډیر غـــــــــــریب بل د الماسو تاجر

یو د قاضی په وره کښی ځوک نه پریږدی

د بل په وره کښی قاضی هروخت حاضر

یو له نظره د هر چـــالـــــــــــــویدلی

د بل ساقی ســــــــتائی غزل کښی شاعر

یو خــــــــــوا خیرن زاړه شکیدلی کالی

بل وی اغـــــــــــوستی لباسونه فاخر

په داسی حــال کښی عــــــدالت غوښتنه

د حماقت خــــــــو هم یو حد وی آخر

## ښځه

یو هیرۍء!ښځه څـــــــــــــــــوکده؟ضامنه د بقاده

دښځی په وجود کښی مــــــــــــاشوم میندلی ساده

ملګرې دژوندانــــــــــه ده منبع د ژونداو روح ده

((القاهاالی مریم))د خـــــــــــــــدای حقه وینا ده

ژونـــــــــــدون ئی دعالم ژوند د مور د ژوندانه ده

هم مـــــــــــــور د مسیحا ده هم خپله مسیحا ده

ښکلا د دې صورت کښی پیداکـــــــړه ډیر رنګونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم یو رنګ اوبله رنګ کښي د خپل مجنون لیلا ده

آدم نه تـــــــــــــــردې دمه هرڅا ده خوښه کړې

د هـــــــــــــــر نظر منظوره د هر زړه تمنا ده

چــــــــــــا دلته پیداکړی ښوک ځي پسې جنت ته

ښـــــــــایست د جنت حوره بل ښوک نه ده همداده

دنیا ته چــــــــــــــــــه راغلې اول بابا آدم دي

په ښـــــنګ کښی ئی ولاړه زمونږ بي بي حواده

ملـــــــــــــــــکری د سفرشوه ساره دابراهیم(ص)

ښایسته ماریه ځـــــــانته بللي زمونږ مصطفئ ده

د حسن په قصه کــــــــــښی دعشق په افسانه کښی

مــــــــشـــــــهوره په عالم کښی د مصر ذلیخا ده

فـــــــــــــــرهاد ته ده شیرنه له هرڅانه رنګینه

وامــــــــــــق ته ډیره ښکلی له هرڅا نه عذرا ده

آدم ته درخـــــــــــانئ ده موسی ته ګلمکی

د فتح خـــــــــــان د پاره چه هر څه ده رابیا ده

په سردي د غم پــــــــیتی سړیه!که ډېر دروندوی

چــه ورک دې کړی غمونه د سرو شونډومیکا ده

توښه ده د خـــــــــــــــــوښیو د راز راز رنګینو

د ژوند هره صحنه کښی دي د مـــــــــخ رڼا ده

سوفیا، تایلر هـــــــنر کښی عرفان کښی رابعه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جنګ کښې د میـــــــوند خوملاله بې همتا ده

کـــــــــــــوتره شوه د صلح سکندرته رخشانه

د حـــــــــــسن ملکه خود زړه جهان ګښې دا ده

کولې شې چه خوږ کړې یا تریخ کاندې ژوندون

هم ډیر لطـــــــیف نسیم دې هم طوفانې  هوا ده

کـــــــــړې سپک داوړو پیټې سپره شې په اوږو

د عیش آرام بســـــــــــتردې باعث د نارامتیا ده

سبا ټیکرې کښـــــــــــې په بیګاه بله ډیوه ده

د ورځې مروره د شـــــــــــپې ښه ده پخلا ده

اخـــــــــــتر کړې  د قربانیو او غواړې قربانۍ

وصـــــــــــال یې کله کله د سر اومال  بها  ده

د ځــو کړې درد سره ئې  د ځوې زیرې ملګرو

یا درنګ ساعت ته ویردې یا ډکه خوله خندا ده

په غیږ کښې یې ماشوم خوښ هم پلارد ماشومانو

اولاد تـــــــــــــه مـربې ده  پلروته  مربا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دلبر او ستمګر

عناد په زړه کښې توره لاس کښې کبر سر کښې لري
کـــبر جن کله رحم زړه کښې زړه ځيګر کښې لري
شکنجو د ځـــورولو رنځـــــــــــــــولوکار کښې
ډيرعذابونه ډيرو خلکــــــــــــو ته نظر کښې لري
پټې عقدې د ظالم ترپوتندي کښې غــــــوټه ښکاری
خــــوله ئی سپی ده خروړی سپي په در کښې لري
زورد دنيا که د ښکلاوي په هـــررنګ کښې چه وي
کبر،غـــــــــــروريه ستمګر اوبه په دلبر کښې لري
ښکلی لـــــــــــري دولت د حسن سرمايه د غرور
ظلم و ستم وســــــــله په کور دتوانګر کښې لري
زلفی ماران که د لـــــــــــــبران لري مينو لره
تورمار د مارد زهــــــــروآب تيره خنجر کښې لري
که د چــــــــا زړه دلبر وي وړي او دلبر سره وی
نشته پروا که د لبربا دلـــــــــــبر په بر کښې لري
سياســـــــــــــــتونه ضد په ضد کښې پټوی هر کله
ظلمت د ظلم، د احـــــسان عدل په لمر کښې لري
د دقـــــــــيانوس د وخت زاړه ار تجاعي فکرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نووځلموته په لباس د منــــــــــــــور کښی لري

## په غلا غلا کتل

پخواد زلفو په تیـــــــــارو کښی میني غلا کوله
له پلولانـــــــــــــــــدې ښکلاپټه تجلا کوله
د ګل په شــــــــــان وغلي غلي مسیداد ښکلو
پیغلو په شـــــــونډو کـښی نری غوندی خنداکوله
مابه په غلاغلا کــــــــــتل تــاته تابه ښکته کتل
خدای دې خــــیردرکـړی چه ماغلاوتا حیا کوله
راته دی ځکه نه کـــــــتل چه درته سم وګورم
نظرد خــــــپل منظــور په باب خدایږو بلا کوله
که دی کـــــــــــتلی راته مادرته کتلی نشوه
اعتنا نه کـــــــــــــولو کښی دی اعتنا کوله
د زړه درزازدې راته حال ستا د زړه ډېر ښه وایه
د حال په ژبه دې لـــــــــه ما سره نجوا کوله
په خولی د ست د سپینی خــــولی که دراته نه کولو
دا سلا ماته ستا د سرو شـــــــــونډو مسکا کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حرکاتو سکـــــــــــــــناتو دې ډېر ښه پوهیدم

آفرین ما ته چه ئې مـــــــــــــــا څه ښه معنا کوله

مادرته  سترګو کښې ځای درکړتا په زړه کښې راکړ

خـــــــــــــــو په ظاهر به مو وضع ناآشنا کوله

د شعر بیت کښې مې وصال دعشق اوحسن ومـوند

((الفت)) هـــــــــــــــنر نه بـس همدغه تمنا کوله

## د مینې او ښکلا نجوی

چه توراوربل په ســــــــــــپین مخ ووینم غزل جوړم

بل کارمی نشـــــــــــــته شهلا سترګو ته کجل جوړم

بکره معنٔی ښکلی کــــــــــــــومه د هنر په سینګار

د ذوق لــــــــیــــــــلی ته د ښکلاْ وتاج محل جوړم

توري تـــــــــــیارې چه ورکی ګړم د حقیقت له مخې

له عشـــــــــــــقه اوراخلم له ځانه رون مشعل جوړم

چه افسانه شمه په عـــــــــــــشق کښې زمانوته یادګار

لکه مجنون ځان نه د عــــــــــشق ضرب المثل جوړم

چه  د چا خیال خاطر کــــــــښی هیڅکله ونه ګرزمه

چه په درشل کښې دی شم خـاوری ځان نه شل جوړم

وصال دې نه غواړم پـــــــټ نه درځم په تورشپه کښې

د عــــــــشق په کار کښې زه له ځانه کله غل جوړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



که زه دې خیال کښی نه یم ته خوزماخیال کښی ئی تل
هـــــــــــره شیبه  دې خط و خال ځنی اوربل جوړم
چـــــــــــه نظرونه پکښی بند شي له نظره نشي
لوګی کـــــــــوم درته ځان زلفې دې ولول جوړم
دسترګو تـــــوربه دې شم زه که دې زما په سترګو
خپل جمال ولید چه ئی ځـــــــــومره مجلل جوړم
چه پکښی مینه او ښکلا فـــکر او خیال کړی نجوئ
د ((الفت)) بـــیت کښی د معنئ رنګین محفل جوړم

## د ژوند مرثیه

نـــشاط مړ شو په وجود کښي آرزومړه شوه
دا زما وجـــــــــــود د مړو هدیره  شوه
لکه وچـــــــــــــه خاده یم په قبر باندې
اوجـــــــــنده می د لـوخ تن لنډه جامه شوه
نه بلبل شـــــــته اونه ګل د ژوند په باغ کښي
خزان وچ کړم ورک مې سیوری او میوه شوه
که داژوندوي او مـــــرګ نه وي مرګه راشه
د ژوندون خــــــواوس په ما باندې سړه شوه
ماد خـــــــــپل اوسنی ژوند تصویرایستلو
خو د ژوند  نغمه د خـــوارژوند مرثیه شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه ومه څـــــــــــنګه شومه؟ خبرنه یم
چه د چاله غـــــــــاړې دغه مظلمه شوه

## زړه او ضمیر

زمـــــــا زړه زمـــا ضـــمیر
په سرسترګو دي امیر
څـــــــه چـــه وائي هـــغه وایـم
که ســـندره ده که ویر
غـــــــوړاوســـترګې وینی اوري
د لپـــسند او د لپـــذیر
هر څه کـــــړم دزړه په خوښه
که محسن یم کـــه شریر
ښکلـــــــوي رابـــــــاندي زړه
تک سپین مخ بدرمنـــیر
بل وخت بیا راباندې ښکل ګړی
سپـــــــینه ږیره د فقیر

## زر

هـر صــورت قـــبلوي زر
هـــــیولئ د خیر و شر
خولې ته خوندشې غوړته ساز
حـــــسن ته ښایسته زیور
د شــهلا ســــــــترګو رانجه
هـم عــــــینکی د نظر
د مســتیو سرمــــــایه ده
عــقل فکر دی د سر
هم شراب شي هم کـــــتاب
کله عـــیـــب کله هنر
بلا دفـــــع کـــــړی بلا ده
چه هم سپر دی هم خنجر

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـــاته شهـــــــد چاته زهر　　هــم جنت دی هم سقر
د شـــــــاهانو د سر تــاج　　خوارغریب لره شی خر
د صــوفي پــاک جاي نماز　　د لـــولی نا پاک بـــستر
زرق و بــرق د فحـــاشی　　د حــــیا د سر څادر
هـــم مسجد هم مــیخانه　　پرې ښایسته غم واختر

## د ژوند د ستور

د ژونـــــدون دود د ستور　　کله څـوي او کله لــــور
ظلم جــــبر،انصاف عدل　　خیر غوښتنه کله چــــور
که واده ئې دی که غم دی　　د څاروو په وینو ســــور
په مذهب د جبر هر څوک　　پــیدا شویدی مجــــبور
ګوډ تــــیمور کله منلي　　ګوډ غذرونه د مــــعذور
ما تــــوي غرور د نورو　　څوک چه ډیرلری غرور
د بــدرنګی په نظر کښی　　ښــه مخونه وی مــنفور
د نظر محوه کـــول وي　　د ړانـــــــده ظلم منظور
په ژړا د خــــلکو خاندی　　په غـــموئې وي مسرور
زړه ئې هغه وخت یخیږی　　چه جهان کړی سورتنور
ده مـــــــرښت د استعمار　　عـــــالمي لوړه ضرور
کوم پرهار چه نه جوړیږی　　ترې جوړ زخم د ناسور

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حق ژوند دي حقيقت كښى
مرګ او مړينه  د منصور

تــر بګني راژوندئ  كيږى
په وژولــــــو د تر بور

چه يو كلي په مرګ وران شى
ګورستان ئې  شى معمور

د يوه مرګ د بل ژوند دي
د طبيب ژوند په  رنځور

## د عشق جنون

د خــــوشحا ليو روڼ  سباوون
تورو تــيارو كښى د غم شبخون
تــحـــولونــــو د زمـــــان
ګردش د ستورو دورد ګردون
د زورو جـــــــــاه و جلال
مـــال منال د فرعون قارون
دم اودعـــــــــا د پير وفقير
قهر او مهر د هــــــــمايون
نصيحتونو د حكــــــــــــيمانو
عقل او فكر د افــــــــلاطون
په ما ونــــــــــــكړ هغه اثر
چه په زړه وكړدعــــــشق جنون
كړمه له هـــــر څه زه بې نيازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه کـــښې سازونو د ارغنون

ګنج ددولـــت مې په خرابو کښې

ومونډ چه عشق کړم خراب زبون

هـــنر دشعــــــــــر راعطا کړ

ګلګون رخسار په ،ډیر جګرخون

د شعرتورو کښې وینم ګــــورم

د سترګـــــــــو تورد، مجنون

دسترګـــــــو تورد ،لیلی مجنون

بصارت شولوبصیرت زړه کښي

د سترګو نور دي دزړه مضمون

په اکســـــــــیرباندي د محبت

د مهرویــــــــــانو په یو افسون

زه بیخی بل شوم بل مې جهان شو

بدل مې یــــــون شوبدل مې تون

ظاهري نه دي جــــسماني نه دی

څوک لـــــــیدی نشی زما بدلون

زه هغه نه یم اوس چه پخـــوا وم

دي زمــــــــــا کله زما پرون

ما ولــــــــید بل چا لیدلی نه دي

له خپـــــــــله ځانه د ځان بیلتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



((الـفـــــت)) موندلی فیض له الفته
ښه ده چــــــــه نه دي د چا مرهون

## حسن او نظر

حــسن دې کــــــه ډېره تجلی لري
ړوند د مــــــــهرویانو څه پروالري
چیرته چا لــــــــــیدلی اوریدلی دي
داچه ښکلی نــــــــــازپه نابینا لري
نشته شکلـــــیتوب که بینائی نه وي
سترګي دي چه وائی یار ښکلا لري
تورتیکری دې تورزما د سترګودي
ځکه زما ســـــــترګو کــــــښی رڼا لري
سترګو کښی دې ځای دی که هرځای کی ئی
سترګې تور د سترګو کښی لیـــــلی لري
وائي ستـــــــــرګې ډیر څه په کتلو کښی
غـــوږ ئې ناوري زړنو کښی غوغا لري
نه ده بـــې ادبـــــه د لیــــــــمو ژبـه
سترګی خـــــــــوله سترګو نه حیا لري
حسن او نـــــظر په شهلا سترګو کښی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل اثـــــــــــر بل کيف بله ادا لري
کله وي ښــايست په ړوندوسترګو ګښی
حسن ځــــــــای نظر کښی د بينا لري
مينه د ښــــــکلا ، ښکلا د مينې ژوند
بی نظره حـــــــــــسن څه معنا لري
يو که نـــــــه وي بل ئې کله تمنا لری
خير دي کــــــه دې حسن له نظره شوه
بی نظره حسن څـــــــــــه معنا لري
مه پټوه ستـــــــــــرګی زما سترګونه
سترګی پــــــــټول څومره ګناه لري
ژوند غړوي ستـــــرګی پټوی ئې مرګ
وګوره! ژوندون څــــــــه تقا ضا لري

## اولواالابصار

عارفـان د زړه په سترګو ګــــوری يــار
د ســـــــــــــترګو باندې پيژنی اغـيار
حايل نه دي هيڅ حجاب د زړه د ســـترګو
نه ئې مخه تـــــــــياره نــيسيي نه غبار
لمر ترې نـــــــــشي پـتولی تورې ويځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه حـــــاجب ګرزی مـــانع او نه حصار

صاحبـــان د زړه ،دزړه په غــوړواوري

آوازونه د سکـــــــــــوت او د پــــندار

چه ولاړوي ټـــــوله شـــپه قايم الليل

ورته يــــــو وي د دنـــيا ليل و نهار

د حال ژبه وائي حال د صاحب دحال ته

په دې ژبه پــــــــوهيږی اولواالابصار

په رښتيا چه بيـــــــــدارشوي له غفلته

مرګ هم نه ويده کـــــــوي هغه بيدار

زړه ازا ر د صاحـــــــبدل شي چه زيارت ته

کله ور شي دل ازارمـــــــــــــــردم ازار

چه مالک د خپل ژوندون وي مرګ ئې نشته

مري هغه چه يې ژوندون وي مســـــــــتعار

فـــــــــيض رسان او الهام بخش دي د ژونديو

ګازرګاه کښی د هـــــــــــرات د پير مزار

ډيــــــــــر نـقشونه محوه شوي محوه نشو

په افکارو کښی د ده نقـــــــــــش و نګار

صورت سينګار لږ وخــــــــت بيا زايل شی

زوال نلری معنـــــــــــــــی په روح سينګار

الئهي نــــــــــــــامه يې دردي بې نظيره

په نظر کښی په غـــــــــوړو کښی د روزګار

(c) ketabton.com: The Digital Library



سل میدانه  د عـــــــــــــــرفان یې  دی وهلي
چالــــــــــــــــــــیدلی دي بل داسې  شهوار
تش د قال خاونــــــــــدا خونه و د حال هم و
ډیر یې حاله کړه په  حال د ده ګفـــــــــــــتار
د دین لاره شوله  هـــــــــــــــر لور ته ازاده
چــــــــــــــه ملګری ئې د لاري شوه انصار
د قــــــدم نقش یې د دین لاره کښی اوس هم
راته ښئي ګازرګاه  اوپــــــــــــــاي  منار
شهداء الصالحین دي د دین ستــــــــــــوري
او تمیم انصار  پکښي شمـــــــــــس النهار
د عرفان لــــــــــــــــومړی قدم هغه قدم دي
چه دنیا  کړی پـــــــــــښولاندې  نفس مهار
اخلاص دي رهـــــــــــبر د لاري د عارف
د دنیا توښه تـــــــــــــــــري ورکه کاندې لار
چه خوب پریږدی غفلت پریږدی راحت پریږدی
باطنی احســــــــــــــــاس شعور یې شی بیدار
طریقه د صـــــــــــــــــوفي لار د څاروونه ده
نه د لاره د مـــــــــــــــــــــوټر او تیز رفتار
ده د فـــــــــــــــــکر ،ذکر،زړه او نظرلاره
غواړی صــــــــــــــــبر،قربانی ،جهد وایثار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوچـــــــــــه نکړی غرور کبر پېښو لاندي

ترمطـــــــــــــــلبه نه رسیږی کلانکار

له فطرته ســــــــــــالک راغي وارسته

آزاد قـــــــــــــــید نه د درهم اود د ینار

حرازاد دي څـــــــــوک چه وی ازاد منشه

چه یې نور آرازدي وه دي احـــــــــــــرار

د صوفې سترګی مـــــــــړې زړه ئې موړ دی

که هرڅـــــــــــومره وي په نس وږی نهار

مالګه نه څـــــــکي د چـــــا نمکخورن دي

زړه غـــــــــني او مستــغنی نفس ئې ډیر خوار

ژوند یې نــــــــه دي د هـــــــوا او د هوس

بی هــــــوا وي د عــــــــــارف دار و دیار

زړه ئې پاک طـنیت ئې پاک نظرئی پاک دی

په غسلونـــــــــــــــــود توبو اواستغفار

له عیشونوله خـــــــــوندونو ئې زړه موړدی

غبطه نخوري کـــــــــه هر څه خوري دنیا دار

یو خوړلو بل خـــــــــــورولونه خوند اخلي

نه خوړلونه خـــــــــــوند اخلی روزه دار

د عارف خوند ونه نـــــه نورد نورونو رد دي

د نیکی پـــه مــــــــــزه پوه دی نیکو کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه خوند چــــــه لـــــــري جام د شهادت

بی شهیده څـــــــــــوک تری نشو خبردار

هره خوله کله ده جــــــوړه هریو خوند ته

اخلی خوند فـــــــــــداکاری نه فدا کار

د عارف زړه کښی یوازی د خداي ډاروی

شرک یې بولی که ئې زړه کښی وي بل ډار

بې له خدایه چـــــــــــاته سر ټیټوی کله

که ئې سر له تنه غـــــــــوځ کړی اقتدار

ادهم سر د دولت تــــــــــاج ته ښکته نکړ

چه یی سرئی کښی خـــــیال پیدا شو د دلدار

بی زواله پــــــــــــادشاهي کاندی فقیر

حقیقی فــــــــــقیر ته ټیټ سر د تاجدار

د محمود باغ سپیره ډاګ شوغزني وران شو

حدیقه د سنــــــــــــــــآئی هزار بهار

بلخ وران شوي نه ئي جاه نه ئې جلال شته

مولانا جـــــــــلال الدین دی ګوهر بار

لاتر اوسه ئې د نـــــــــي اواز غوړوکښي

وایی زړنو ته د عـــــــــشق خفی اسرار

د هرات زاړه اثار په ورکــــــــــیدو دي

د خواجه انـــــــــــصار اثاردی فیض آثار

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیروی زمانه ډیر خــــــــــــــلک له خلکو

هیروی نشي هـــــــــــــــیری د ده یادګار

نه ورکیږی نه ئې څـــــــــــوک شی ورکولی

باقیات الصــــــــــــــــــالحات رانه افکار

## خبرنه و

یوه بل نــــــــــــــــــه په ډیر لیازاوامتنان

څه شی واخیـــــــست له اصلی نرخه ارزان

خریدار لــــــــــــه حده زیات و ډیر خوشحاله

ډیر ئې مانـــــــــــه په سر ، سترګو احسان

ویلې تل به وي ستـــــــــرګو کښی نیکی ستا

ستا نیکی به هـــــــــــیره نکړم په هیڅ شان

بل چا ووي خرڅـــــــــــوونکی ته چه ولې

تا په دي سودا کښي ومــــــــــــــانه تاوان

ددنیا سودا خـــــــــــــــوده د سود دپاره

کوي ګټه پکښی هـــــــــــر وخت هوښیاران

چه ئې ګران واخلي او خرڅ يي کړی ارزانه

هر سړی پرې کـــــــــــوي حکم د نادان

په څواب کښي ورتـــــــه ووې خرڅوونکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشکل کار دی پـــــــیژندل د سود و زیان
ګڼه ماکړې هـــــــــــــغه دي غولیدلی
نه ویني ته هغه ســــــــود چه وي پنهان
ما په لړغـــــــوندې تاوان چه ته یې ویني
ډیر ارزانه دي اخـــــــــــیستی یوانسان
د هغه ګمان و دا چه یـــــــــو څه اخلي
خبرنه و، چه په ماخـــــــــرڅوی ځان

## اقتدار

چه ئې ځان د خلکـــــــــــــو کړ علمبردار
چه ئې نه و لامـــــــوندلی اقـــــــــــــتدار
چه له قهره آمریـــــــــــــــــت ته ریږدیده
چه ئې لاړې توکـــــــــــــولی په دربار
چه نظام یي دهـــــــــــــــرڅه مسؤل باله
چه دښمن ئې د اولـــــــــــــس ګاڼه سرکار
چه ئې نه وه د ښمــــــــــــینی آشتی پذیره
چه ئې هر حکـــــــــــــومت وباله غدار
چه راڼه یې تمـــــــــــــــلق د درباریانو
چه دیو تن ټولــــــــــــــواکۍ ته و په قار

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه غلیم و د بـــــــــــــــاردار او باداریَ

چه یُې خلکوته نه غـــــــــوښتلو خدمتګار

چه قدرت ورغــــــــــی لاس ته اوکاردارشو

چه چوکیَ داقـــــــــــتداروړکړه روزګار

چه حاکم شو چه رئیـــــس شو چه وزیر شو

ځان یُې ورک کړخلک یُې هیر کړه په یووار

چه یُې لاس نه رسیـــــــــــــــده آلوتروه و

چه لاس برشو آلـــــــــــــوډیر شو مزه دار

چه دربار په مینه مینه غـــــــیړ کښی ونیو

درباری شـــــــــــــو اومداح شو د دربار

چه رڼا ورځ د ســــــــــــــرکارئی شپه ګڼله

بیا یې توری شـــــــــپی ته وي نصف النهار

کلیمه د وحـــــــــــــــــده یې ورته ووې

لاشریک له ویـــــــــــــــــنا شوله د یار

چه صاحب شـــــــو ددربار،دربار رټوُنکی

کړه یُې هر څــــــــــه د دربار له سره ځار

چه یُی خوند ولـــــــــــید د مدح ، تملق ډیر

شوداخوند ورته خـــــــــوندونو کښی سردار

چه آمر شو او هرڅه یس شوه په لاس کښی

چه یُې واوریده صفت خـــــــپل پّ بار بار

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیال ئې بل شو حال یې بل شوسړی بل شو
خدمتګار ئې هم د خــــــــــــلکو شو بادار
چه اصلی څیره د چـــــــــابڼئی هر چا ته
اقـــــتدار دی قـــــــتدار دی اقـــــــــتدار

## مزدوری سترګی

سترګی ئې نــــــه وي زورور خان و
څوک ئې نوکر و څوک مزدوران و
اړاومحـــتاج وصاحـــب نـــــظر ته
د امـــید لاس ئې اوږدو نـــــــوکرته
یوازی نــــــــــــــشو په لاره تللی
لاس یه ئې بـــــل و لاس کښی نیولی
یـــــومزدورخـــــــاص و،د دي دپاره
چه خان به بـــیـــــــا ئي په سمه لاره
بینائی خـــــــــــــــرڅه په نابینا وه
ځکه ئې ډیـــــــــــــره لږه بها وه
د سترګو حــــــــــــق وړانده خوړلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خومزدور نـــــــــــشو خپل حق لیدلی

اصلی ړوند دي وخــــــــــــوخبرنه و

په حقــيقـــــــــــت کښی سترګو رنه و

چه نابيـــــــــــــنا وي شعور،احساس

مـــــــــــــــزدورآله وي د بل د لاس

د خان رهــبر وی د خـــــــــان مزدور

داد خانۍ دي دود دستـــــــــــــــــور

دمزدور سترګې شوی د خان واک کښی

بينائي راغـــــــــــله په استملاک کښی

د بـــــــــــــــــل د پاره په کاريده له

بل ته يې لاره د تلو لــــــــــــــيدله

په خان ګرو شـــــــــوی سترګی ارزانه

مزدوری ستـــــــــرګی قربان له خانه

## ملی قدرت

په رښتيا هغه ملـــــــــت وي بختور

چه لری ملي نظـــــــــــام ملي رهبر

وي اصلي حاكميت دخلكو لاس كښي

حکومت وي د ملي قـــــــدرت مظهر

(c) ketabton.com: The Digital Library



جامه پخپله وي په ځــــــان حاکمه
د عامه افـــــــــــکاروي قوي  اثر
نه تبعیض نه امتــــیازوي نه تیري
په حقوقـــــو کښې وي خلک برابر
د هرچا اعتـماد وي په عـــــــدالت
قوانـین وي له هـــــــر چا نه معتبر
آزادي دیمـــــــوکراسي وي واقعي
خطر نه وي کـــــــرامت ته د بشر
مخور مســــــــلط نه وي په نظام
اهلیت اولیاقـــــــــــــت وي مخور
سراو مال وي په امان فکر او نظرهم
زورور چه پکــښې نه وي پخپل سر

# محّمد(ص)

محمد بي اوره د خــــــــــــــدای هغه انوار ولیده
چه خلیل اورکښې ولیــــــــده موسی یي نارولیده
لیده ئې هرڅه چه ا عــــــــــلام الغیوب په نظر
د ده لیدل کله ستـــــــــــــــرګو د اغیار ولیده

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مدینه کـــــــــښی یې قیصر کسری سرنګون

چه پ خـــــــندق کښی یې تاثیر خپل ګذار ولیده

سترګی بـــــــــینا شوي د ړانده علم دده عرفان

چه فیلسوف پري پو هـــــــیده عـارف عیار ولیده

نوی مظورته ئی پـــــــــــیداکړ بیخی نوي نظر

تیارو کښی ورک انسان د بـــــــل عالم اسرارولیده

راغــلې دنـــــــــــــــیا ته محمده!هم یتیم هم فقیر

نه دي راحت ته عـــــــــیش نه مهردخپل پلارولیده

په مصیبت کښی شوې پیدا په مشقت کښی شوې لوی

د دنـــــیا ژوند دي له خـــــــــــــوارو زارولیده

د مورله مـــــینې شــــــوې محروم هم د نیکه له میني

په ماشوم تـــــــــوپ کښي دي غمونه په باربار ولیده

هر چه نه سخت دښمن خــــــپل تره ابولهب شو د ته

پردی اوخپل دې ځــــــــانته ټول خومره په قار ولیده

یوازې خـــــــــداي ته پاتي شوي د خدای اسره اوته

څوک دی بې خـــــــــدایه ته حامي نه مددګار ولیده

نورټول دکفرپه خـــــــــــــوا یوته د اسلام په خوا

یوازې نه وې ځـــــــــــــان سره دې کردګارولیده

ستا دښمنی جـــــــــنګ او جګړه ډیر وخدایانوسره
د جهان ســــــــــترګو لمر سپوږمۍ لیل ونهارولیده

دخدای په مـــــــــــــــرسته سو یتیم یسیر فقیر امی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جهان ډیر لوی انقلاب ته ځان تیار ولیده

نه بیوسۍ نه ډیر قدرت تغیرپه تا کښی راووست

استقامت دي هر وخت هر چا پایدار ولیده

دنیا بدله کړ له تا دنیا بدل نکړې ته

که دي خوښي وکامیابي که دې ازارولیده

ډیر غنایم اوډیری فتحي دی په برخه شولی

ډیر دې غنایان کړه خو خپل نفس دې مدام خوارولیده

پخپل سرت ئی ستا په شان ثابت قدم ونه موند

که زماني هرڅومره ډیر ثابت سیار ولیده

د ریاضت لوړې سختۍ دې په ځان تیری کړلی

مزوچړچو عیشونو کله ستا در بار ولیده

تیاري دې ورکې کړی د حق رڼا دې کړ له خپره

د اسلامي عدالت لمر دار ودیار ولیده

د لیوه ویره د پسه په زړه کښي پاتی نشوه

چه ئی ستم ظلم وحشت اوزور مهار ولیده

سرکشان واړه پریشان شوه فرعونان حیران

چه مومنان ئې اشدأعلی الکفار ولیده

لارې دي جوې قافلی او سالاران دې کړجوړ

خلک دي حوړکړه ډیربې لارې دې په لار ولیده

تا محمد!دایمان قوت جهان ته وښود

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا په تعلیم د خپـــــــــــل ایمان زور ایماندار ولیده

د غلام خپولاندې غـــــــــــــــرورد ابوجهل پایمال

په تعجب په خـــــــــیرت سترګو د روزګار ولیده

تا سرداري کړه خدمتـــــــــــــــګارد بشرد پاره

تاریخ بیابیا ســتا د صـــــــــــدیق ، عمرکردارولیده

هغسې عدل،مســـــــــــــاوات چه تا دنیا ته راوړ

نظیر ئې بـــــــــــــیا نه هیڅ نظر نه انتظار ولیده

لوی انقــــــــــلاب دې راپیداکړ د انسان شعور کښی

په روح په ذهن ،زړه نظرکښی موستـــــــــــاولیده

د ٍلاتـــــــحزنٍ د ٍان الله معناٍ اطـــــــمـــــــــنان

چه چــــــــــــاته ورکړه تا هغه بیا ګله ډارولیده

په نوې روح دې دازړه دنیا کـــــــــړه بیرته ځوانه

د جهان کوندې بیا پــــــــــه ځان کښی ابتکار ولیده

خپل کاردې خلاص کړ رســـالت دې سرته ورساوه

مطمٔن لاړې چه اساس دې استـــــــــــــــوار ولیده

هغه معمار وې چه نقـــــــــشه دې جهان کړه بله

جهان بیا کله ستـــــــا په شانی بل معمار ولیده

څوک چه لوی شـــــوي په غمومشقتونوکښی و

هم مونبي هم مو حـــــــکیم هم لو ی سالارولیده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پا که مینه

دمومن په زړه کـــــــــــــــــښي مینه وی د الله اکبر

د قارون په زړه کي میــــــــــــــنه ددنیا د سیم وزر

په پاک زړه کښي پاکه میـنه په ناپاک زړه کښي ناپاکه

د غوجل په شانی زړه کـــــــــښي مینه وي د ګاو خر

خفی شرک دي که څوک پوهشی ددنیا مینه په زړه کښي

یوه مینه ستا ته زړه کـــــــښي نوری مینی کړه بهر

د مین نظر هرکله وې پخـــــــــــــــپلی لیلی باندی

د پتنګ نظر په شـــــــــــمع نه په شمس نه په قمر

شی له نورو بیګانه ،لیـــــــــــــــونی بیا فرزانه

چه په عشق اومحبت کـــــــــــښي شي له ځانه ناخبر

حال ئې بل شی خیال بل شی نظربل شی منظوربل شی

بل سړی بل عـــــــــــــالم کښی د یو چا په یو نظر

د دنیا تورو تیارو کښي پټی ســـترګی ویده پروت وم

د راحت بـــــــــــسترمی پریښود چه می ولیده سحر

له عالمه کناره شــــــــه!که وصال د محبوب غواړې

ګنه ګونه کښی څــــــــــــوک مومي وصالونه د دلبر

څوک دنیا نکړې طــــــــلاقه د عقبٰی لیلی مه غواړه

بن په بنې ورځې کله د شـــــــــــپی چا لیدلی لمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رسم رواج

د واده اوخـــوښۍ کورکښې
مستی نجونې وې راغونډي
په سازونو کښې می نـوشې
په کیـــــفونوکښي مـدهوشی
خنداګانی شولې مستې
آرزوګانی په نڅا شوې
جنتونه ور ښکاره شوه
دخیالونو په لیمو کښی
چه یوه پیغـــــله و دیړی
نوری پیغلی هــــوسیږی
شوق راویـــــــښ شی
ذوق راویـــــــښ شی
سا پیدا شی اومیدوکښی
ناوی جـــــوړه په شینګار شوه
د ښایــــــــست ډیــــوه شو بله

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګی تـــــــــوری په کجلو
په شپین مخ زلفې خـورې شوې
خـــــــــیالی ناوی سوه شمباله
د وصال د شـــــــــپی د پاره
ناوی جوړه شوه خو چا ته؟
یـــــــوړانده ته نابینا ته
چه ئی نه لــیــــــده جمال
بید دیـــــــــــداره،ووصال
چا ویل د ناوی کور کښی
فکر وکـــــــړئ ځه کوئ
نا وی چـــــا ته جو ړوئ
د سنګارمعـــــنا به ځه وي
چه کاته ورته هیڅ نه وی؟
که کوئ خوشی خــــواری
د ړوندو سترګـــــو د پاره
بل ویل دود او دستور دی
هـمـــــدغه د زمــــــــانی
چه ناویانی سیـــــنګاریږی
په پودرپه لب سیـــــــرینو
ځوم که ړوند وی که بینا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا راواج  دی د دنـــــــیا

د دنیا رســـــــــم اوراوج

نه بینا ګــــوری نه ړوند

د شهی شاهوکه ړوند دی

رواج کله دی  بیــــــــنا

د ړوندو بـازار د ی  دا

نه تبعیض نه امتیاز شته

په بــــازار کښی د ړوندو

مساوات ګوره ســـتاتـلی

لا رســــــــمو او رواجو

پکښی  نشته توپـــیرونه

د غنی او د فــــــــــقیر

دا عمٔی  او د بصـــــــیر

نه منطق دلــته چلیږی

نه د عـــــقل نصیحت

ماتوی د اقتصاد د ملا

درانه پیــــتی د رواج

زورور دي رواجــونه

ځکه نا وری دلـــیلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بابا

خپل نیـــــــــــــــکه ته نمـسو وویل بابا

احترام ته دې کووسبـــــــــــــــا بـــیګاه

بربه ناست ئې ښکـــلــووبه دې لاســـونه

جوړووبه درته ښـــــــــــــــه عبا قـــبا

سموو به ډې پښې چه چـــــــــیرته ځـې

ته به مخکښې یې روان اومـونږ تر شـــا

په ادب کښې به هیڅ نه کـــوو تقــــصیر

مبـــــــــــــــارکه ګڼو ستا د لاس امـسا

ستا وجود دي غـــــنیمت زومونږ دپـاره

ته نور هیڅ کړه کـــوه راته دعـــــــــــــا

نوم به ستــا وي اوکارونه زمونږ لاس کښې

تابه ساتو لکه خپل پیر اوپـــــــــــــیشوا

خوزمونږ کارکښې کارمه لره مونږ پریږده

خپلی خوښی ته چــه هغه کـــــــړو که دا

دا دستور دي چـــه زامن ئې شی د کار

د کاله واک واخـــــــتیارورکوی پلار

## ښامار

وائی چه یووخت په کوم لرې ځای کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ځنګله کښي یـــــو ښامار اوسیده

چه مسلط په یـــــــــواولس باندې و

له دهشتونو هیـــــــــــــبتونوسره

په هره ورځ به یـــوه سره ډولۍ کښي

یوه ښایسته پیغـــــــله د خلکو له خوا

ده ته پیشکش وړاندې کـــــیدله مدام

له افسوشونوحـــــــــــسرتونو سره

ډیری ښایسته جـــــونې قربانی شولی

په لونو ډیـــــــــــری میندی وژړیدې

د یو ښامار دخـــــــــوشحالۍ دپاره

خاورې ځوانۍ شـــــوې ارمانونوسره

څوچه یوه ورځ پـــــه دې لاره باندې

یوغیرتی ننګیالی ځـــــــــوان تیریده

د ځنګله خوا کښی ئې ډولۍ ولـــــیده

دانتظارله عـــــــــــــذابونو سره

ځوان چه د ظلم دا قیـــــصه واوریده

د یوی پیغلی له سروشـــــــــوندو څخه

د غضب اورئی زړه کښی تاو پــــیداکړ

د شجاعت له غــــــــورځنګونو سره

قسم ئې وخـــــــــوړ چه ښامار به وژنم

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا به خپل ســــــــــــــر قربانومه دلته
نه ځمه هر څه کــــــــــه پیښیږی راته
مرسته کوم له اولـــــــــــــسونو سره
ښامار چه راغــــــــي ده په ډیر شهامت
په تیره توره خـــــــوله ورڅیرې کړله
دښامارخوله څــــــــیروي هغه چه ځي
د بلاخـــولی ته جـــــــــــــرئتونو سره
د یـــــوه ځـــــــــــــوان له برکته ګورئ
یواولس خــــلاص شود ښامارله خولی نه
په یوه سر له لـــــــوي ښـــامار سره جنګ
ښائی د ځـــــــــــوان به همتونـــــوسره

## د غریب ګیلی

خوځیږی زمکه بیـــــــابیا هـــــرچیرته زلـــزلی دي
نارامه ټــــــــــول جهان دی شـــورونه غلــــغلی دي
د زمکی له زړه قیـــــــــــــــــد شـوی براسونه
چه پاتی دی لازړوکښی د خـــــــوار غریب ګــیلی دي
سینــــــــــــــــدونه کاریزونه ،چـــینی ویالي وچیږی
چه هیڅ وخت نه وچـــــــیږی یاوښکی یاوخولی دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرڅه د قدرت لاس کـــــــــښي په هروخت لوبيږی

چه وخت په وخت بدليږی د زورلاس کــښی آلې دی

شراب د زاړه خم دی پکښی هــــــــــغه نـشه ده

محــفل او ساقی بل شــــــــــــوبدلی ئی پياله دی

شعار يی نوی کړی چـــــــــه تيرشعارئی هيرکړو

آهنګ نوی سازنـــــــــــــوی هم نو قلقلی دی

زوړ نو ئی ګـــــــــــــــــرزولی لباس بدل کړی

زاړه ارباب سره اوس په بل نـــــــــــوم قوالی دی

اوس زور دی هـــــــوښيارشوی د خلکو وکيل شوی

د خلکو په نامه ئی پــــــــــــه خلکو څه حملی دي

چه خلک احمقان کــــــــړی، ړانده کړی شعـورونه

غلط پروپاکـــــــــــــــنډ دی غلطی مقالی دی

هماغه کبــــــــــــــــــــابونه هغه پلو چلو دي

هماغه اشتهاده هـــــــــــــــــــماغه نوالی دي

له شرمه کتی نشـــــــــــــــــــوبربنده ناروا ده

په غلاغلا ورته ګــــوری د چا سترګی چه غلې دي

قدرت اخلی ملت نـــــــــــــــــه ،ملی حکومتونه

ملی قدرت ته ځکه په تائې غـــــــــــــلبلې دي

چه نه کميږی هـــــــــــــيخ او لاپسی ډيريږی

يا زورد زورو يازمـــــــــــــــونږ حوصلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نورڅه نه پوهيږو پــــــــه دی ډير ښه پوهيږو

چه هرڅه راتـــــــــــه وائی زمونږه بلی بلی دی

,,خاکم بدهن،،وايو کـــــــه کوم وخت کښی ووايو

زمونږ په خولو کښی خاوری کندوانو کښی غلی دي

څاروی بی زبـــــــــانه بی خولی ورته مه وايه

چه خپل حق خــوړی نشي هغه خلک بې خولی دي

## حاضر جوابي

څو اديبان او شاعـــــــــــــــران په يوه لارو روان

هـــــــــــــــــــريوه بل ته ورکاوه د ظرافت امتحان

له هغی خوا راغله خـــــــــــــره يود بل څنګ ګراوه

د خرخاری ډير ښه مثال چـــــــــه شولودوی ته عيان

,,مجروح ,,الفت,,ته ويل ګوره!خروکښي هم شته الفت

,,الفت,,وی هو! لکه پـــــــه تاسو کښی چه زه يم آلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څوک څه پوهیږی؟

څوک څه پوهـــــــــیږی سبا څه راوړی ځانه سره
په کال کښی نه وی هغه څـــــه چه وی له آنه سره
زما نه پټه حامله وی خـــــــــــو خبره نه وی
څه ورسره وی چـــــــه په فکر کښي له سره نوي
څه راځی؟ څه کیږی د چـــــــا په لاس د چادپاره
شپه په تیاره کښی زیریوی څــــــــه د سبا دپاره
د توری شـــــــــــپی قهرمان یو اود سبا بل وي
تیارو کښي پټ بل څوک ظاهر کښی رهنما بل وي
لکه نطفه د انقلاب چــــــــه خپل طوفان نه وینی
د آغازسترگی د انجام قهرمـــــــــــانان نه وینی
ډیر تغیر ونه زمانی ســــــــــــره دنیا ته راځي
نوی فلمونه د زاړه ښـــــــــــــارسینما ته راځي
ځول ډیرامی جوړوی څـــــوک ئی تمثیلونه کوی
سیا ستونه په هــــــــــنر کښی ډیر کارونه کوی
تراژیدی کاندی کــــــــومیډی سپین کله تور ښئی
ډیر مقدس د خدای نعــــــــمت د سوټي زور ښئي
په پټه خوله لگیا خلکـــــــــــو ته زندان جوړوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په چیغو چیغوخلک کانه کړی چه پلان جــوړوی
دا په صحنه کښی ظاهری متحرک به څـوک وي؟
اصلی علت اصلی عامل پټ محرک به څوک وي؟
زمونږ نظر خویو څــــــــــو نوی قواري وینی
د لوبیدو نکو ناآشنا جعــــــــــــلی څیري وینی
بی روحه عکس حرکت کــــــــــوي خبری کوي
هرڅه چه کړی هغه پرده کښي مونږ نه لری کوی

## د محمد(ص) تعلیم

توره تیاره وه انسان ورک خپـــــلو وهمونو کښی و
شعور او فکر د تـــــــــــورتم په زندانونو کښی و
د ځان له سیـــــــــــوری ډاریده د ډاربنده و انسان
د خپل غلط احساس په رنګ رنګ عذابونو کښی و
د عقل ســــــــــترګی ئی ړندوی وي لارئی نه لیدله

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای ترینه ورک د طــــبیعت په طوفانونوکښي و

انسان بنده و دهـــــــــرشی،هرشی یُی خدای ګانه

د شیطانانود پـــــــــــیریانو طلسمونو کښی و

ډارئی هر بت ته پــــه سجده باندی و سرټیټ کړی

د سرلوړی فکرونـــــــــه کله په سرونو کښی و

خدای وغوښتل چه سړیتوب له ذلتونوکړی خلاص

دالوی اثرد محمد(ص)پـــــــــــه تعلیمونوکښي و

هغه تعلیم چه په الهام وحـــــــــي د ده نصیب شو

هغه تعلیم چه ډیرو لــــــــــوړو مقامونوکښي و

محمد(ص)خلاص کړو دبــــــــتانو بندګۍ نه انسان

لوقدرت ایښی لوی قـــــــوت دده لاسونو کښی و

چه په قرنوقرنـــــــــوئی پاتی شوه رڼا په جهان

هغه پاک نورد حرا غـــار د فاران غرونو کښی و

جهان حیران حران اِلــــــــــفتهإدده کارته کتل

څه چه راوړه هـــــــــــغه کله جهانونو کښی و

راغی جهان ته محمد(ص) چه وران جهان جوړ کړی

چه جوړوونکی د جهــــــان یعنی انسان جوړکړی

## د محمد(ص)عرفان

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان بدل شوچـــــــــــه جهان کښې محمد شو عیان

زمکه اسمان ته هسکه شوه زمکې ته ټیټ شو آسمان

په ده قایم شو ارتبـــــــــاط د اسمان زمکې سره

جبرئیل ده ته شو راښکـــــــــته په نزول د آقران

مور آمینه پلار عبدالله و هـــغـــه وخت کښې د ده

چه عبدالشمس عبـــــــــدللعزی عبدللکعبه و انسان

د ده دنیا نه لمر سره اونــــــــــه سپوږمۍ سره وه

شوه مسلمان ځکه دستـــــــــور واو د لمر بندګان

قریشومات کړد ده غـــــــابښ ده د قریشو غرور

چه ئې قریش و بنـــــــدګان مات ئې کړه هغه بتان

راغي دنیا ته عام الفیل کـــــــښې دا پیغام یې راووړ

چه ابابیل تباه کوی اصحـــــــــاب الفیل او پیلان

ده ظاکلمان کړه ذلیل اومظـــــــلومان یې کړه لوړ

ابوسفیان غوښته یوبل نه مدیـــــــــــنه کښې امان

هغه فقیرو،چه ئې ډیـــــــــــــروته ډیر څه وبښل

چاته رمې چاته سره زراوچـــــاته سل سل اوښان

خیرئې عامل ته ورسید اوترقـــــــــــیامته رسی

چه ئې تیاره زړونه رڼا کـــــــړه په رڼا دایمان

الفته !راووړ جهان لره کــــــــــــامل سړیتوب

سړی سړی شوه په رښتـــــــیا محمد په عرفــان

(c) ketabton.com: The Digital Library



بولهب تـــــــــــــــــــــره د محمد وه محمد ته پردی
د فارس سلمان ئی وباله د اهـــــــــل بتوپه شان
له حبشی بلال نه ئی ځــــــــارکړه د اسلام دپاره
نامسلمان مخ قریشی اوهـــــــــــاشمی سرداران
ده ویل مه کوئ فخـــــــــــــــرپخپل اصل ونسب
یوشان یوراز دی په هر څـه کښی د آدم فرزندان
بی له تقوا هیڅوک په هیڅــــــــــا برتری نلری
دي برابر عزت عجم سپـــــــین وی که تورمان

## د اسلام آغازاوانجام

زمکه د مکی وه بـــــــــــی اوبو او بی حاصله
نه پکښی یو ګل ونـــــــــــــــه ګیاه زرغونیدله
نه پکښی ویالی وې نـــــــــــه چینې نه بارانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه چادبهار د خــــــــــــــزان څیره لیدله

خلک و بیدیا کښی وږی تــــــــږی سرګردانه

نه و تمدن نه مدیــــــــــــــــنه چا پیژندله

ژوندوبی نعمته ســــــــــــریتوب بی کرامته

کورد خدای پکښی و د خـــطرطمع تری کیدله

خدای پکښي پیدا کــــــــــړ محمد د عبدالله نه

هغه چه ځانګـــــــــــــــوئی ملایکوځنګوله

هغه چه ئی عدل راوړ مـــشرشکانو ته توحد

هغه چه کعبه له بــــــــــــــتانو پاکـوله

هغه چه ئی عدل او انــصاف راووړجهان ته

هغه چه ددی دنیا څیــــــــــــره ئی بدلوله

هغه چه خواران او غریبان ئي عـزیزان کړه

هغه چه په فقر ئی شـــــــــاهی و پر ځوله

هغه چه ئی وران کړ د فــــــساد او ظلم کور

هغه چه د دنیا ئی بل دنــــــــــیا ته جوړوله

دی هغه یو ګل و،چه جهان پـــــری پسرلی شو

راغله دغه ګل ته د جـــــــــــــنت دباغ بلبله

رائی وړه نغمه ملکوتی خلک ئی راویښ کړه

غوږد شرق و غـــــــرب ته دا نغمه ورسـیدله

رائی وړه باطن تـــــــــــه رڼا ئی د معــرفت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننوته زړوته چــــــــــه بيا هـــيڅ ونه وتله

دا ښايسته رڼا چه شـــــوه ظاهره په انسان

حوره د جنت ئېـــــــــى تجلئ ته پخسيدله

جوړه مدينه کـــــــــــړه له يثرب نه محمد

ده داسلامی تـــــــــــمدن ستـه کيښودله

زړونه ئې قوی کـــــړه په ايمان دايماندارو

ځکه به يو تن لســــــــــوته ماتی ورکوله

جوړ ئې مسلمان نه د جهان لوی قهرمان کړ

هرځای داسلام جـــــــــنده په سر ورپيدله

لوی جهاد شروع شــــــوچه په الله اکبر به

زمکه له هـــــــــــيبته لکه پاڼه ريږديدله

نن هغه قوت کله پـــــــــاتی مسلـمان کښی

هغه روحيه مســــــــــــــلمـانانو وبايلله

وينو کښی اوس نه لامبی مسلم شود اوبو مهی

نه ورکوی سرخو سرســــــــــايه ئې ومنله

نه کوی جهاد نفل کـــــــوی او وظيفی کوی

مفت ثواب ته ملا مسلـــــــــــــمانانو وتړله

تش د خولی په ذکرخدايه ستا خوښی رضا غواړی

ستا رضائې هرځـــــــــــــه نه ارزانه وګڼله

هغه طاعت نکړی چـــــه پکښی يوڅه تاوان وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونځ کړی خوذکات بــــــــاندی ئې خیته واچوله

هم د ظالم لاس ښکلـــــــــــــوی هم دخدای کتاب

هم کښینی واعـــــــــــــظ ته هم که ډمه ګډیدله

هم څکی د زمزم اوبــــــــه اوهم د مظلوم وینی

خان کوی هم دا او هــــــــــــم هغه کله ناکله

نیسی لاروژی خــــــــــــوناتوی ئې په حرامه

هیڅ وخت ئې حرامــــــــــــــونه رژه ونه نیوله

هغه ښه سړی هم نشته اوس په کوراو کلی کښی

ښه به ئې چه ښکاره کـــــــــول ګناه به ئې پټوله

رابه غی مسجد ته چه تــــــــــوبی به ئې ویستلی

پټ به شوله خلکو چـــــــــــه توبه به ئې ماتوله

اوس خومجاهر فـــــــــاسق ((الفته))هیڅ نکړی

اوس خو رقاصه لــــــــــوڅه میدان ته ووتله

دامسلمانی خوآخـــــــــرت کښی په کاریږی نه

داسی مسلمان نه خــو دنیا کښی څه جویږی نه

## په ځان مینه!

په ځان میـــــــــــنه!په جانان شه مین

په قام میــــــــــــنه! په افغان شه مین

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه چه هرڅـــومره عالی وی ښه ده

په سپوږمۍ ستـــــورو دآسمان شه مین

مینه کښی فرق د شـرق وغرب مه کوه

په صبحدم،ماښام یــــــو شان شه مین

ښکلا که لـــــــــوړو ژورو کښی وي

په غرو،درود بدخـــــــــشان شه مین

هواکښی وکوره د ویځـــــــــــواوښان

هم په شبنم هم په بــــــــاران شه مین

د طبیعت ښایسته هروخت کښی ګوره

هم په بهار ه په خـــــــــزان شه مین

هرڅوک په خپله معـــــشوقه وی مین

په عشق مین شه!په عـــرفان شه مین

ګبروترساوی که وی خـــپل که پردی

په ښایسته نوع دانســــــــان شه مین

پریږده بلبل چه په ګل مـــــینه کوی

ته هم په ګل هم په باغـــــبان شه مین

یوازی خپله باغچه مه ســــــتایه تل

((الفته))راشه په جهـــان شه مین

(c) ketabton.com: The Digital Library



# محیط اوانسان

سوزوی مواوبه هم چــــه په جوش راشی

اوبه اورشي چــــه محیط يې شی سوراور

په هر شی کښی  د محیط تاثیرښکاره دی

وي بی زهرو چــه اوبو کښی وی منګور

په اواربسترکښی سیــــــند درومی آرامه

خو په چړ کښی ئی بیا ګـــوره شروشور

لوګی اورڅخه پیداديږ خــــــو اورنه دي

د محیط اغـــــــــــــیزه کله لري مور

له یوه پښته رڼـا او لـــــــــوګی دواړه

د یوه مخ منـــــــــــــور او د بل تور

محیط چا نه چنګیزه جوړ چانه بودا کړ

د محیط مخلوق هـــــــم فخر هم پیغور

کله کله څوک پیـــداشی په محیط کښی

چه محیط ورپسی ځـــي که ځي هرلور

زورورانسان په هـــر څه زورور دي

په محیط په زمانــــــــــه اوداسی نور

داانسان دی چه آرام محیط نارام کړی

یا نارامه محیط کــــــړی د سکون کور

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هر څه کښي دي عــــــيان تفاوتونه
يوشان نه وي د  څـــيړی اولوخی اور
انسانانو کښی شته څــومره ډير فرقونه
نه دي يو راز اوســــيدونکي د يو کور
دګاندي کارله ټاګــــــوره پوره نه دی
ګاندی جی هم نشــــی کړی کار د ټاګور
بازنه مه غـــــــــواړه نغمه  دبلبلانو
مه کوه په توره لــــــــوکړه ئي په لور
د چالاس توری ته جـــوړ د چا هنرته
دهرلاس د ګوتو کارنـــــــه دی انځور
انسانی قوه خوپوهــــــــه ده تميزدي
حيوانی قوت دي بی تــــــــميزه زور

## عمل اوعکس العمل

مينوژوب اغوستـــــــل ښه که بد عمل دي
د دلاق اوچـــــــادری عکـــس العمل دي
د ډير قيد نتيجه ډيــــــــــــره آزادي ده
د روحي عقيده ساديـــــــــزم ته تکل دي
ډيرفشار کله شـــــــــــی ډيردوام کولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شدیدې شکـــــــــــــنجی عمراقل دي

که افراط دی که تفریط یو د بل سرخوری

هریوبل ته قـــــــــــبرکن د بل اجل دي

حقیقت کښی خپل خان وژنی چه بل وژني

مري هغه اورچه سیـــزلی ئی ځنګل دی

که نن وی ستـــــــا رسی او د بل غاړه

دا رسی سبا ته ستـــــــا د غاړی ول دی

انتقام ته تږی زړونــــــــــــه ترڅوتږی

باید یخ شی هغه زړه چه اور پری بل دی

## سوټي

د سوټي او سیاست خــــــــــــود قدیمه آشنائی ده

د سوټي په زور ئی کړې په هروخت کښی آغا ئی ده

په لیمو راننباسی ناتــــــــــــــراش سوټي په زوره

وائی سترګوکښی ځـــای ورکړی دادسترګوسلائی ده

چه ډب نه وی ادب نه وی د سوټي د خولی منطق دی

ډبولو راښودلې ډبـــــــــــــــــــــیدلی دانائی ده

ظالمانو یو وهلی ټکـــــــــــــــــــــــولی او رټلی

زړه کښې ویره سر کښی ویره زمونږبرخه ګدائې ده

ضرباضربوزده کړی په مونـــــــــږضرب زبانی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ضربی قوه کښی ضرب شته د سکی ضرب کفائی ده

چه وهی موراته وائی ګـــورئ اوس به موسړی کړم

په وهلوسړی کیــــــــــــږو د زور لښته مو دائی ده

د موسی امسأ چینی کــــــــړی له وچ کانی نه روانی

د دهقان لاس کښی یی کړی قـــلبه سمه په غوائی ده

ګدا ځان پری دی ساتلی د خــرووړی سپی له خولي نه

یو ړانده لره کړی ډیــــــــــــــــره ښه رهنمائی ده

کله شی خلی د سترګو بیــــــــــنا سترګی ړندی وي

د رنجو سلائی سترګـــــــــــو ته ورکړی زیبائی ده

چه سوتی سلائی بــــــــــــــولی اوله چانه شرمیږی

ښه په زورکښی راروانـــــــــه یاره ستا بیحیائی ده

## خپل او پردي

لری بیل بیل رنګــــــونه د یو چمن ګلان

یوشان په ګل میـــــن دي دهرځای بلبلان

بلبل کارغه نه بیل شـــــود ذوق په اختلاف

د ګلومینی خپل کـــــــــــــړه بلبلي پتنګان

خپلوي د سیرت ښه ده خـــپلوی نه صورت

خیره کښي خوپردی هـم ښکاری کله یوشان

رنګ شکل ته مه ګوره مغنئ نیسه نظرکښی

ظاهرکښی لکه غـــــــنی ښکاریږی غنډلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اصل کښی که یودی بیا هم سره یونه دی
چیرته د پسرلی بـــــاد او چـیرته د خزان
د سرسترگی جدادی د زړه ســــترگی جدا
ويښتوب د سترگو کله ويښتوب دی د وجدان
طوفان دباد که هرڅومره قـوی دی په ظاهر
قوی په حقیقت کښی نسیــــــم دی د نیسان
د خیراود شراصل که یوهـــم وی یونه دی
لطیفه وږمــــــــــه ده همجنسه د طوفان
په وینه باندی مینه د دین شــــــوله غالبه
قربان عقیده نه هــــــــــرڅه کړه مسلمان
بلال حبشی ورور شو مسلـمان سره د فارس
مومن خپل دی عــــــــرب وی که افغان
پردی شو محمد نه خپـــــــــل تره ابولهب
زید ځوی د محمد شـــــو چه رائِی ووړ ایمان
پردی چه وی له خدایه خپل نه دی د مــومـن
د نوح ځوی گوره نه دی د نــــــوح د خاندان
په مینه پردی خپل شی بی مینی خپل پردی شی
په دی راز ښه پوه شـــــوی د زړونو خاوندان
که زړونه مرور وی که نه وی ٍالفـتٍ زړو کښی
که شي غاړه په غـــــــاړه پخلا نه دی یاران

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شاعرترنم

په موجونوسپور تیــــــــتېږی او جګیږی

ترقی ده د موجـــــــــــــونو تلاطم

مساوات د نراو ښځی بــــــه همدا وی

چه میرمینی لـــــــــــري حق د تقدم

که هرڅه شــی وروربه نــشی د خــوارانو

نازولی ځـــــــــــوی د ناز او تنعم

د قیامت انتظار څـــه کړئ همدااوس شته

چاته حـــــــــــوری غلمان چا ته جهنم

وخت د قیل اود قال نه دی حال ته ګــورئ

اوس د حال پـــه ژبه کـــــــیږی تکلم

ژبه بنده قـــلم بند فـکر بــــــــندی دي

د حال ژبه بنـــــــــده نکـــړی تظلم

غمازان بړبړ غـــــږیږی نورتــول غلی

یوشاعر د ځـــــــــان سره کړی ترنم

خلک ځکه وی چوپ ناست ماتمخانه کښی

چوپتیا ده دیـــــــــــر ښه اظهار د تألم

څه چه بولي واقــــــــعی او حقیقی څوک

توهم دي تــــــــــــــوهم دي توهم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## امیدونه راژوندی کړه

امیدونه راژوندی کړه خــــــــاورو لاندی مایوسی کړه
په نطفه کښی دروغ ورټني مړه مری کښی چاپلوسی کړه
د حافظ سوتي چه لگی د یــــــــــــــوه بل په سرونو
دا کوتک کوتکماری خــــــــــو دې ورې سملاسی کړه
لوښه توره ژرپخیړی یــــــــــا زنگ خوری یا ماتیږی
تیکی دی لباس د توری خپــــــــــــله توره لباسی کړه
قدرت ښه دی ورسره چه هم هـــــــنروی هم حکمت وي
چه ئې نور په جبر کاندی هغه کـــــــــار په شابسی کړه
توروي دي زړه له سپــــــــــــینه ورځ درته شپه ښئ
ورکه دارنیا دښمنه تکه تــــــــــــوره جاسوسی کړه
چه ولس دپاره کار کــــــــــړی دا ولس په خیر او گټه
ولس هم درسره مل کـــــــــــــړه رویه هم ولسی کړه
مرورخلک پخلا کړه قحـــــــــــطی ورکه د خندا کړه
بړوسي شونډی په مسکا کـــــړه بی سببه ډار پانسی کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عصر دلبره!

ته مــنظوردهـــــر نظر ئې — ته د دی عصرد لـــــــــبرئې
مبــــارک شـــه!مبارک شه! — پـــه خـــوبانوکښی افسرئې
دالماس تـــــاج دې په سردي — آراســــــته پـه زر،زيـــورئې
د ښکلاثــــــــاني دې نـــشته — معـطـرمـــشک وعــــنبر ئې
ټول دې تل ثـــنا صفت کـړی — له هــــرچــاڅخه بهــــــتر ئې
عیب دې څــــوک لیدلی نشی — ســــرترپایـه ټـول هــــنر ئې
خوشــــــپی ورځی درته وائې — آیا د نــه هــــــم خـــــبر ئې
چه ښکلا وی یو څـــــوورځی — چه پر يـوزی هـــــغه لمرئې
دا څیـــــــــره نه پاتی کیږی — که هرڅــــــو ښکلی بشر یې
د ځګ غـــــره په ځګه ځوکه — زيړی لــــــمر د مازد یګر ئې

## جوی انقلاب

دا هواد طوفــــــــــــــــــانونوهیولئ ده
هندوکش پامیرد لــــــــوی طوفان ماوی ده
زلزلی که وران کـــــړه خلم کښی کورونه
د سیلاب خواهــــــم سړه په مونږ بیا بیا ده
توري لړې تل زمونـــــږ په سر و ګرزی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګړزوګړوزدې تـــــــندریزه یې بریښنا ده

له بارانه ئې سیـــــــــــلاب راځي د مخه

نه سبا نه بیګا ګـــــــــــــوری څه بلا ده

خلک وړی کورونه وړی فصلونه هم وړی

د عمل د آزادئ دغـــــــــــــه معنا ده

د چا ځوی مړ د چـــا پلارمړ د چا وروزمړ

کونډی ژاړی د ځـــــــوی مړو واویلا ده

مصیبت په مصـــــــــــیبت غم په غم اوري
دا فظا د غم بـــــــــــــاران سره آشنا ده

د خوښیوکورئې وران کړزړونه یې مات کړه

هیره کړې خولو خـــــــــندا شونډو مسکا ده

مهار کړی هیچا نـــــــــــــه دي سیلابونه

څومره مطـــــــــــــــــلق العنانه اوریا ده

له بډایه په څنګ ځی خـــواران ئې چټ کړه

نه وړی هغه سرمـــــــــایه چه د دربار ده

د جوی انقلاب زړه پـــــــــه مونږ سوړ نشو

که په کور کښی مو هـــــــــر څو سره سنا ده

د فضا تسخیر تـــــــــــــه ملا بشر تړلې

فضا ځکه قهر جـــــــــنه په هـــــر چا ده

پاکستان د هنداو نـــیپال کښی سیــــــلاتونو

تباهی ته ملا تـــــــــــړلی د دنـــــیا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



زلزلی د چین شمال کــښی ځـــــای نـیولی

په ققفاز کښی زمکه هم په ریږدیـــــــدا ده

فلیپین کښی زلزلی قـیامت جـوړ کـــــړی

ناقراره نارآرامـــــــــــــــــه آســـیا ده

زمکه څه ویـــــنی په مخکښی چه له ډاره

لکه پاڼه هر وخــــــت ریږدی وارخطا ده

چهله قهره زړګـــــــــی ډک د طبعیت شی

تشوی ئې په مونږ، مونږ کښي څه ګناه ده

نفس ظالم تربـــور ظالم دي خان ظالم دی

له هر چا ظـــــــــــــــــالمه لا هوا ده

چه په دغسی هـــوا کښی یې غټ شوي

سره !ستا مغزو کـــښی هم دغه هوا ده

۱۳۵۵ اسد هـ ش

## نوی ګل

د حاکم نوم چه ولـــــــــسوال شو تحول دي کنه

ددې ملی نهضت هـــــــــــمدغه نوی ګل دي کنه

دیموکراسي ده فرق د ســـــپین اوتور نشته ګورئ

نظرئې یو شان په سپین مخ او تور اوربل دي کنه

کله وي وار د ابــــــــــــــــــی کله د ابا د لته

حق مساوي د ګلاآغـــــــا او بي بي ګل د ي کنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پرون کونډه  که نن بــــــیا په ډنګ وډول ودیږی

که ابتکار نه وي نغمه او ســـــــــازخو بل دي کنه

د غرونوتور دیوان ئې واورو باندی سپین وښودل

تعجب مه کوئ بل ځـــــــای نه دي کابل دي کنه

جهل لوي عیب دي عوامــــــــونه د خاصو خلکو

د عارف جهل،جهل نـــــــــه دي تجاهل دي کنه

د خوارغریب غفلت هر چاته ځومره بد ښکاریږی

چه بد نه ښکاري د خـــــــــوبانو تغافل دي کنه

ستا ګناه نه ده ولــــــــــــسواله ملامت نه ئې ته

دا چه په مونږ هرڅه کوي زمونږ تحمل دی کنه

ته دیموکرات ئې خـــــوله تانه د کتاتور جوړول

د بل چاکار نه دي داکـــار زمونږه خپل دی کنه

## آزادي

آزادی ده ژونــــــــــدانه لره اکسیر

لوی دولــت دي ورســره خیر کسیر

په عادي نــظر کتــل ورته ګناه ده

ناپوهی ده د وجـــــــدان او دضمیر

پت عزت د ژونـــــدانه آزادی بویه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې له دې وی ژوند ذلیل خواروحقیر

آزادي د تن اوغـــــړو څه پکارده

که دي فکروی تــــــړلی په ځنځیر

چه آزاده فکر لری په جیلخانه کښی

دی ازاد دي نه غـــلام غوندی وزیر

په تش لاس ازادی نشي څوک ساتلی

ازاد نه دي بــــــل ته اړ وړی فقیر

چه وطن اوملــک آزاد وی کله ښائیی

چه یٔی خلک د څـــو تنو وی اسیر

باداري د زور اوزرو چه کړی ورکه

ده هــــــــــمدغه آزادي وړ د تقدیر

## خپلواکی

د ملی ژوند اساس خپـلواکی ده

د ملی غرور ژوند ،سرلوړی ده

د څوتنوخـــــــوکسو خو،نه ده

پکښی برخه د هـر هرسړی ده

حفاظت یٔی پــــــه سر او په مال

دهر چا وظـــــــیفه ایمانی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تش لاس ئې ساتنه ده ګرانه

لوی دښمن ئې خواری بیوسی ده

په ملی قـــــدرت لاس ته راغلې

په مــــــــلي اتحاد  د متکي ده

چه هرخـــــومره ملت متحد وي

خپلواکی ئې هغـــومره قوی ده

په ملي تربیه قـــــــوت مومی

په ملي روحیه کښی خوندی ده

ټینګ اساس ئې ملي اقتصاد دی

خپلواکي نورو نــــه بې نیازی ده

په ملی ثقافت قـــــوم ژوندی دی

کلتوری سرامایــــــه ئې هستی ده

راشئ !ورکه خواری کړو وطن نه

ترقۍ لورته هڅه حـــــــــتمی ده

ورکه کړئ بـــــــاداری و ځوتنو

خپلواکی  دفرد فـــــرد آزادی ده

په آزاد او خـــــپواکه وطن کښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



روا کله پـــــــــه بل باداری ده

# زما وصیت

غواړمه چـــه مــرگ مي وي په شان د يو فقير
نــه دې پکښی ويـــــــروي نه د خلکو ډير بهير
نه دې راډيــــــــوکښی وی زمامرگ اعـــلان
نه دې وي زما په قـــــــبر خـان وبيگ اومير
خاوروتــه دې وســـــــــــپاری هغه دهقانان
هغه چــه کـــــــــــری تخم اووړي خير کثير
نورڅه نه وړم عجز اونياز به وړمه خدای تـه
رحم او کـــــــرم ته به ئی وړم عذر و تقصير
لاس کښی که څه نه و،چه نهروړی ماړه کړمه
زړه کښی خوځه و،چه ئی په دوی کړمه زهير
ښه به وی که لـــــــبړمی دا تياره قبررڼا کاندی
که می رڼا کــــــړی وی د چـا ذهن اوضمير
مکړئ دريأ ديـــــــــــــاره ماپسی خيرات
ځان پسی نه غــــــــواړم خـيراتونه چشمگير
ورکړئ غـــــــريبانوته که وی زماڅـــــه مـال
پټ غوندی له خلکو چه پکښی نــــه وی تشهير
خدای ته ډير نږدی وي له هـــــرچا څخهٍ الفتهٍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه چه دنیا کښی وی غـــــــریب خواروحقـیر

په ۱۲/۱/۱۳۹۲نیټه پای ته ورسید ټایپینګ ئې

ما په دوه پنځوس کلنۍ کښی کمپوتر زده کړه شروع کړه ،او کمپوتر می د خپل ضرورت په اندازه زده کړه ،او تایپینګ می چه کله زده کاوه ځان سره می وویل راځه د الفت صیب دا کتاب چه زما ډیرخوښ دی د کمپوتر صفحی ته راوله ،همداسی می وکړه ،ټایپینګ می زده شو .کتاب کمپیوتری شو.

د یو بیطرفه افغان په صفت هرافغان ته چه په هر نظراوفکروی باید یوځل داکتاب مطالعه کړی، بیا ئې نظرخپل دی

په ډیردرنښت  دوکتورمیرابرار(کمال) ملک زی د مرزامحمدابراهیم خان ملک زی ځوی د لغمان د ولایت د قرغیو دولسوالي

د برکمالپور د حاجي صاحیبانود کلي څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه چې مو ولوست

# پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**